

# نجم القرآن

## د قرآن کریم اسانه ترجمه او تفسیر

ډاکټر محمد عثمان نظامي

سپاره نمبر 9

بسم الله الرحمن الرحيم

۞ قَالَ ٱلۡمَلَأُ ٱلَّذِينَ ٱسۡتَكۡبَرُواْ مِن قَوۡمِهِۦ لَنُخۡرِجَنَّكَ يَٰشُعَيۡبُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ
مَعَكَ مِن قَرۡيَتِنَآ أَوۡ لَتَعُودُنَّ فِي مِلَّتِنَاۚ قَالَ أَوَلَوۡ كُنَّا كَٰرِهِينَ ﴿٨٨﴾ قَدِ ٱفۡتَرَيۡنَا
عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا إِنۡ عُدۡنَا فِي مِلَّتِكُم بَعۡدَ إِذۡ نَجَّىٰنَا ٱللَّهُ مِنۡهَاۚ وَمَا يَكُونُ لَنَآ أَن نَّعُودَ
فِيهَآ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ رَبُّنَاۚ وَسِعَ رَبُّنَا كُلَّ شَيۡءٍ عِلۡمًاۚ عَلَى ٱللَّهِ تَوَكَّلۡنَاۚ رَبَّنَا ٱفۡتَحۡ
بَيۡنَنَا وَبَيۡنَ قَوۡمِنَا بِٱلۡحَقِّ وَأَنتَ خَيۡرُ ٱلۡفَٰتِحِينَ ﴿٨٩﴾ وَقَالَ ٱلۡمَلَأُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن
قَوۡمِهِۦ لَئِنِ ٱتَّبَعۡتُمۡ شُعَيۡبًا إِنَّكُمۡ إِذًا لَّخَٰسِرُونَ ﴿٩٠﴾ فَأَخَذَتۡهُمُ ٱلرَّجۡفَةُ فَأَصۡبَحُواْ
فِي دَارِهِمۡ جَٰثِمِينَ ﴿٩١﴾ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ شُعَيۡبًا كَأَن لَّمۡ يَغۡنَوۡاْ فِيهَاۚ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ
شُعَيۡبًا كَانُواْ هُمُ ٱلۡخَٰسِرِينَ ﴿٩٢﴾ فَتَوَلَّىٰ عَنۡهُمۡ وَقَالَ يَٰقَوۡمِ لَقَدۡ أَبۡلَغۡتُكُمۡ رِسَٰلَٰتِ
رَبِّي وَنَصَحۡتُ لَكُمۡۖ فَكَيۡفَ ءَاسَىٰ عَلَىٰ قَوۡمٖ كَٰفِرِينَ ﴿٩٣﴾ وَمَآ أَرۡسَلۡنَا فِي قَرۡيَةٖ
مِّن نَّبِيٍّ إِلَّآ أَخَذۡنَآ أَهۡلَهَا بِٱلۡبَأۡسَآءِ وَٱلضَّرَّآءِ لَعَلَّهُمۡ يَضَّرَّعُونَ ﴿٩٤﴾

۞ قَالَ (شعيب عليه السلام ته) وويلي ٱلۡمَلَأُ مشرانو ٱلَّذِينَ هغو مشرانو ٱسۡتَكۡبَرُواْ چې کبرجن وو مِن قَوۡمِهِۦ د هغه عليه السلام د قوم لَنُخۡرِجَنَّكَ چې حتماً به مونږ وباسو تا يَٰشُعَيۡبُ اى شعيب عليه السلام وَٱلَّذِينَ او هغه خلک(به هم وباسو) ءَامَنُواْ چې ايمان يې راوړى دى مَعَكَ ستا سره مِن قَرۡيَتِنَآ د خپل کلي نه أَوۡ لَتَعُودُنَّ يا به خامخا داخليږئ فِي مِلَّتِنَاۚ زمونږ په دين کې (يعني يا به زمونږ د کلي نه وځئ او يا به تاسو هم زمونږ دين او طريقي منئ) قَالَ هغه عليه السلام (ورته) وويل أَوَلَوۡ كُنَّا كَٰرِهِينَ آيا که مونږ(دا دواړه کارونه) بد ګڼو(يعني که مونږ نه ستاسو غلط دين او طريقې منو او نه د کلي څخ وځو،نو آيا تاسو به په زور په مونږ خپلې خبرې

منئ؟لیکن)﴿۸۸﴾ قَدِ بیشکه ٱفۡتَرَيۡنَا جوړ کړي به وي مونږ عَلَى ٱللَّهِ په
الله تعالی باندې كَذِبًا دروغ إِنۡ كه چیرته عُدۡنَا داخل شو مونږ فِي
مِلَّتِكُم ستاسو په(غلط) دین کې بَعۡدَ إِذۡ پس د هغې چې نَجَّىٰنَا چې
نجات راکړو ٱللَّهُ الله تعالی مِنۡهَاۚ د دغې(غلط دین)نه(یعنې شعیب علیه
السلام د مدین مشرانو ته وویلې که مونږ ستاسو په غلطو طریقو او دین
کې داخل شو نو دا خو داسې شوه لکه ما چې په دروغو د نبوت دعوه
کړې وه،او په الله تعالی باندې مې دروغ جوړ کړي وو، چې زه الله تعالی
تاسو ته خپل نبې رالیږلئ یم) وَمَا يَكُونُ او نه ده ممکنه (او ناممکنه ده)
لَنَآ مونږ ته أَن چې نَّعُودَ داخل شو مونږ فِيهَآ په دغه(غلط دین)کې
إِلَّآ مگر أَن يَشَآءَ چې وغواړي ٱللَّهُ الله تعالی رَبُّنَاۚ رب زمونږ.
وَسِعَ (او)احاطه کړئ دی رَبُّنَا رب زمونږ كُلَّ شَيۡءٍ هر شی عِلۡمًاۚ
په علم(خپل کې) عَلَى ٱللَّهِ (او) په الله تعالی باندې تَوَكَّلۡنَاۚ توکل کړئ
مونږ (یعنې ځانونه سپارلې دي مونږ په الله تعالی باندې،او بیا ئې دعا
وکړه چې!) رَبَّنَا ای ربه زمونږ ٱفۡتَحۡ فیصله وکړه بَيۡنَنَا په منځ
زمونږ وَبَيۡنَ او په منځ قَوۡمِنَا د قوم زمونږ کې بِٱلۡحَقِّ په انصاف
باندې وَأَنتَ او ته خَيۡرُ ښه ٱلۡفَٰتِحِينَ فیصله کوونکئ یې.﴿۸۹﴾ وَقَالَ
(او د شعیب علیه السلام په جواب کې) وویلې ٱلۡمَلَأُ مشرانو ٱلَّذِينَ هغو
مشرانو كَفَرُواْ چې کافران وو مِن قَوۡمِهِۦ د هغه علیه السلام د قوم
څخه(یعنې کله چې شعیب علیه السلام د هغوی د اخطار نه ونه ویریدلو او
سخت جواب ئې ورکړو،نو کافرانو مشرانو د قوم خلکو ته وویلې!) لَئِنِ
که چیرته ٱتَّبَعۡتُمۡ تاسو پیروي وکړئ(که چیرې تاسو تابعدارې وکړئ)
شُعَيۡبًا د شعیب علیه السلام إِنَّكُمۡ بیشکه تاسو به إِذًا لَّخَٰسِرُونَ په هغه
وخت کې تاوانیان یئ.(یعنې:اول دا چې: د پلار او د نیکه د دین نه به
واوړئ،دا مو دینې تاوان شو،او دوهم دا چې: دا نبې به تاسو د دنیا د کار

نه وباسي،کله به درته د لمونځونو حکم کوي،کله به درځخه زکات
غواړي،کله به مو د خواهشاتو نه منع کوي بنديزونه به دربانديږ لږوي
چې دا حرام دي او دا حلال،لکه چې اوس هم مونږ ګورو چې اکثره دنيا
پرست خلک ديني کارونه تاوان ګڼې.نو د الله تعالى عذاب ته يې دعوت
ورکړو!) (۹۰) فَأَخَذَتۡهُمُ پس ونيول هغوى ٱلرَّجۡفَةُ يو لړزونکي
افت(زلزلې) فَأَصۡبَحُواْ نو شو هغوى فِي دَارِهِمۡ په خپلو کورونو کې
جَٰثِمِينَ پړمخې نسکور پراته (يعني په خپلو کورونو کې پړمخې مړه
پراته وو،نو)﴿۹۱﴾ ٱلَّذِينَ هغو خلکو كَذَّبُواْ شُعَيۡبٗا چې شعيب عليه السلام
يې دروغجن ګڼلئ وو كَأَن لَّمۡ يَغۡنَوۡاْ فِيهَاۚ (داسې هلاک شول) لکه هغوى
چې په دغه(کلي) کې هيڅ اباد نه وو(يعني لکه پخوا چې په دې کلي او
کورونو کې بالکل څوک اوسيدلي نه وو.) ٱلَّذِينَ (او) هغه خلک كَذَّبُواْ
شُعَيۡبٗا چې شعيب عليه السلام يې دروغجن ګڼلئ وو كَانُواْ هُمُ ٱلۡخَٰسِرِينَ
همدوى تاوانيان وو. ﴿۹۲﴾ فَتَوَلَّىٰ نو شعيب عليه السلام مخ
وګرځولو(روان شو) عَنۡهُمۡ د هغوى څخه وَقَالَ او (ورته ئې) وويلې
يَٰقَوۡمِ اى زما قومه! لَقَدۡ بيشکه أَبۡلَغۡتُكُمۡ ما ورسول تاسو ته رِسَٰلَٰتِ
پيغامونه رَبِّي د رب خپل وَنَصَحۡتُ لَكُمۡۖ او ستاسو خير خواهي مې
وکړه(خو تاسو د الله تعالى پيغامونه ونه منل) فَكَيۡفَ نو څنګه ءَاسَىٰ
زه افسوس وکړم(نو څنګه زه خفه شم) عَلَىٰ قَوۡمٖ كَٰفِرِينَ د کافرانو په
قوم باندې(چې د الله تعالى پيغامونه يې نه دي منلې)﴿۹۳﴾

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا فِي قَرۡيَةٖ مِّن نَّبِيٍّ إِلَّآ أَخَذۡنَآ أَهۡلَهَا بِٱلۡبَأۡسَآءِ وَٱلضَّرَّآءِ لَعَلَّهُمۡ
يَضَّرَّعُونَ ﴿۹۴﴾ ثُمَّ بَدَّلۡنَا مَكَانَ ٱلسَّيِّئَةِ ٱلۡحَسَنَةَ حَتَّىٰ عَفَواْ وَّقَالُواْ قَدۡ مَسَّ
ءَابَآءَنَا ٱلضَّرَّآءُ وَٱلسَّرَّآءُ فَأَخَذۡنَٰهُم بَغۡتَةٗ وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ ﴿۹۵﴾ وَلَوۡ أَنَّ أَهۡلَ
ٱلۡقُرَىٰٓ ءَامَنُواْ وَٱتَّقَوۡاْ لَفَتَحۡنَا عَلَيۡهِم بَرَكَٰتٖ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلَٰكِن كَذَّبُواْ
فَأَخَذۡنَٰهُم بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ﴿۹۶﴾ أَفَأَمِنَ أَهۡلُ ٱلۡقُرَىٰٓ أَن يَأۡتِيَهُم بَأۡسُنَا بَيَٰتٗا وَهُمۡ

نَآئِمُونَ ﴿٩٧﴾ أَوَأَمِنَ أَهۡلُ ٱلۡقُرَىٰٓ أَن يَأۡتِيَهُم بَأۡسُنَا ضُحٗى وَهُمۡ يَلۡعَبُونَ ﴿٩٨﴾
أَفَأَمِنُواْ مَكۡرَ ٱللَّهِۚ فَلَا يَأۡمَنُ مَكۡرَ ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡقَوۡمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ﴿٩٩﴾ أَوَلَمۡ يَهۡدِ لِلَّذِينَ
يَرِثُونَ ٱلۡأَرۡضَ مِنۢ بَعۡدِ أَهۡلِهَآ أَن لَّوۡ نَشَآءُ أَصَبۡنَٰهُم بِذُنُوبِهِمۡۚ وَنَطۡبَعُ عَلَىٰ
قُلُوبِهِمۡ فَهُمۡ لَا يَسۡمَعُونَ ﴿١٠٠﴾ تِلۡكَ ٱلۡقُرَىٰ نَقُصُّ عَلَيۡكَ مِنۡ أَنۢبَآئِهَاۚ وَلَقَدۡ
جَآءَتۡهُمۡ رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ فَمَا كَانُواْ لِيُؤۡمِنُواْ بِمَا كَذَّبُواْ مِن قَبۡلُۚ كَذَٰلِكَ يَطۡبَعُ ٱللَّهُ
عَلَىٰ قُلُوبِ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿١٠١﴾ وَمَا وَجَدۡنَا لِأَكۡثَرِهِم مِّنۡ عَهۡدٖۖ وَإِن وَجَدۡنَآ أَكۡثَرَهُمۡ
لَفَٰسِقِينَ ﴿١٠٢﴾

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا او نه دی لیږلئ مونږ(او نه دی مبعوث کړئ مونږ) فِي قَرۡيَةٖ په کوم کلي کې مِّن نَّبِيٍّ یو پیغمبر إِلَّآ مګر (دا چې) أَخَذۡنَآ آخته کړي دي مونږ أَهۡلَهَا اوسیدونکي د هغه(کلي) بِٱلۡبَأۡسَآءِ په مالي تکلیفونو باندې وَٱلضَّرَّآءِ او ځاني تکلیفونو باندې لَعَلَّهُمۡ د دې دپاره چې دوی (الله تعالی ته) يَضَّرَّعُونَ زارۍ او عاجزۍ وکړي(یعنې چې د پیغمبر او د الله تعالی د پیغامونو منلو ته تیار شي،ځکه چې په مالي او ځاني مشکلاتو کې په انسان کې کبر او غرور نه وي،او حق په آسانتیا سره منې.خو که په دې تدبیر سره به دوی ایمان رانوړو،نو) ﴿٩٤﴾

ثُمَّ بیا (به) بَدَّلۡنَا بدل کړو مونږ (حال د دوی) مَكَانَ په ځای ٱلسَّيِّئَةِ د بدحالی ٱلۡحَسَنَةَ خوش حالی ته (یعنې مالي او ځاني تکلیفونه به مو ترې لرې کړل،دولتونه،اولادونه،ډول-ډول دنیایې پراخۍ او روغ صحتونه به مو ورکړل) حَتَّىٰ د دې پورې عَفَواْ چې ډېر به شو(مالونه او اولادونه د دوی،یعنې نسل به یې هم زیات شو او مال به یې هم زیات شو.نو په ځای د دې چې دا د الله تعالی امتحان وګڼي،په ګناهونو توبه او په نعمتونو شکر وباسي او ایمان راوړي،برعکس) وَّقَالُواْ به دوی ویلي چې قَدۡ یقیناً مَسَّ رسیدلي وو ءَابَآءَنَا زمونږ پلرونو ته(هم زمونږ په شان)

ٱلضَّرَّآءُ تکلیفونه وَٱلسَّرَّآءُ او خوشالی(یعنې دا خو د زمانې ګردش دی
په هر چا بنې او بدې ورځې راځي،لکه څنګه چې اوس هم اکثره خلک
همداسې خبرې کوې،او د الله تعالی او د هغه جل جلاله د امتحان نوم هم
نه اخلي) فَأَخَذۡنَٰهُم نو مونږ به ونیول هغوی بَغۡتَةٗ ناڅاپه(یعني زمونږ
عذاب به ناڅاپه راونیول) وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ او دوی به خبر نه وو (یعني
په ګناهونو او دنیاوې عیش او عشرت کې به داسې ډوب وو چې فکر به
یې هم نه وو چې په مونږ به عذاب راځي.د چا فکر هم نه وي ناڅاپې
زلزله شي،په زرهاوو خلک مړه شي،جهاز سقوط وکړې په سلهاوو کسان
په کې مړه شي،وبا راشي په لکهاوو خلک مړه شي،څوک وایې تخنیکې
غلطې وه،څوک څه وایې او څوک څه؟خو هر څوک یو دلیل وایې لیکن د
الله تعالی د عذاب او د امتحان نوم څوک نه اخلي،باید پوه شو چې د قرآن
مخاطب پخوانې مړې نه دي،بلکې د قرآن مخاطب مونږ او تاسو یو،خپل
ځانونه باید د قرآن په آینه کې وګورو،او خپل اعمال اصلاح کړو هسې نه
چې خبر نه یو او د الله عذاب مو راونیسي،او دومره ناوخته وي چې د
توبې ویستلو فرصت هم نه وي) ﴿٩٥﴾ وَلَوۡ أَنَّ او که چیرته أَهۡلَ ٱلۡقُرَىٰٓ
د کلو اوسیدونکو(په پیغمبرانو او د الله تعالی په پیغامو نو باندې) ءَامَنُواْ
ایمان راوړئ وو وَٱتَّقَوۡاْ او پرهیزګاره شوي وو لَفَتَحۡنَا (نو) خامخا به
خلاصې کړې وي مونږ عَلَيۡهِم په دوی باندې بَرَكَٰتٖ (دروازې)د
برکتونو مِّنَ ٱلسَّمَآءِ د آسمان وَٱلۡأَرۡضِ او د ځمکې وَلَٰكِن لیکن
كَذَّبُواْ هغوی نسبت د دروغو وکړو(پیغمبرانو او زمونږ پیغامونو ته)
فَأَخَذۡنَٰهُم نو مونږ ونیول هغوی بِمَا په سبب د هغو(عملونو) كَانُواْ
يَكۡسِبُونَ چې دوی کول. ﴿٩٦﴾ أَفَأَمِنَ نو آیا بې غمه شوي دي(نو آیا په
آمن کې شوي دي) أَهۡلُ ٱلۡقُرَىٰٓ د کلو (او ښارونو) اوسیدونکي (د دې
نه) أَن يَأۡتِيَهُم چې راشي په هغوی بَأۡسُنَا عذاب زمونږ بَيَٰتٗا د شپې وَ

په داسې حال کې هُمۡ چې دوی نَآئِمُونَ ویده وي. ﴿۹۷﴾ أَوَأَمِنَ او آیا
بې غمه شوي دي أَهۡلُ ٱلۡقُرَىٰٓ د کلو (او ښارونو) اوسیدونکې(د دې نه)
أَن يَأۡتِيَهُم چې راشي په هغوی باندې بَأۡسُنَا عذاب زمونږ ضُحٗى د
ورځې وَهُمۡ په داسې حال کې يَلۡعَبُونَ چې دوی لوبې کوي(یعنې په
داسې عبث کارونو کې لګیا وی چې دوی ته هیڅ فایده نه کوي.) ﴿۹۸﴾
أَفَأَمِنُواْ نو آیا دوی په آمن کې ګڼې ځانونه مَكۡرَ ٱللَّهِۚ د الله تعالی د
تدبیر(یعنې نیولو) نه فَلَا يَأۡمَنُ خو هیڅوک ځان په آمن کې نه ګڼې
مَكۡرَ ٱللَّهِ د الله تعالی د تدبیر(یعنې نیولو)نه إِلَّا مګر ٱلۡقَوۡمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ
هغه خلک چې په نقصان کې دي. ﴿۹۹﴾ أَوَلَمۡ يَهۡدِ آیا هدایت(او عبرت)
نه اخلي لِلَّذِينَ هغه خلک يَرِثُونَ چې وارثان کیږي ٱلۡأَرۡضَ د ځمکې
مِنۢ بَعۡدِ وروسته أَهۡلِهَآ د (هلاک کیدلو) د اوسیدونکو د هغې څخه أَن لَّوۡ
(دا) چې که چیرته نَشَآءُ مونږ وغواړو أَصَبۡنَٰهُم دوی ته(به هم)عذاب
ورکړو بِذُنُوبِهِمۡۚ په سبب د ګناهونو د دوی وَنَطۡبَعُ او مُهر به ولګوو
عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ په زړونو د دوی فَهُمۡ لَا يَسۡمَعُونَ نو بیا به دوی(حق)نه
اوري(یعنې تاسو چې اوس د کومې ځمکې او کورونو مالکان یاستئ،سل
کلونه مخکې په دې کورنو کې بالکل د انسانانو یو بل نسل اوسیدلو، چې
د هغوی څخه اوس نه ماشوم پاتې دی او نه غټ،همداسې سل کلونه
وروسته به د دې ځمکې او کورونو مالکان نور خلک وي،نه به یو غټ
پاتې وي او نه به یو ماشوم.لکه څنګه چې مونږ او تاسو سل کلونه
مخکینې خلک نه پیژنو خو د هغوی د ځمکو او کورنو مالکان
یو،همدارنګه به سل کلونه وروسته خلک هم زمونږ د ځمکو،کاروبار او
کورونو مالکان وي خو مونږ به نه پیژني،نه زمونږ او ستاسو څخه

مخکینې د دې ځمکې،مالونو او کورونو مالکان پاتې شو،نه به مونږ پاتې
شو او نه به زمونږ نه وروسته نسل.لیکن اکثره انسانان د دې څخه څه

ډول عبرت اخلي؟دا چې:سل کلونو مخکينيو انسانانو هم د دې ځمکې،کورنو،اقتدار او مالونو د لاس ته راوړلو دپاره ظلمونه،قتلونه او غلاګانې وکړې،پردې کورونه يې وران کړل،خيانتونه يې وکړل،او د او د الله تعالی د قانون په خلاف يې د الحاد،شرک او کفر جنډې په لاسونو کې ونيولې،بلآخره د الله تعالی د عذاب فريشتو ونيول،نفسونه(روحونه)يې ورځخه د الله تعالی د غضب يعنې سجين په طرف يوړل،او تش مړه جسدونه يې په ځمکه کې پاتې شول،او هغه مالونه،کورونه او جايدادونه چې هغوی د ايمان په خرڅولو سره اخستې وو،اوسنيو ته ميراث پاتې شو،خو اکثره اوسنې ميراث خواره هم د مخکينيو په نقش قدم روان دي،کوم ظلمونه،خيانتون،قتلونه چې هغوی د دی ځمکو او کورنو د حاصلولو دپاره کړي وو،اوسنې هم د دې د زمانو ځخه يو بل ته د پاتې شوې ميراث د لاس ته راوړلو دپاره يو د بل لاسونه غوځوې،او هر يو يې خپل لاس ته د راوړلو دپاره هر ناروا عمل ته تيار دی.تعجب دی چې خلک ولې عبرت نه اخلې؟که اکثره خلک د پخوانيو اعمال تکراروې،خو بيا دې ته هم بايد اماده وې چې دا هم تکراريږي لکله ځنګه چې پخوانيو هم نه غوښتل او د عذاب پريشتو يې تش جسدونه په ځمکه پريښودل،همداسې به اوسنيو ته هم کله چې الله تعالی وغواړې د هغه جل جلاله د عذاب پريشتې به يې راګير کړي او نفسونه(روحونه) به يې د الله تعالی د غضب يعنې سجين خوا ته ويسې،او مالونه به يې وروستنيو ته ميراث پاتې شي.افسوس د داسې انسان په حال چې د جماداتو،نباتاتو،حيواناتو يعنې د هرشي د بقا او انجام فکر ورسره وې او په شپو او ورځو د هغوی په باره کې فکر کوي،ليکن د خپل ځان د بقا او انجام ورسره هيڅ فکر نه وي،او د خپل انجام په باره کې د لږ فکر کولو

دپاره هم وخت نه مصرفوي،يعنې هر شی ورته د خپل ځان څخه مهم او ځان ورته غيرې مهم او بې اهميته ښکارې.) ﴿١٠٠﴾

تِلۡكَ ٱلۡقُرَىٰ د غه كلي(د نوح عليه السلام د قوم،عاديانو،ثموديانو،د لوط عليه السلام او د شعيب عليه السلام د قومونو) نَقُصُّ چې بيانوو مونږ عَلَيۡكَ تا ته مِنۡ أَنۢبَآئِهَاۚ خبرونه د هغوی وَلَقَدۡ يقيناً جَآءَتۡهُمۡ راغلي وو دوی ته رُسُلُهُم پيغمبران د دوی بِٱلۡبَيِّنَٰتِ د ښكاره دلايلو(او معجزو)سره فَمَا كَانُواْ (خو د واضحه دلايلو او ثبوتونو سره-سره بيا هم دوی په خپل ضد او جهالت كلک ولاړ وو) او داسې نه شو لِيُؤۡمِنُواْ چې ايمان راوړې بِمَا په هغه څه باندې كَذَّبُواْ چې تكذيب كړئ وو دوی د هغه مِن قَبۡلُۚ مخكې د دې څخه(يعنې كوم شرک او كفر چې دوی د پيغمبرانو او معجزو د ليدلو څخه مخكې كولو،د پيغمبرانو د راتلو او د حقيت د معلومولو څخه وروسته هم په خپل پخوانې شرک او كفر د دوی د ضد او جهالت په سبب كلک ولاړ وو) كَذَٰلِكَ همدارنګه يَطۡبَعُ ٱللَّهُ الله تعالى مهر لګوې عَلَىٰ قُلُوبِ ٱلۡكَٰفِرِينَ د كافرانو په زړونو باندې(د مُهر لګولو تفسير د سورةالبقره په ٧ ايت كې دی) ﴿١٠١﴾

وَمَا وَجَدۡنَا لِأَكۡثَرِهِم مِّنۡ عَهۡدٖۖ او مونږ د دوی په اكثرو كې د وعدې څه وفا ونه موندله وَإِن وَجَدۡنَآ أَكۡثَرَهُمۡ لَفَٰسِقِينَ بلكې اكثره مو فاسقان(او نافرمانه) وموندل ﴿١٠٢﴾

ثُمَّ بَعَثۡنَا مِنۢ بَعۡدِهِم مُّوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ وَمَلَإِيْهِۦ فَظَلَمُواْ بِهَاۖ فَٱنظُرۡ كَيۡفَ
كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ﴿١٠٣﴾وَقَالَ مُوسَىٰ يَٰفِرۡعَوۡنُ إِنِّي رَسُولٞ مِّن رَّبِّ
ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٠٤﴾ حَقِيقٌ عَلَىٰٓ أَن لَّآ أَقُولَ عَلَى ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡحَقَّۚ قَدۡ جِئۡتُكُم بِبَيِّنَةٖ مِّن
رَّبِّكُمۡ فَأَرۡسِلۡ مَعِيَ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ﴿١٠٥﴾ قَالَ إِن كُنتَ جِئۡتَ بِـَٔايَةٖ فَأۡتِ بِهَآ إِن
كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿١٠٦﴾ فَأَلۡقَىٰ عَصَاهُ فَإِذَا هِيَ ثُعۡبَانٞ مُّبِينٞ ﴿١٠٧﴾ وَنَزَعَ

يَدَهُۥ فَإِذَا هِيَ بَيۡضَآءُ لِلنَّٰظِرِينَ ﴿١٠٨﴾ قَالَ ٱلۡمَلَأُ مِن قَوۡمِ فِرۡعَوۡنَ إِنَّ هَٰذَا
لَسَٰحِرٌ عَلِيمٞ ﴿١٠٩﴾ يُرِيدُ أَن يُخۡرِجَكُم مِّنۡ أَرۡضِكُمۡۖ فَمَاذَا تَأۡمُرُونَ ﴿١١٠﴾
قَالُوٓاْ أَرۡجِهۡ وَأَخَاهُ وَأَرۡسِلۡ فِي ٱلۡمَدَآئِنِ حَٰشِرِينَ ﴿١١١﴾ يَأۡتُوكَ بِكُلِّ سَٰحِرٍ عَلِيمٖ
﴿١١٢﴾ وَجَآءَ ٱلسَّحَرَةُ فِرۡعَوۡنَ قَالُوٓاْ إِنَّ لَنَا لَأَجۡرًا إِن كُنَّا نَحۡنُ ٱلۡغَٰلِبِينَ ﴿١١٣﴾
قَالَ نَعَمۡ وَإِنَّكُمۡ لَمِنَ ٱلۡمُقَرَّبِينَ ﴿١١٤﴾ قَالُواْ يَٰمُوسَىٰٓ إِمَّآ أَن تُلۡقِيَ وَإِمَّآ أَن نَّكُونَ
نَحۡنُ ٱلۡمُلۡقِينَ ﴿١١٥﴾ قَالَ أَلۡقُواْۖ فَلَمَّآ أَلۡقَوۡاْ سَحَرُوٓاْ أَعۡيُنَ ٱلنَّاسِ وَٱسۡتَرۡهَبُوهُمۡ
وَجَآءُو بِسِحۡرٍ عَظِيمٖ ﴿١١٦﴾ ۞ وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنۡ أَلۡقِ عَصَاكَۖ فَإِذَا
هِيَ تَلۡقَفُ مَا يَأۡفِكُونَ ﴿١١٧﴾ فَوَقَعَ ٱلۡحَقُّ وَبَطَلَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿١١٨﴾
فَغُلِبُواْ هُنَالِكَ وَٱنقَلَبُواْ صَٰغِرِينَ ﴿١١٩﴾ وَأُلۡقِيَ ٱلسَّحَرَةُ سَٰجِدِينَ ﴿١٢٠﴾ قَالُوٓاْ
ءَامَنَّا بِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٢١﴾ رَبِّ مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ﴿١٢٢﴾ قَالَ فِرۡعَوۡنُ ءَامَنتُم
بِهِۦ قَبۡلَ أَنۡ ءَاذَنَ لَكُمۡۖ إِنَّ هَٰذَا لَمَكۡرٞ مَّكَرۡتُمُوهُ فِي ٱلۡمَدِينَةِ لِتُخۡرِجُواْ مِنۡهَآ أَهۡلَهَاۖ
فَسَوۡفَ تَعۡلَمُونَ ﴿١٢٣﴾ لَأُقَطِّعَنَّ أَيۡدِيَكُمۡ وَأَرۡجُلَكُم مِّنۡ خِلَٰفٖ ثُمَّ لَأُصَلِّبَنَّكُمۡ
أَجۡمَعِينَ ﴿١٢٤﴾ قَالُوٓاْ إِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا مُنقَلِبُونَ ﴿١٢٥﴾ وَمَا تَنقِمُ مِنَّآ إِلَّآ أَنۡ ءَامَنَّا
بِـَٔايَٰتِ رَبِّنَا لَمَّا جَآءَتۡنَاۚ رَبَّنَآ أَفۡرِغۡ عَلَيۡنَا صَبۡرٗا وَتَوَفَّنَا مُسۡلِمِينَ ﴿١٢٦﴾

## ضروری معلومات!

يعقوب عليه السلام او د هغه عليه السلام اولاد يعني بني اسرائيل د يوسف عليه السلام په غوښتنه د فلسطين څخه مصر ته لاړل،هلته يې ډېر د عزت او خوشالۍ ژوند کولو،خو د وخت په تيريدلو سره کله چې په مصر کې د يو قومي انقلاب په نتيجه کې حکومت او اقتدار قبطيانو ته لاس ته ورغئ،کوم چې د مصر اصلي اوسيدونکي وو،نو د قبطيانو د حکومت په راتللو سره په قرار-قرار د بني اسرائيلو عزت کميدلو او ورځ په ورځ د ذلت خوا ته روان وو،بلآخره خبره دې ته ورسيده چې د قبطيانو د خوا څخه وربانديې ظلمونه شروع شول،د غلامانو په سترګه يې

ورته کتل او سخت او شاقه کارونه به يې ورباندې کول،باید ووایوو چې د قبطیانو پادشاهان به د فرعون په نوم یادیدل.کله چې فرعون حکم جارې کړو چې: د بني اسرائیلو نارینه اولادونه د پیدا کیدلو سره سمدستي وژنئ،او ښځینه یا لورګاني يې ژوندۍ پرېږدئ،موسی علیه السلام هم په همدې وخت کې پیدا شو،نو د موسی علیه السلام مور د فرعون د عسکرو د ویرې هغه علیه السلام په یو صندوق کې بند کړو او د رود نیل په دریاب کې يې خوشې کړو،بکس د دریاب ساحل یا غاړې ته ووتلو،کوم ځای چې د فرعون شاهې محل وو،د فرعون خدمتګارانو بکس فرعون ته وروړو،فرعون ورباندې د اسرائیلې ماشوم ګُمان وکړو،او غوښتل يې چې قتل يې کړې،مګر ښځې يې ورته وویل چې دا ماشوم مه وژنه زمونږ اولاد نشته،دا ماشوم به خپل ځوی کړو،او د خپل اولاد په شان پالنه به يې وکړو،فرعون هم د ښځې خبره ومنله او همداسې يې وکړل،خو په نژدې وخت کې د فرعون خپل ځوی هم پیدا شو،نو دواړه ماشومان یعنې موسی علیه السلام او د فرعون ځوی په شاهې محل او شاهې خاندان کې لویدل،دواړه سره تقریباً همزولې وو او لکه د حقیقې ورونو غوندې مینه او محبت يې په منځ کې وو،خو د موسی علیه السلام حثیت د مشر ورو په شان وو. کله چې فرعون بوډا شو،نو په خپل ژوند يې حکومت او اقتدار ځوی ته وسپارلو،نو د کوم فرعون(یعنې پادشاه) په دربار کې چې موسی علیه السلام د نبوت اعلان کړئ وو،هغه دغه فرعون و،چې موسی علیه السلام او هغه په یو کور او یو دربار کې لکه د حقیقې ورونو په شان لوی شوې وو.اوس ځوکلونه د مخه موسی علیه السلام د دې ځای ځخه مدین ته تللئ وو،او بیرته چې د مدین ځخه راتللو په لار کې ورته نبوت او رسالت ورکول شو(د دې پوره تفصیل په سورة طه او سورةالقصص کې راځې) باید ووایو چې د فرعون سره د موسی علیه

السلام د خبرو انداز څه د يو عام ملكې سړي په شان نه وو چې د فرعون د شان او دبدبې د تاثير لاندې راغلئ وي،او څه ويره يې په زړه كې پيدا شوى وي،بلكې:په ډېر بې پروا انداز سره يې فرعون مخاطب كړو او ورته يې وفرمايل چې: حَقِيقٌ عَلَىٰٓ أَن لَّآ أَقُولَ عَلَى ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡحَقَّۚ قَدۡ جِئۡتُكُم بِبَيِّنَةٖ مِّن رَّبِّكُمۡ فَأَرۡسِلۡ مَعِيَ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ﴿١٠٥﴾ د ١٠٥ آيت ترجمه وګورئ «تفسيربيان القرآن»

اوس آيتونو ته توجه وكړئ!

ثُمَّ بَعَثۡنَا بيا وليږلو مونږ مِنۢ بَعۡدِهِم وروسته د هغوى نه(يعنې د نوح،هود،صالح،لوط او شعيب عليهم السلام نه وروسته مونږ وليږلو) مُّوسَىٰ موسى عليه السلام بِـَٔايَٰتِنَآ زمونږ د آيتونو (يعنې د معجزو) سره إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ فرعون ته وَمَلَإِيْهِۦ او د هغه درباريانو ته فَظَلَمُواْ خو هغوى(هم) ظلم وكړو بِهَاۖ د هغې سره(يعنې د معجزو څخه يې انكار وكړو) فَٱنظُرۡ نو وګوره كَيۡفَ كَانَ چې څنګه شو عَٰقِبَةُ انجام ٱلۡمُفۡسِدِينَ د فساد كوونكو. ﴿١٠٣﴾(په وروستنيو آيتونو كې دا مطالب په تفصيل سره بيانيږي)!

وَقَالَ او وويل مُوسَىٰ موسى عليه السلام يَٰفِرۡعَوۡنُ اى فرعونه إِنِّي بېشكه زه رَسُولٞ مِّن رَّبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ د رب العلمين پيغمبر يم. ﴿١٠٤﴾ حَقِيقٌ كلک ولاړ يم عَلَىٰٓ په (دې خبره) أَن چې لَّآ أَقُولَ نه وايم عَلَى ٱللَّهِ په الله تعالى باندې إِلَّا ٱلۡحَقَّۚ مګر حق (او رښتيا وايم) قَدۡ يقيناً جِئۡتُكُم زه راغلئ يمه تاسو ته بِبَيِّنَةٖ د ښكاره معجزو سره مِّن رَّبِّكُمۡ ستاسو د رب د طرف نه فَأَرۡسِلۡ نو وليږه مَعِيَ زما سره بَنِيٓ

إِسۡرَٰٓءِيلَ بني اسرائيل (ځکه چې د فرعون د خوا نه په بنې اسرائيلو ډېر ظلمونه کيدل،غلامان يي ترې جوړ کړي وو،نو موسى عليه السلام د فرعون څخه غوښتنه وکړه چې زما سره يې پريږده،چې بيرته ئې فلسطين ته بوځم) ﴿١٠٥﴾ قَالَ هغه(يعني فرعون موسى عليه السلام ته)وويل إِن كُنتَ جِئۡتَ که چيرته راغلئ يې ته بِـَٔايَةٖ د کومې معجزې سره فَأۡتِ نو راوړه بِهَآ هغه(معجزه چې ويې ګورو) إِن كُنتَ که يې ته مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ د رېښتينو څخه(يعني که ته رېښتيا وايې) ﴿١٠٦﴾ فَأَلۡقَىٰ نو هغه عليه السلام وغورزوله عَصَاهُ امساء خپله فَإِذَا نو ناڅاپه هِيَ هغه(امساء) ثُعۡبَانٞ يو ښامار شو مُّبِينٞ ښکاره(چې هر چا ليدلو او هيڅ چا ته په کې کوم شک او شبه نه وه) ﴿١٠٧﴾ وَنَزَعَ او هغه عليه السلام راويستلو(د ګريوان نه) يَدَهُۥ لاس خپل فَإِذَا نو فوراً هِيَ هغه(لاس ښکاره شو) بَيۡضَآءُ تک سپين (ځليدونکئ) لِلنَّٰظِرِينَ کتونکوو ته.
﴿١٠٨﴾ قَالَ (فرعون او درباريانو چې دا معجزې وليدلې،په عوض د دې چې تصديق يې وکړي او ايمان راوړي،بر عکس) وويل ٱلۡمَلَأُ درباريانو مِن قَوۡمِ فِرۡعَوۡنَ د فرعون د قوم (يعني درباريانو فرعون ته وويلې) إِنَّ بېشکه هَٰذَا دا (موسى عليه السلام) لَسَٰحِرٌ عَلِيمٞ يقيناً ډېر پوه جادوګر دی. ﴿١٠٩﴾ يُرِيدُ (فرعون درباريانو ته وويل) چې هغه(يعني موسى عليه السلام) غواړي أَن چې يُخۡرِجَكُم وباسي تاسو مِّنۡ أَرۡضِكُمۡۖ ستاسو د ځمکې(يعني هيواد) څخه فَمَاذَا تَأۡمُرُونَ نو تاسو ما ته څه مشوره راکوئ(چې زه بايد د هغه عليه السلام په مقابل کې څه وکړم؟) ﴿١١٠﴾ قَالُوٓاْ هغوی(يعني د دربار خلکو فرعون ته وويلې) أَرۡجِهۡ (فعلاً) مهلت ورکړه ده عليه السلام ته وَأَخَاهُ او د ده عليه السلام ورور(هارون عليه لسلام ) ته وَأَرۡسِلۡ او وليږه فِي ٱلۡمَدَآئِنِ ښارونو ته حَٰشِرِينَ استازې ﴿١١١﴾ يَأۡتُوكَ چې راولي تا ته بِكُلِّ ټول سَٰحِرٍ عَلِيمٖ

پوه جادوګر(یعنې ټول ملک هر کلي او هر ښار ته خپل نمایندګان ولیږه چې د ټول ملک پوه او ماهر جادوګر درته راولي،همداسې ئې وکړل د ټول ملک پوه او تجربه کار جادوګر یې راوغوښتل،کله چې جادوګر راغلل نو:) ﴿۱۱۲﴾ وَجَآءَ راغلل ٱلسَّحَرَةُ جادو ګر فِرۡعَوۡنَ فرعون ته قَالُوٓاْ (او فرعون ته یې) وویلې إِنَّ لَنَا لَأَجۡرًا چې یقیناً مونږ ته(خو به) اجر راکول کیږي إِن که چیرته كُنَّا نَحۡنُ شو مونږ ٱلۡغَٰلِبِينَ کامیاب(یعنې که مونږ موسی علیه السلام ته شکست ورکړو او کامیاب شو نو آیا بیا به مونږ ته د دې آجر او مزدورۍ راکول شي؟) ﴿۱۱۳﴾ قَالَ هغه (یعنې فرعون جادوګرو ته) وویلې نَعَمۡ هو(مزدورۍ او انعامونه خو به درکول شي) وَ او (علاوه د مزدورۍ او انعام څخه به) إِنَّكُمۡ بېشکه تاسو لَمِنَ ٱلۡمُقَرَّبِينَ د مقربینو نه یاستئ(یعنې تاسو ته به په دربار کې ښه منصبونه درکول شي،ستاسو سفارش به قبلیږي،زما سره به هر وخت ملاقات کولای شئ و غیره وغیره.د دې نه وروسته په یو لوی میدان کې د ډیرو زیاتو خلکو په مخکې مقابله شروع شوه،کله چې موسی علیه السلام او جادوګر یو بل ته مخامخ شو نو!) ﴿۱۱۴﴾ قَالُواْ هغوی(یعنې جادوګرو) وویلې يَٰمُوسَىٰٓ ای موسی علیه السلامه

إِمَّآ أَن تُلۡقِيَ ایا ته( اول خپله امساء) غورزوې وَإِمَّآ أَن نَّكُونَ نَحۡنُ ٱلۡمُلۡقِينَ او یا مونږ(ستا نه مخکې) غورزونکې شو(د خپلو امساګانو او پړو،یعنې جادوګرو موسی علیه السلام ته اختیار ورکړو چې :آیا ته اول خپله معجزه ښکاره کوې او که مونږ اول خپل جادو ښکاره کړو؟) ﴿۱۱۵﴾ قَالَ هغه علیه السلام (ورته) وویلې أَلۡقُواْۖ (چې اول تاسو خپلې امساګانې او پړې میدان ته) وغورزوئ فَلَمَّآ نو کله چې أَلۡقَوۡاْ وغورځول هغوی(خپل پړې او امساګانې په میدان کې نو) سَحَرُوٓاْ نو جادو یې وکړو أَعۡيُنَ په سترګو ٱلنَّاسِ د خلکو (نو عامو خلکو ته د

دوی پرېِ او امساء ګانې د مارانو غوندې ښکاریدل نو) وَٱسْتَرْهَبُوهُمْ
دوی وویرول هغوی(یعنې جادوګرو عام خلک وویرول) وَجَآءُو بِسِحْرٍ
عَظِيمٍ او ډېر لوی جادو یې وکړو. ﴿۱۱٦﴾ ۞ وَ او(الله تعالی فرمایي
چې) أَوْحَيْنَآ مونږ وحې وکړه إِلَىٰ مُوسَىٰٓ موسی علیه السلام ته أَنْ
چې أَلْقِ وغورځوه عَصَاكَ امساء خپله (نو څنګه چې هغه علیه
السلام امساء په میدان کې وغورځوله) فَإِذَا نو سمدستي هِيَ
هغه(همساء ښامار شو او) تَلْقَفُ تیرول به یې(خوړل به یې) مَا
هغه(د جادو پرېِ او امساءګانې چې خلکو ته لکه ماران ښکاریدل،کوم به
چې:) يَأْفِكُونَ هغوی یعنې جادوګرو)جوړول. ﴿۱۱۷﴾ فَوَقَعَ نو
ښکاره(او واضحه)شو ٱلْحَقُّ حق(چې د موسی علیه السلام معجزه وه)
وَبَطَلَ او باطل شو مَا هغه (جادو) كَانُواْ يَعْمَلُونَ چې هغوی(یعنې
جادوګرو) کولو ﴿۱۱۸﴾ فَغُلِبُواْ هُنَالِكَ نو هغوی(یعنې جادوګر) مغلوب
شو هلته وَٱنقَلَبُواْ صَٰغِرِينَ او هغوی(یعنې فرعون او سرداران یې)
ذلیل(او بې عزته) شول ﴿۱۱۹﴾

چون جادوګر د جادو ماهرین وو،نو کله چې هغوی ولیدل چې موسی علیه السلام چې څه وکړل هغه جادو نه وو،بلکې یوه الهي معجزه وه نو ایمان یې زړه ته ننوتو،او هغه خلک چې تر اوسه د پیغمبر دښمنان وو،د همدې منظر د لیدلو نه وروسته داسې کلک مؤمنان شول چې نه ورسره نوره دسر پروا وه او نه دمال.

وَأُلْقِيَ او پریوتل ٱلسَّحَرَةُ جادوګر سَٰجِدِينَ په سجده(یعنې جادوګر بې اختیاره په سجده پریوتل او) ﴿۱۲۰﴾ قَالُوٓاْ ویې ویل ءَامَنَّا چې مونږ
ایمان راوړئ دی بِرَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ په رب العلمین باندې ﴿۱۲۱﴾ رَبِّ چې

رب دى مُوسَىٰ د موسى عليه السلام وَهَٰرُونَ او د هارون عليه السلام(هارون عليه السلام د موسى عليه السلام وروړ و،نو)﴿١٢٢﴾

د دې حالت په ليدلو سره فرعون ډېر وارخطا شو،او په دې فکر کې شو چې کيداى شي چې عام ملکې خلک هم ايمان راوړي،ډېر ذهين وو،سمدستي يې خبره بل ډول واړوله،او جادوګرو ته ئې وويل چې:زه خو ستاسو د سازش او دسيسې ښخه خبر شوم چې تاسو زمونږ خلاف جوړه کړې وه،تاسو او موسى عليه السلام خو سره ملګرې ياستئ،او زمونږ په خلاف مو سازش جوړ کړئ دى.

قَالَ وويلې فِرۡعَوۡنُ فرعون(جادوګرو ته) ءَامَنتُم آيا تاسو ايمان راوړئ دى بِهِۦ په هغه (يعنې موسى عليه السلام) باندې قَبۡلَ أَنۡ ءَاذَنَ مخکې د دې چې زه اجازه درکړم لَكُمۡۖ تاسو ته؟(يعنې تاسو پرته زما د اجازې ښخه په موسى عليه السلام باندې ايمان راوړئ دى؟) إِنَّ هَٰذَا يقيناً دا لَمَكۡرٞ يو سازش(او دسيسه ده) مَّكَرۡتُمُوهُ چې تاسو جوړه کړې ده فِي ٱلۡمَدِينَةِ دلته په ښار کې(زمونږ په خلاف) لِتُخۡرِجُواْ د دې دپاره چې تاسو وباسئ مِنۡهَآ د دې (ښار ښخه) أَهۡلَهَاۖ اوسيدونکي د دې(ښار) فَسَوۡفَ تَعۡلَمُونَ نو تاسو ته به زر معلومه شي(نتيجه د دې سازش) ﴿١٢٣﴾ لَأُقَطِّعَنَّ زه به خامخا غوخ کړم أَيۡدِيَكُمۡ لاسونه ستاسو وَأَرۡجُلَكُم او پښې ستاسو مِّنۡ خِلَٰفٖ د مخالف طرفونو نه(يعنې ښى لاس او چپه پښه يا چپ لاس او ښى پښه) ثُمَّ بيا به لَأُصَلِّبَنَّكُمۡ أَجۡمَعِينَ تاسو ټول په دار کړم.
﴿١٢٤﴾

ليکن د جادوګرو ايمان دومره قوي وو چې د فرعون اخطارونو او خبرو د هغوى په استقامت کې لږ کمزورې او تغير هم پيدا نکړو، او!

قَالُوٓاْ (فرعون ته يې) وويلې إِنَّآ چې بېشکه مونږ إِلَىٰ رَبِّنَا خپل رب ته مُنقَلِبُونَ ورتلوونکې يو( يعنې په الله تعالى باندې د کلک ايمان په سبب ورته په مرګ کې خپله فايده ښکاريده او د فرعون د جزا او عذاب څخه ونه ويريدل،او فرعون ته يې وويل چې ته په مونږ دروغ وايې،نه مونږ د موسى عليه السلام سره ستاسو په خلاف سازش جوړ کړئ،او نه د دې څخه مخکې مونږ د موسى عليه السلام ملګرې وو،بلکې ستا ملګرې او د هغه عليه السلام دښمنان وو،مګر د مقابلې په دوران کې د الهې معجزې په ليدلو مونږ خپل رب وپيژندلو او ايمان مو ورباندې راوړو،فلهذا ته زمونږ څخه د دې خبرې انتقام نه اخلې چې:واقعاً مونږ ستاسو په خلاف سازش جوړ کړئ دی بلکې په دې خبره مونږ ته جزا راکول غواړې چې مونږ خپل رب وپيژندلو او ايمان مو ورباندې راوړو،الله تعالى فرمايې:) ﴿١٢٥﴾ وَمَا تَنقِمُ او(جادوګرو وويلې چې ای فرعونه) ته بدل نه اخلې مِنَّآ زمونږ نه(د دې چې ګنې مونږ په رښتيا ستاسو په خلاف سازش کړئ دی) إِلَّآ مګر(ته مونږ ته د دې جزا راکول غواړې) أَنْ چې ءَامَنَّا مونږ ايمان راوړو بِـَٔايَٰتِ په معجزه باندې رَبِّنَا د رب خپل لَمَّا کله چې هغه(معجزه) جَآءَتْنَاۚ راغله(ښکاره شوه) مونږ ته (د موسى عليه السلام په لاس،نو زمونږ د حق په پيژندلو او ايمان راوړلو،ته مغلوب او ذليل شوې،نو د عامو خلکو د دوکه کولو او حق پټولو دپاره غواړې چې مونږ ته جزا را کړې،تر څو چې خلک دوکه کړې چې ګنې موسى عليه السلام په ناحقه او ته په حقه يې.او دعا يې وکړه چې:) رَبَّنَآ ای ربه زمونږ أَفْرِغْ راتوی کړه عَلَيْنَا په مونږ باندې صَبْرًا صبر(يعنې يا الله د ايمان په دې امتحان کې په سختيو صبر راکړې،او بيرته مو کفر ته د ورتللو څخه وساتې) وَتَوَفَّنَا

او وفات کړه مونږ(او مړه کړه مونږ) مُسۡلِمِينَ د اسلام په حال کې ﴿١٢٦﴾

د دې واقعې نه وروسته یعنې د جادوګرو د شکست خوړلو او ایمان راوړلو نه وروسته هم فرعون د موسی علیه السلام په خلاف کوم سخت اقدام ونکړو،چنانچه موسی علیه السلام اوس هم په ښار کې خلکو ته داسلام په تبلیغ او رسولو او د بني اسرآئیلو په منظم کولو کې مصروف و.د قوم ځوانانو د هغه علیه السلام دعوت ته لبیک وویلو،او د هغه علیه السلام په خوا او شاه یې راټولیدل شروع کړل،چې د ده علیه السلام د دې کارونو څخه حکومتي خلک یا درباریان په تشویش کې شو او بلآخره فرعون ته یې شکایت وکړو.

وَقَالَ ٱلۡمَلَأُ مِن قَوۡمِ فِرۡعَوۡنَ أَتَذَرُ مُوسَىٰ وَقَوۡمَهُۥ لِيُفۡسِدُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَيَذَرَكَ
وَءَالِهَتَكَۚ قَالَ سَنُقَتِّلُ أَبۡنَآءَهُمۡ وَنَسۡتَحۡيِۦ نِسَآءَهُمۡ وَإِنَّا فَوۡقَهُمۡ قَٰهِرُونَ ﴿١٢٧﴾
قَالَ مُوسَىٰ لِقَوۡمِهِ ٱسۡتَعِينُواْ بِٱللَّهِ وَٱصۡبِرُوٓاْۖ إِنَّ ٱلۡأَرۡضَ لِلَّهِ يُورِثُهَا مَن يَشَآءُ مِنۡ
عِبَادِهِۦۖ وَٱلۡعَٰقِبَةُ لِلۡمُتَّقِينَ ﴿١٢٨﴾ قَالُوٓاْ أُوذِينَا مِن قَبۡلِ أَن تَأۡتِيَنَا وَمِنۢ بَعۡدِ مَا
جِئۡتَنَاۚ قَالَ عَسَىٰ رَبُّكُمۡ أَن يُهۡلِكَ عَدُوَّكُمۡ وَيَسۡتَخۡلِفَكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَيَنظُرَ كَيۡفَ
تَعۡمَلُونَ ﴿١٢٩﴾ وَلَقَدۡ أَخَذۡنَآ ءَالَ فِرۡعَوۡنَ بِٱلسِّنِينَ وَنَقۡصٖ مِّنَ ٱلثَّمَرَٰتِ لَعَلَّهُمۡ
يَذَّكَّرُونَ ﴿١٣٠﴾ فَإِذَا جَآءَتۡهُمُ ٱلۡحَسَنَةُ قَالُواْ لَنَا هَٰذِهِۦۖ وَإِن تُصِبۡهُمۡ سَيِّئَةٞ يَطَّيَّرُواْ
بِمُوسَىٰ وَمَن مَّعَهُۥٓۗ أَلَآ إِنَّمَا طَٰٓئِرُهُمۡ عِندَ ٱللَّهِ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿١٣١﴾
وَقَالُواْ مَهۡمَا تَأۡتِنَا بِهِۦ مِنۡ ءَايَةٖ لِّتَسۡحَرَنَا بِهَا فَمَا نَحۡنُ لَكَ بِمُؤۡمِنِينَ ﴿١٣٢﴾
فَأَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمُ ٱلطُّوفَانَ وَٱلۡجَرَادَ وَٱلۡقُمَّلَ وَٱلضَّفَادِعَ وَٱلدَّمَ ءَايَٰتٖ مُّفَصَّلَٰتٖ
فَٱسۡتَكۡبَرُواْ وَكَانُواْ قَوۡمٗا مُّجۡرِمِينَ ﴿١٣٣﴾ وَلَمَّا وَقَعَ عَلَيۡهِمُ ٱلرِّجۡزُ قَالُواْ
يَٰمُوسَى ٱدۡعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ عِندَكَۖ لَئِن كَشَفۡتَ عَنَّا ٱلرِّجۡزَ لَنُؤۡمِنَنَّ لَكَ
وَلَنُرۡسِلَنَّ مَعَكَ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ﴿١٣٤﴾ فَلَمَّا كَشَفۡنَا عَنۡهُمُ ٱلرِّجۡزَ إِلَىٰٓ أَجَلٍ هُم

بَٰلِغُوهُ إِذَا هُمۡ يَنكُثُونَ ﴿١٣٥﴾ فَٱنتَقَمۡنَا مِنۡهُمۡ فَأَغۡرَقۡنَٰهُمۡ فِي ٱلۡيَمِّ بِأَنَّهُمۡ كَذَّبُواْ
بِـَٔايَٰتِنَا وَكَانُواْ عَنۡهَا غَٰفِلِينَ ﴿١٣٦﴾ وَأَوۡرَثۡنَا ٱلۡقَوۡمَ ٱلَّذِينَ كَانُواْ يُسۡتَضۡعَفُونَ
مَشَٰرِقَ ٱلۡأَرۡضِ وَمَغَٰرِبَهَا ٱلَّتِي بَٰرَكۡنَا فِيهَاۖ وَتَمَّتۡ كَلِمَتُ رَبِّكَ ٱلۡحُسۡنَىٰ عَلَىٰ
بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ بِمَا صَبَرُواْۖ وَدَمَّرۡنَا مَا كَانَ يَصۡنَعُ فِرۡعَوۡنُ وَقَوۡمُهُۥ وَمَا كَانُواْ
يَعۡرِشُونَ ﴿١٣٧﴾ وَجَٰوَزۡنَا بِبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱلۡبَحۡرَ فَأَتَوۡاْ عَلَىٰ قَوۡمٖ يَعۡكُفُونَ عَلَىٰٓ
أَصۡنَامٖ لَّهُمۡۚ قَالُواْ يَٰمُوسَى ٱجۡعَل لَّنَآ إِلَٰهٗا كَمَا لَهُمۡ ءَالِهَةٞۚ قَالَ إِنَّكُمۡ قَوۡمٞ تَجۡهَلُونَ
﴿١٣٨﴾ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ مُتَبَّرٞ مَّا هُمۡ فِيهِ وَبَٰطِلٞ مَّا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿١٣٩﴾ قَالَ أَغَيۡرَ
ٱللَّهِ أَبۡغِيكُمۡ إِلَٰهٗا وَهُوَ فَضَّلَكُمۡ عَلَى ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٤٠﴾ وَإِذۡ أَنجَيۡنَٰكُم مِّنۡ ءَالِ
فِرۡعَوۡنَ يَسُومُونَكُمۡ سُوٓءَ ٱلۡعَذَابِ يُقَتِّلُونَ أَبۡنَآءَكُمۡ وَيَسۡتَحۡيُونَ نِسَآءَكُمۡۚ وَفِي ذَٰلِكُم
بَلَآءٞ مِّن رَّبِّكُمۡ عَظِيمٞ ﴿١٤١﴾

وَقَالَ او وويل ٱلۡمَلَأُ درباريانو مِن قَوۡمِ فِرۡعَوۡنَ د فرعون د قوم

(فرعون ته) أَتَذَرُ آيا پرېږدې ته؟ مُوسَىٰ موسى عليه السلام وَقَوۡمَهُۥ او قوم د هغه عليه السلام لِيُفۡسِدُواْ چې فساد وکړي(يعني چې اسلام خور کړي) فِي ٱلۡأَرۡضِ په ځمکه کې(يعني زمونږ په ملک کې) وَيَذَرَكَ وَءَالِهَتَكَۚ او تا او ستا معبودان پرېږدي؟(يعني که چیرته د هغه علیه السلام نظريه يعني اسلام مقبول شي،او خلک ورباندې راټول شي،نو ستا د خدايي او ستا د معبودانو څخه به انکار او بغاوت وکړي.بايد پوه شو چې پخپله د فرعون او فرعونيانو يعني د فرعون د قوم هم معبودان وو چې د هغوی عباد ت به يې کولو، لوی معبود يې لمر و،معامله صرف دا نه وه چې يوازې فرعون يې خدای منلو،خو بايد ذکر شي چې د فرعون خدايي يوازې سياسي خدايي وه،د هغه دعوه وه چې حکومت زما دی،او د اقتدار او اختيار مالک يوازې زه يم،نو ځکه درباريانو فرعون ته وويلې چې موسی عليه السلام چې کومه نظريه په خلکو کې خوروې،که چیرته

په خلکو کې مقبوله شي او وېې منې نو ستا سلطنت او ستا معبودانو دواړو ته خطر دی،او ځوک چې د هغه عليه السلام نظريه ومنې نو ستا د فرعونيت يعني پادشاهي او ستا د معبودانو څخه به انکار او بغاوت وکړي.

قَالَ هغه يعني فرعون وويل(درباريانو ته) سَنُقَتِّلُ مونږ به ووژنو أَبۡنَآءَهُمۡ ځامن د هغوی وَنَسۡتَحۡيِۦ او ژوندی به پرېږدو نِسَآءَهُمۡ ښځې د هغوی(يعني درباريانو غوښتل چې فرعون موسى عليه السلام مړ کړي،ليکن فرعون ته الله تعالى د موسى عليه السلام دپاره داسې محبت په زړه کې اچولئ وو چې: د هغه عليه السلام د مرګ په باره کې ئې هيڅ فکر نه کولو،ځکه چې دا هماغه فرعون وو،د چا چې د موسى عليه السلام سره د وروری په شان رشته وه،د کومې په سبب چې اوس هم د هغه په زړه کې موسى عليه السلام ته طبيعي محبت موجود وو،ليکن د هغه عليه السلام په ځای يې زور او فشار په بني اسرآئيلو اچولو،او يو ځل بيا يې د دوهم کرت دپاره هغه حکم نافذ کړو چې:ځلويښت يا پنځه ځلويښت کلونه مخکې يې پلار نافذ کړئ و،چې ځامن يې وژنئ او ښځې يې ژوندی پرېږدئ،تر څو چې په دې ترتيب موسى عليه السلام کمزورئ کړې،او هغه ته ترې څه خطر نه وي(تفسير بيان القرآن)،نو خپلو درباريانو ته په جواب کې د هغوی د اطمنان د پاره وايې چې تاسو تشويش مه کوئ،هغه عليه السلام زمونږ هيڅ نشي کولای) وَإِنَّا او پرته د شک څخه مونږ فَوۡقَهُمۡ په هغوی باندې قَٰهِرُونَ په پوره ډول غالب يو.(تاسو هسې وارخطاء ياستئ)﴿١٢٧﴾ (کله چې فرعون د بني اسرآئيلو د ځامنو د وژلو فرمان نافذ کړو،نو) قَالَ وويل مُوسَىٰ موسى عليه السلام لِقَوۡمِهِ خپل قوم ته ٱسۡتَعِينُواْ چې کومک غواړئ بِٱللَّهِ د الله تعالى نه(چې په دې ازمايش کې کامياب شئ) وَٱصۡبِرُوٓاْۖ او صبر کوئ(په دې

ازمايش) إِنَّ ٱلۡأَرۡضَ ځمکه لِلَّهِ خاص د الله تعالی ده يُورِثُهَا هغه جل جلاله وارثان کوي د دې(ځمکې) مَن يَشَآءُ هغه څوک چې هغه جل جلاله ئې غواړي مِنۡ عِبَادِهِۦۖ د خپلو بندګانو څخه وَٱلۡعَٰقِبَةُ او انجام(يعني جنت) لِلۡمُتَّقِينَ خاص د متقيانو دپاره دی.(يعني د دنيا ځمکې، کوروونه او بلډينګونه خو الله تعالی هر چا ته ورکوي ليکن د آخرت ځمکې،کوروونه او بلډينګونه يعني جنت صرف د متقيانو دپاره دي) ﴿١٢٨﴾

قَالُوٓاْ ( بني اسرآئيلو هغه عليه السلام ته) ووېل أُوذِينَا چې ځوريدلو مونږ.(ظلمونه کيدل په مونږ) مِن قَبۡلِ مخکې د أَن تَأۡتِيَنَا ستا د راتللو څخه مونږ ته وَمِنۢ بَعۡدِ مَا او ورسته د هغې نه جِئۡتَنَاۚ چې ته راغلې مونږ ته(هم ظلمونه راباندې کيږي،يعني ستا د راتلو څخه مخکې هم په مونږ د فرعون د خوا نه ظلمونه کيدل، خو په دې اميد وو،چې ستا په راتلو به په مونږ ظلم کم شي،ليکن اوس خو د پخوا څخه هم زيات شو،چې ځامن مو هم وژني) قَالَ (موسی عليه السلام ورته) ووېل عَسَىٰ رَبُّكُمۡ زر به ستاسو رب أَن يُهۡلِكَ عَدُوَّكُمۡ ستاسو دښمن هلاک کړي وَيَسۡتَخۡلِفَكُمۡ او تاسو ته به خلافت درکړي فِي ٱلۡأَرۡضِ په ځمکه کې(يعني ازادي ،حکومت،اقتدار او دولت به درکړي،دا يو ډېر لوی زيری و چې موسی عليه السلام بني اسرآئيلو ته ورکړو.) فَيَنظُرَ نو بيا به هغه جل جلاله ګوري كَيۡفَ تَعۡمَلُونَ چې تاسو څنګه عمل کوئ(دلته يو بل امتحان ته اشاره ده، چې د دولت او قدرت په وخت کې به بيا د الله تعالی د قانون مطابق حکومت جوړوئ او که دخواهشاتو مطابق، د الله تعالی د قانون مطابق به په دنيا کې ژوند کوئ او که د خپلو خواهشاتو مطابق؟لکه چې همداسې وشول چې بني اسرآئيل په سختيو او مصيبتونو باندې د صبر کولو په امتحان کې کامياب شو ليکن د قدرت،دولت او د

نعمتونو د پراخولي په امتحان کې ناکام شو.لکه اوس هم د اکثرو مسلمانانو دا حال دی چې په ډېرو سختو مصیبتونو او د جهاد په لار کې صبر کوي او کامیابیږي خو کله چې د الله تعالی نعمتونه پرې راسر شي،قدرت او دولت الله تعالی ورکړي،نو په دې امتحان کې اکثره مسلمانان ناکامیږي.)﴿١٢٩﴾ وَلَقَدْ او بېشکه أَخَذْنَآ مونږ ونیول ءَالَ فِرْعَوْنَ فرعونیان بِٱلسِّنِينَ د قحط(یعني وچکالۍ په عذاب) باندې وَنَقْصٍ مِّنَ ٱلثَّمَرَٰتِ او د میوو د کموالي (په عذاب باندې) لَعَلَّهُمْ د دې دپاره چې هغوی(د کبر او لویئ نه ولوېږي او) يَذَّكَّرُونَ نصیحت ومني.﴿١٣٠﴾ فَإِذَا خو کله به چې جَآءَتْهُمُ راغله هغوی ته ٱلْحَسَنَةُ خوشالي(یعني وچ کالي به ختمه شوه فصلونه او میوې به زیات شول،نو) قَالُوا۟ هغوې به ویلي لَنَا هَٰذِهِۦ دا(خو)زمونږ حق دی(دا خو زمونږ د کوشش او کار نتیجه ده.او د الله تعالی فضل او رحمت به یې نه ګڼلو) وَإِن او که چیرته به تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ یو تکلیف ورورسیدو(قحطې او سختې به راغله،نو) يَطَّيَّرُوا۟ نو دا به یې سپیره والئ ګڼلو بِمُوسَىٰ د موسی علیه السلام وَمَن مَّعَهُۥٓ او د هغه چا چې د هغه علیه السلام سره(ملګرې)وو(ویلې به یې چې دوی سپیره دي، د کومې ورځ نه چې موسی علیه السلام دې ملک ته راغلئ دی،قحطې او مرضونه او افتونه یې هم د ځان سره سم راوړې دی،الله تعالی فرمایې:) أَلَآ خبردار إِنَّمَا بېشکه حقیقت دا دی طَٰٓئِرُهُمْ چې د هغوی سپیره والئ(قحطې،وچ کالي د فصلونو هلاکت مرضونه او افتونه) عِندَ ٱللَّهِ د الله تعالی د طرف څخه وو وَلَٰكِنَّ لیکن أَكْثَرَهُمْ اکثره د هغوی لَا يَعْلَمُونَ نه پوهیدل (چې دا ټول مصیبتونه زمونږ د خپلو ګناهونو په سبب دي)﴿١٣١﴾ وَقَالُوا۟ او(موسی علیه السلام ته به یې)ویلې مَهْمَا تَأْتِنَا بِهِۦ مِنْ ءَايَةٍ چې که ته مونږ ته هر قسم معجزې(او دلایل) راوړې لِّتَسْحَرَنَا بِهَا د دې دپاره

چې مونږ په هغې (معجزو او دلایلو) باندې د دین نه واړوې فَمَا نَحْنُ
لَكَ بِمُؤْمِنِينَ خو مونږ په تا باندې ایمان راوړونکي نه یو.(دوی د کبر او
ضد نه دا خبرې موسی علیه السلام ته کولې،چې که ته هر څومره قانع
کوونکې دلایل او معجزې مونږ ته راوړې،لیکن د ټولو ثبوتونو سره-سره
بیا هم نه مونږ خپل معبودان پرېږدو او نه په تا باندې ایمان راوړو.نو
موسی علیه السلام ورته بد دعا وکړه) ﴿١٣٢﴾ فَأَرْسَلْنَا نو راولیږلو
مونږ(نو راوستلو مونږ) عَلَيْهِمُ په هغوی باندې ٱلطُّوفَانَ طوفان(شپه
او ورځ د ډېرو سختو بارانونو یا د نیل د دریاب د طغیان په سبب اوبو د
دوی فصلونه ډوب او خراب کړل او کورونو ته یې هم اوبه ننوتلې لیکن
د دې تر څنګ د بني اسرآئیلو پټې او کورونه وچ کلک وو،نه یې فصلونه
خراب شو او نه یې کورونو ته اوبه ننوتې،نو فرعون او د هغه درباریان
موسی علیه السلام ته راغلل،معافي یې ترې وغوښتله،او ورته یې وویل
چې زمونږ دپاره دعاوکړه چې: د دې عذاب څخه خلاص شو،نو مونږ به
په تا ایمان هم راوړو او بني اسرائیل به هم درسره پرېږدو چې ځان سره
یې بوځې،خو کله چې د موسی علیه السلام په دعا عذاب ختم شو،نو د
هغوی ډېر ښه فصلونه وشول،نو سمدستي یې خپله وعده ماته کړه،او ویې
ویلې چې دا اوبه خو زمونږ د فایدې دپاره وې ځکه چې ډېر زیات
فصلونه مو وشول،دا خو عذاب نه وو،نو الله تعالی ورباندې) وَٱلْجَرَادَ
ملخان راولیږل (ملخانو ټول فصلونه،ګیاه ګانې،ونې او د ونو پاڼې حتی د
کورونو د لرګیو تیران او دروازې یې هم وخوړلې،بیا فرعون په خپله
غلطۍ اقرار وکړو او موسی علیه السلام ته یې محنتونه او زارۍ شروع
کړې چې هغوی معاف کړي او د ایمان د راوړلو وعده یې وکړه خو کله
چې د موسی علیه السلام په دعا عذاب لرې شو بیرته یې وعده خلافې
وکړه او ایمان یې رانوړو،نو الله تعالی ورباندې د) وَٱلْقُمَّلَ سپږو (او

سپړيو عذاب راوليږلو،کورونه يې د سپږو او سپږيو نه ډک شو،چې غلې
او دانې يې ټول سپږيو وخوړل حتى د دوی بدنونه او جامې هم ورڅخه
ډک وو،ليکن د بني اسرآئيلو په کورونو کې نه سپږې وې او نه
سپږی،بلآخره ډېر تنګ شو بيا يې موسی عليه السلام ته عذر او زاری
وکړې،او بيا د هغه عليه السلام په دعاء الله تعالى ورڅخه عذاب لرې
کړو،مګر بيا هم دوی په خپله وعده وفا ونه کړه او ايمان يې رانوړو،نو
دا ځل وربانديې الله تعالى د) وَٱلضَّفَادِعَ د چونګښانو(چندښانو عذاب
راوليږلو،لارې کوڅې،کورونه د ناستې او ملاستې ځايونه کټونه او
بسترې تنورونه وغيره يې ټول د چندښانو نه ډک وو،ليکن د بنی اسرآئيلو
په ځايونو او کورونو کې نه وو،خو بيا هم د موسی عليه السلام په دعا الله
تعالى ترې عذاب لرې کړو،خو کله چې د عذاب څخه خلاص شو نو په
ځای د دې چې ايمان راوړې،ويې ويلې چې اوس زمونږ پوخ يقين وشو
چې موسی عليه السلام ډېر غټ جادوګر دی،دا هر څه د ده د جادو
کرشمې دې، وَٱلدَّمَ او(دا ځل الله تعالى وربانديې) د وينې (عذاب
راوليږلو،د خوراک او څکلو شيان وينه وګرځېدل،د څاه ګانو او نهرونو
اوبه په وينه بدلې شوې،مګر د بنې اسرآئيلو په هيڅ شي کې هم وينه نه
وه،نو قبطيانو يا فرعونيانو به دبنې اسرآئيلو د کورونو نه اوبه
راوړلې،ليکن د بني اسرآئيل په لاس کې به سپينې پاکې اوبه وې خو چې
قبطې يا فرعونې ته به يې څنګه ورکړې سمدستې به په وينه بدلې
شوې،په يو دسترخوان به سره ناست وو،اسرآئيلې به چې ډودۍ خوړله
صحيح به وه خو که قبطې يا فرعونې به لاس وروړو په وينه به بدله
شوه،خو بيا هم لکه د مخکې په شان موسی عليه السلام ته ورغلل،عذر
اوزارۍ يې وکړې،معافي يې وغوښتله،او کلکه وعده يې ورسره
وکړه،چې ايمان به هم راوړو او بنې اسرآئيل به هم ستا سره پريږدو چې

د ځان سره یې بوځي،لیکن دومره جاهلان او ضدیان وو چې د دومره
معجزو سره-سره یې بیا هم ایمان رانوړو،او دا ټولې معجزې یې د موسی
علیه السلام جادو وګڼلو) ءَايَٰتٖ (لیږلې مونږ دا) نښې مُّفَصَّلَٰتٖ
جدا-جدا(یعني دا ټول مصیبتونه مونږ په دوی باندې یو د بل پسې وقفه په
وقفه لیږل،یعني د دوه عذابونو تر منځ به وقفه وه،داسې نه وو چې چې
ټول وربانديې په یو وخت راغلي وو) فَٱسۡتَكۡبَرُواْ (خوبیاهم هغوی عبرت
وانه خستو او ایمان یې را نوړو) او کبر یې وکړو وَكَانُواْ قَوۡمٗا مُّجۡرِمِينَ
او هغوی یو د مجرمانو قوم وو. ﴿١٣٣﴾ وَلَمَّا وَقَعَ او هرکله به چې
راغئ عَلَيۡهِمُ په هغوی باندې ٱلرِّجۡزُ عذاب (د دې ذکر شوو عذابونو
څخه نو) قَالُواْ هغوی به ویلي(موسی علیه السلام ته چې:) يَٰمُوسَى
ای موسی علیه السلامه ٱدۡعُ لَنَا مونږ ته دعا وغواړه رَبَّكَ د خپل رب
نه بِمَا په هغه څه سره عَهِدَ عِندَكَۖ چې ستا سره یې وعده کړې
ده(یعني د فرعونیانو دا یقین وو چې د موسی علیه السلام دعا الله تعالی
قبلوي،نو دوی فکر کولو چې د ده علیه السلام او الله تعالی په منځ کې به
کوم عهد یعني وعده موجود وي) لَئِن یقیناً که چیرته كَشَفۡتَ ته لرې
کړې عَنَّا زمونږ څخه ٱلرِّجۡزَ دا عذاب (یعني که ستا په دعا الله تعالی
زمونږ څخه دا عذاب لرې کړي نو) لَنُؤۡمِنَنَّ لَكَ نو مونږ به خامخا په تا
ایمان راوړو وَلَنُرۡسِلَنَّ او خامخا به مونږ ولیږو مَعَكَ ستا سره بَنِيٓ إِ
سۡرَٰٓءِيلَ بني اسرآئیل(چې د ځان سره یې فلسطین ته بوځي) ﴿١٣٤﴾ فَلَمَّا
كَشَفۡنَا نو کله به چې مونږ لرې کړو عَنۡهُمُ د هغوی څخه ٱلرِّجۡزَ
عذاب إِلَىٰٓ أَجَلٍ د یوې نیټې پورې هُم بَٰلِغُوهُ چې دوی به هغې ته
رسیدونکي وو(یعني د هر مصیبت یا معجزې څخه وروسته فرعونیانو ته
دومره فرصت یا وخت ورکول کیدلو چې نه به دومره زیات وو چې دوی
هغې وخت ته رسیدلای نه شو یعني چې یا به د هغې وخت د راتلو څخه

به مخکې مړه کیدل،او یا به دومره کم وخت وو چې دوی به په کې فکر
او غور نشو کولای،بلکې ښه مناسب او کافي وخت به وو.) إِذَا هُمۡ
ناڅاپه به هغوی يَنكُثُونَ وعده ماته کړه. ﴿١٣٥﴾ فَٱنتَقَمۡنَا نو مونږ انتقام
واخستو مِنۡهُمۡ د هغوی نه فَأَغۡرَقۡنَٰهُمۡ او غرق مو کړل فِي ٱلۡيَمِّ په
درياب کې بِأَنَّهُمۡ ځکه چې كَذَّبُواْ هغوی دروغ ویلې وو بِـَٔايَٰتِنَا
زمونږ په آيتونو باندې وَكَانُواْ او وو هغوی عَنۡهَا د هغې(آيتونو
زمونږ) څخه غَٰفِلِينَ بې پرواه. ﴿١٣٦﴾ وَأَوۡرَثۡنَا او (د فرعونیانو د
هلاکت نه وروسته) مونږ وارثان کړل ٱلۡقَوۡمَ (هغه) خلک ٱلَّذِينَ چې
هغوې كَانُواْ يُسۡتَضۡعَفُونَ کمزورې وو(د فرعونیانو په نظر کې،نو دوی
وارثان شو) مَشَٰرِقَ ٱلۡأَرۡضِ د ځمکې د مشرقي برخو وَمَغَٰرِبَهَا او
دهغې د مغربې برخو ٱلَّتِي هغه(برخې) بَٰرَكۡنَا چې برکت اچولئ وو
مونږ فِيهَاۖ په هغې کې(مثلاً شام او فلسطین په ظاهرې ډول هم ښه شین
،حاصل خیزه او اباد وو،او په باطنې ډول هم د سلهاوو پیغمبرانو مسکن
او مدفن دی،او مصر ته هم یعقوب علیه السلام او یوسف علیه السلام تللي
وو.باید پوه شو چې بني اسرآئیل د یوشع علیه السلام په وخت کې د شام
او فلسطین او د داود علیه السلام او سلیمان علیه السلام په زمانه کې د
مصر حکمرانان شو) وَتَمَّتۡ او پوره شوه كَلِمَتُ رَبِّكَ ٱلۡحُسۡنَىٰ ستا د
رب ښه وعده عَلَىٰ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ د بني اسرآئیلو په حق کې بِمَا په دې
سبب صَبَرُواْۖ چې دوی صبر کړئ وو(د فرعونیانو د ظلمونو په مقابل
کې،په موسی علیه السلام باندې یې ایمان راوړئ وو،او د فرعون د خوا
نه د سختو-سختو ظلمونو او مشکلاتو په مقابل کې یې صبر کړئ وو،او د
موسی علیه السلام سره ثابت قدمه ولاړ وو) وَدَمَّرۡنَا او تباه کړې مونږ
مَا هغه(ودانۍ) كَانَ يَصۡنَعُ فِرۡعَوۡنُ وَقَوۡمُهُۥ چې فرعون او د ده قوم به
جوړولې وَمَا او هغه(قلعه ګانې) كَانُواْ يَعۡرِشُونَ چې هغوی به

لوړولي. ﴿۱۳۷﴾ وَجَٰوَزۡنَا او مونږ پوري ويستل بِبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ بني
اسرآئيل ٱلۡبَحۡرَ په درياب فَأَتَوۡاْ نو (په لار كې) هغوى ورغلل عَلَىٰ
قَوۡمٖ په يو قوم باندې يَعۡكُفُونَ عَلَىٰٓ أَصۡنَامٖ لَّهُمۡۚ چې هغوى د بتانو عبادت
كولو قَالُواْ (نو بني اسرآئيلو چې هغوى وليدل نو موسى عليه السلام ته
يې) وويلې: يَٰمُوسَى اى موسى عليه السلامه! ٱجۡعَل لَّنَآ إِلَٰهٗا مونږ
ته(هم)يو معبود(يعني بت د عبادت دپاره) جوړ كړه كَمَا لَهُمۡ ءَالِهَةٞۚ لكه
څنګه چې د دې (قوم) معبودان دي(يعني مونږ ته هم داسې يو معبود(بت)
د لرګي يا تيږي نه جوړ كړه چې عبادت يې كوو،لكه څنګه چې دې خلكو
جوړ كړي دي) قَالَ موسى عليه السلام ورته وويلې إِنَّكُمۡ بېشكه تاسو
قَوۡمٞ تَجۡهَلُونَ يو جاهل قوم ياستئ ﴿۱۳۸﴾ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ مُتَبَّرٞ مَّا هُمۡ فِيهِ
بېشكه دا خلک چې په كوم شي كې اخته دي،هغه هر څه تباه كيدونكي
دي(يعني دا عابدان او معبودان ټول تباه كيدونكي دي) وَبَٰطِلٞ او باطل
دي مَّا هغه(ټول اعمال) كَانُواْ يَعۡمَلُونَ چې دوى يې كوي. ﴿۱۳۹﴾ قَالَ
(او نور ورته) هغه عليه السلام وويلې چې: أَغَيۡرَ ٱللَّهِ آيا پرته د الله تعالى
څخه أَبۡغِيكُمۡ إِلَٰهٗا زه ستاسو دپاره بل معبود ولټوم وَ حال دا چې هُوَ
هغه جل جلاله فَضَّلَكُمۡ غوره كړي ياستئ تاسو عَلَى ٱلۡعَٰلَمِينَ په
عالمونو باندې(د خپلې زمانې).او همدارنګه الله تعالى خپل احسانونه
وريادوې!) ﴿۱٤۰﴾ وَإِذۡ او(اى بني اسرآئيلو ياد كړئ هغه وخت) كله چې:
أَنجَيۡنَٰكُم مونږ نجات(خلاصى) دركړو تاسو ته مِّنۡ ءَالِ فِرۡعَوۡنَ د
فرعونيانو نه يَسُومُونَكُمۡ چې هغوى به دررساوه تاسو ته سُوٓءَ ٱلۡعَذَابِ
سخت عذاب يُقَتِّلُونَ چې وژل به يې أَبۡنَآءَكُمۡ ځامن ستاسو وَيَسۡتَحۡيُونَ
او ژوندۍ به يې پريښودلې نِسَآءَكُمۡۚ ښځې ستاسو وَفِي ذَٰلِكُم او په دې
كې بَلَآءٞ ازمايښ وو مِّن رَّبِّكُمۡ ستاسو د رب د طرف څخه عَظِيمٞ
ډېر لوى( دا ستاسو د رب د لورې په تاسو لوى امتحان وو) ﴿۱٤۱﴾

۞ وَوَٰعَدۡنَا مُوسَىٰ ثَلَٰثِينَ لَيۡلَةٗ وَأَتۡمَمۡنَٰهَا بِعَشۡرٖ فَتَمَّ مِيقَٰتُ رَبِّهِۦٓ أَرۡبَعِينَ لَيۡلَةٗۚ
وَقَالَ مُوسَىٰ لِأَخِيهِ هَٰرُونَ ٱخۡلُفۡنِي فِي قَوۡمِي وَأَصۡلِحۡ وَلَا تَتَّبِعۡ سَبِيلَ ٱلۡمُفۡسِدِينَ
﴿١٤٢﴾ وَلَمَّا جَآءَ مُوسَىٰ لِمِيقَٰتِنَا وَكَلَّمَهُۥ رَبُّهُۥ قَالَ رَبِّ أَرِنِيٓ أَنظُرۡ إِلَيۡكَۚ قَالَ
لَن تَرَىٰنِي وَلَٰكِنِ ٱنظُرۡ إِلَى ٱلۡجَبَلِ فَإِنِ ٱسۡتَقَرَّ مَكَانَهُۥ فَسَوۡفَ تَرَىٰنِيۚ فَلَمَّا تَجَلَّىٰ
رَبُّهُۥ لِلۡجَبَلِ جَعَلَهُۥ دَكّٗا وَخَرَّ مُوسَىٰ صَعِقٗاۚ فَلَمَّآ أَفَاقَ قَالَ سُبۡحَٰنَكَ تُبۡتُ إِلَيۡكَ
وَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿١٤٣﴾ قَالَ يَٰمُوسَىٰٓ إِنِّي ٱصۡطَفَيۡتُكَ عَلَى ٱلنَّاسِ بِرِسَٰلَٰتِي
وَبِكَلَٰمِي فَخُذۡ مَآ ءَاتَيۡتُكَ وَكُن مِّنَ ٱلشَّٰكِرِينَ ﴿١٤٤﴾ وَكَتَبۡنَا لَهُۥ فِي ٱلۡأَلۡوَاحِ مِن
كُلِّ شَيۡءٖ مَّوۡعِظَةٗ وَتَفۡصِيلٗا لِّكُلِّ شَيۡءٖ فَخُذۡهَا

بِقُوَّةٖ وَأۡمُرۡ قَوۡمَكَ يَأۡخُذُواْ بِأَحۡسَنِهَاۚ سَأُوْرِيكُمۡ دَارَ ٱلۡفَٰسِقِينَ ﴿١٤٥﴾ سَأَصۡرِفُ
عَنۡ ءَايَٰتِيَ ٱلَّذِينَ يَتَكَبَّرُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّ وَإِن يَرَوۡاْ كُلَّ ءَايَةٖ لَّا
يُؤۡمِنُواْ بِهَا وَإِن يَرَوۡاْ سَبِيلَ ٱلرُّشۡدِ لَا يَتَّخِذُوهُ سَبِيلٗا وَإِن يَرَوۡاْ سَبِيلَ ٱلۡغَيِّ
يَتَّخِذُوهُ سَبِيلٗاۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَكَانُواْ عَنۡهَا غَٰفِلِينَ ﴿١٤٦﴾ وَٱلَّذِينَ
كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَلِقَآءِ ٱلۡأٓخِرَةِ حَبِطَتۡ أَعۡمَٰلُهُمۡۚ هَلۡ يُجۡزَوۡنَ إِلَّا مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ
﴿١٤٧﴾

۞ وَوَٰعَدۡنَا او (د تورات د ورکولو دپاره) مونږ. غوښتئ وو مُوسَىٰ موسی علیه السلام ثَلَٰثِينَ لَيۡلَةٗ د دیرش شپو(او ورځو)دپاره(د سینا غره ته یا طور سینا ته) وَأَتۡمَمۡنَٰهَا بِعَشۡرٖ او وروسته مو لس شپې (او ورځې)نورې زیاتې کړې فَتَمَّ مِيقَٰتُ رَبِّهِۦٓ أَرۡبَعِينَ لَيۡلَةٗۚ په دې ترتیب د هغه د رب ټاکلې موده پوره څلویښت شپې(او ورځې)شوه(او موسی علیه السلام په طور باندې «چله» پوره کړه،او په دې دوران کې موسی علیه السلام مسلسل روژې هم ونیولې). وَقَالَ او(کله چې موسی علیه السلام د سینا غره ته تللو نو) وویل مُوسَىٰ موسی علیه السلام لِأَخِيهِ خپل ورور هَٰرُونَ هارون علیه السلام ته ٱخۡلُفۡنِي ته خلیفه شه زما فِي

قَوۡمِي زما په قوم کې(یعني زما د راتلو پورې زما په ځای ته کار کوه)
وَأَصۡلِحۡ او اصلاح کوه وَلَا تَتَّبِعۡ او پیروي مه کوه سَبِيلَ د لارې
ٱلۡمُفۡسِدِينَ د فساد کوونکو(یعني د فساد کوونکو خبره مه منه او مه د
هغوی په خوبنه کار کوه) ﴿١٤٢﴾ وَلَمَّا او کله چې جَآءَ راغئ مُوسَىٰ
موسی«علیه السلام» لِمِيقَٰتِنَا زمونږ ټاکلي وخت ته(طور سینا ته)
وَكَلَّمَهُۥ رَبُّهُۥ او خپل رب یې ورسره خبرې وکړې قَالَ هغه(یعني موسی
علیه السلام) وویل رَبِّ ای زما ربه أَرِنِيٓ ته ما ته (خپل ځان) وښیه
أَنظُرۡ إِلَيۡكَۚ چې زه تا ته وګورم قَالَ الله تعالی وفرمایل لَن تَرَىٰنِي ته
هیڅکله ما نشي لیدلای(په دنیا کې) وَلَٰكِنِ لیکن ٱنظُرۡ اوګوره إِلَى
ٱلۡجَبَلِ غر طرف ته فَإِنِ نو که چیرته ٱسۡتَقَرَّ تینګ شو(غر) مَكَانَهُۥ
په خپل ځای فَسَوۡفَ تَرَىٰنِيۚ نو ته به (هم) ما وګورې فَلَمَّا نو کله چې
تَجَلَّىٰ تجلي وکړه رَبُّهُۥ رب د هغه لِلۡجَبَلِ په غر باندې جَعَلَهُۥ
(نو)کړو ئې هغه(غر) دَكًّا زره-زره وَخَرَّ او پریوتلو مُوسَىٰ موسی
علیه السلام صَعِقٗاۚ بی هوشه فَلَمَّآ نو بیا کله چې أَفَاقَ هغه علیه السلام
په هوش کې شو قَالَ (نو)وئې ویلې سُبۡحَٰنَكَ (ای الله) ته پاک یې تُبۡتُ
إِلَيۡكَ زه ستا په دربار کې توبه وباسم وَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ او د ټولو اول
زه ایمان راوړونکئ یم(یعني ای الله زه په تا باندې پرته د لیدلو څخه د
ټولو نه اول ایمان راوړونکئ یم) ﴿١٤٣﴾ قَالَ الله تعالی وفرمایل
يَٰمُوسَىٰٓ ای موسی«علیه السلام» إِنِّي بېشکه ما ٱصۡطَفَيۡتُكَ غوره کړئ
یې ته عَلَى ٱلنَّاسِ په خلکو باندې بِرِسَٰلَٰتِي د خپلې پیغمبری په سبب
وَبِكَلَٰمِي او زما سره د خبرو کولو په سبب فَخُذۡ نو واخله مَآ هغه څه
ءَاتَيۡتُكَ چې زه ئې تا ته درکوم وَكُن او شه مِّنَ د ٱلشَّٰكِرِينَ شکر
کوونکو څخه(یعني دا کومې تختې چې مونږ ئې تا ته درکوو،دا واخله،او
کوم احکام چې په کې لیکلې دي د هغوی حق آدا کړه) ﴿١٤٤﴾ وَكَتَبۡنَا او

ولیکل مونږ لَهُۥ هغه ته فِي ٱلۡأَلۡوَاحِ په تختو کې مِن كُلِّ شَيۡءٖ د هر شي په باره کې مَّوۡعِظَةٗ نصیحت وَتَفۡصِيلٗا لِّكُلِّ شَيۡءٖ او د هرشي دپاره تفصیل(یعني د شریعت ټول احکام په دې تختو کې لیکل شوي وو.نو الله تعالی هغه علیه السلام ته وفرمایل:) فَخُذۡهَا نو واخله دا(د تورات تختې) بِقُوَّةٖ په قوت(او کلک عزم) سره وَأۡمُرۡ او حکم وکړه قَوۡمَكَ خپل قوم ته يَأۡخُذُواْ چې عمل وکړې بِأَحۡسَنِهَاۚ په بهتر ډول په دې(احکامو)باندې سَأُوْرِيكُمۡ (او)زر به زه وښایم تاسوته دَارَ کور ٱلۡفَٰسِقِينَ د فاسقانو (د دې څخه فلسطین مراد دی،بني اسرآئیل ۷۰۰ یا ۸۰۰ کلونه پخوا د یوسف علیه السلام په غوښتنه د فلسطین نه مصر ته تللې وو،چې اوس د مشرکانو او فاسقانو په لاس کې و،دلته د دې ذکر کیږي، چې زه به زر تاسو هغې ځمکې ته بوځم چې:ستاسو اصلي وطن دی،لیکن اوس د مشرکانو او فاسقانو په لاس کې دی،تاسو به دهغې نافرمانه خلکو سره جنګ کوئ او خپل وطن به ازادوئ،کله چې د جهاد حکم وشو نو بني اسرآئیلو موسی علیه السلام ته عذرونه وړاندې کړل چې هغه ډېر زورو او طاقتور خلک دي او د هغوی سره جنګ کول زمونږ په وسه کې نه دي،د دې واقعې تفصیل په سورةالمائده کې تیر شوئ دی.بیان القرآن) ( ﴿١٤٥﴾ )

او الله تعالی فرمایي!

سَأَصۡرِفُ زر به واړوم (زر به وګرځوم) عَنۡ ءَايَٰتِيَ د خپلو آیتونو(او نشانو) څخه ٱلَّذِينَ هغه خلک يَتَكَبَّرُونَ چې تکبر کوي فِي ٱلۡأَرۡضِ په ځمکه کې بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّ په ناحقه سره(الله تعالی پخپله کبرجنو ته په خپلو آیاتونو باندې د پوهیدلو،فکر،غور او عمل کولو توفیق نه ورکوي.ځکه چې کبرجن د الله تعالی ډېر بدې شي،اګر که قرآن لولې،په

كائيناتو او په خپلو ځانونو كې د الله تعالى د معرفت آياتونه او نښې ګورې خو په زړه يې هيڅ تاثير نه كوي نه يې په زړه كې د الله ويره پيدا كيږي او نه د ګناه او ظلمونو كولو څخه لاس اخلې،ته به وايې چې نه يې قرآن لوستئ دى او نه ترې خبر دى،دا د كبرجنو د دنيا عذاب دى،چې الله تعالى يې وركوي،تر څو چې د تكبر څخه لاس وانخلې او توبه ونه باسې هيڅكه به د قرآن او د الله تعالى د آيتونو څخه فايده وانخلې،د حديث شريف مفهوم دى چې د چا په زړه كې د ورې د دانې په اندازه تكبر وي جنت ته به داخل نشى،اصلاً كبرجن د الله تعالى په نظر كې د دې لايق نه دي چې يا په خپلو آياتونو د پوهيدلو او غور كولو او يا په سمه لار د تللو توفيق وركړي.بيان القران) وَإِن او كه چيرته يَرَوۡاْ دوى(يعني كبرجن خلک)وګورې كُلَّ ټول ءَايَةٖ آياتونه(او نښانې خو بياهم) لَّا يُؤۡمِنُواْ دوى ايمان نه راوړې بِهَا په هغې(آيتونو او نښانو ځكه چې د تكبر په سبب الله تعالى د ايمان راوړلو توفيق نه وركوي) وَإِن او كه چيرته يَرَوۡاْ دا(كبرجن) وګورې سَبِيلَ لار ٱلرُّشۡدِ د هدايت لَا يَتَّخِذُوهُ (بياهم) دوى نه نيسې هغه سَبِيلٗا لار(د هدايت ځكه چې د دوى د كبر په سبب الله تعالى د هدايت د لارې د نيولو توفيق نه وركوي.) وَإِن او كه چيرته يَرَوۡاْ وګورې دوى سَبِيلَ لار ٱلۡغَيِّ د بدئ يَتَّخِذُوهُ دوى نيسې هغه سَبِيلٗاۚ لار(د بدئ ځكه چې د دوى د كبر په سبب الله تعالى د بدې لارې څخه د بچ كيدلو توفيق نه وركوي.) ذَٰلِكَ دا (عذاب كبرجنو ته) بِأَنَّهُمۡ په دې سبب(الله تعالى وركوي) چې دوى دروغ ويلې كَذَّبُواْ زمونږ په آياتونو باندې(د كبر په سبب،لكه فرعون بنه پوهيدو چې بِـَٔايَٰتِنَا موسى عليه السلام د الله پيغمبر دى مګر د كبر په سبب چې زه اوس څنګه د يو فقير خبره ومنم او د هغه پسې روان شم نو د موسى عليه السلام او د الله تعالى د واضحه آيتونو تكذيب يې وكړ، او ابوجهل بنه

پوهيدو چې محمد «صلى الله على وسلم» د الله تعالى پيغمبر دى ليکن د تکبر په سبب چې زه به اوس د دې غريبانو په ډله کې ناست يم او د محمد صلى الله عليه وسلم تابعداري به کوم،نو د هغه انا او تکبر يې د ايمان راوړلو مانع شو،او د محمد صلى الله عليه وسلم او د الله تعالى د آياتونو تکذيب يې وکړو،او اوس خو هرې خواته په زرهاوو فرعونيان او د ابوجهل په شان خلک موجود دي،اکثره کبرجن خلک د قرآن تلاوت هم کوي ليکن ښنګه چې د قرآن د تلاوت ښخه مخکې وي،د تلاوت ښخه وروسته هم هماغسې وي،يعنې نه به يې په زړه ښه تاثير شوئ وي او نه به يې د قرآن د آيتونو ښخه ښه فايده او ګټه اخستې وي،دستې به يې د ظلم،قتل،غلا،بې عدالتئ،سود او نورو په باره کې آيتونه تلاوت کړي وى،ليکن د تلاوت نه وروسته به هماغسې ظلمونه،قتلونه،بې عدالتئ او جرمونه کوي لکه د تلاوت ښخه يې چې مخکې کول،اکثره خلک خو دې ته توجه نه کوي ليکن په کبرجنو باندې دا هغه الهي عذاب دى چې الله تعالى ترې نه په خپل کتاب باندې د پوهيدلو،غورکولو او عمل کولو توفيق اخستئ دى.) وَكَانُواْ او وو دوى عَنۡهَا د هغې(آيتونو)ښخه غَٰفِلِينَ بې پروا (په سبب د کبر د دوى) ﴿١٤٦﴾ وَٱلَّذِينَ او هغه خلک كَذَّبُواْ چې دروغ يې وويلې بِـَٔايَٰتِنَا زمونږ په آياتونو باندې وَلِقَآءِ او(دروغ يې وويلې) په ملاقات باندې ٱلۡأٓخِرَةِ د آخرت حَبِطَتۡ (نو)برباد شو أَعۡمَٰلُهُمۡۚ عملونه د دوى هَلۡ يُجۡزَوۡنَ (او) بدل نه ورکول کيږي دوى ته إِلَّا مګر مَا د هغې(عملونو بدل ورکول کيږي) كَانُواْ يَعۡمَلُونَ چې دوى يې کوي ﴿١٤٧﴾

وَٱتَّخَذَ قَوۡمُ مُوسَىٰ مِنۢ بَعۡدِهِۦ مِنۡ حُلِيِّهِمۡ عِجۡلٗا جَسَدٗا لَّهُۥ خُوَارٌۚ أَلَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّهُۥ لَا يُكَلِّمُهُمۡ وَلَا يَهۡدِيهِمۡ سَبِيلًاۘ ٱتَّخَذُوهُ وَكَانُواْ ظَٰلِمِينَ ﴿١٤٨﴾ وَلَمَّا سُقِطَ فِيٓ أَيۡدِيهِمۡ وَرَأَوۡاْ أَنَّهُمۡ قَدۡ ضَلُّواْ قَالُواْ لَئِن لَّمۡ يَرۡحَمۡنَا رَبُّنَا وَيَغۡفِرۡ لَنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ

ٱلۡخَٰسِرِينَ ﴿١٤٩﴾ وَلَمَّا رَجَعَ مُوسَىٰٓ إِلَىٰ قَوۡمِهِۦ غَضۡبَٰنَ أَسِفٗا قَالَ بِئۡسَمَا
خَلَفۡتُمُونِي مِنۢ بَعۡدِيٓۖ أَعَجِلۡتُمۡ أَمۡرَ رَبِّكُمۡۖ وَأَلۡقَى ٱلۡأَلۡوَاحَ وَأَخَذَ بِرَأۡسِ أَخِيهِ يَجُرُّهُۥٓ
إِلَيۡهِۚ قَالَ ٱبۡنَ أُمَّ إِنَّ ٱلۡقَوۡمَ ٱسۡتَضۡعَفُونِي وَكَادُواْ يَقۡتُلُونَنِي فَلَا تُشۡمِتۡ بِيَ ٱلۡأَعۡدَآءَ
وَلَا تَجۡعَلۡنِي مَعَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٥٠﴾ قَالَ رَبِّ ٱغۡفِرۡ لِي وَلِأَخِي وَأَدۡخِلۡنَا فِي
رَحۡمَتِكَۖ وَأَنتَ أَرۡحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ ﴿١٥١﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ ٱلۡعِجۡلَ سَيَنَالُهُمۡ غَضَبٞ
مِّن رَّبِّهِمۡ وَذِلَّةٞ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۚ وَكَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُفۡتَرِينَ ﴿١٥٢﴾ وَٱلَّذِينَ
عَمِلُواْ ٱلسَّيِّـَٔاتِ ثُمَّ تَابُواْ مِنۢ بَعۡدِهَا وَءَامَنُوٓاْ إِنَّ رَبَّكَ مِنۢ بَعۡدِهَا لَغَفُورٞ رَّحِيمٞ
﴿١٥٣﴾

وَٱتَّخَذَ او جوړ کړو قَوۡمُ مُوسَىٰ د موسی علیه السلام قوم مِنۢ بَعۡدِهِۦ وروسته د هغه علیه السلام(د تللو نه طورسینا ته) مِنۡ حُلِيِّهِمۡ د خپلو زیوراتو(او ګاڼو) څخه عِجۡلٗا د خوسې جَسَدٗا یوه مجسمه لَّهُۥ خُوَارٌۚ چې د هغې څخه یو اواز(راوتلو.دا د خوسې مجسمه سامرې د خلکو د زیوراتو څخه جوړه کړې وه،او په یو خاص مهارت او تخنیک سره یې په کې سورې کړې وو،چې په دې سوریو کې به د هوا د داخلیدلو او خارجیدلو پواسطه یو اواز پیدا کیدلو:ابن جریر رحمةالله علیه وایي چې: په دُبر یعني د شاه د خوا څخه به هوا ورننوته،او په خوله به یې وتله،نو د هوا د جریان پواسطه به ترې یو اواز وتلو.سامرې خلکو ته وویل چې ستاسو اصلي خدای همدا دی،دا خپل معبود ومنئ،او عبادت ورته کوئ،نو الله تعالی فرمایي چې:) أَلَمۡ يَرَوۡاْ آیا دوی نه لیدل أَنَّهُۥ چې:هغه(د خوسې مجسمه) لَا يُكَلِّمُهُمۡ د دوی سره نه خبرې کولای شي(یعني هسې بې مفهومه او بې مطلبه اواز ترې راوځي چې نه ورباندې دوی پوهیږي او نه ورته څه ګټه کوي) وَلَا يَهۡدِيهِمۡ سَبِيلًاۘ او نه دوی ته څه سمه لار ښودلای شي(لیکن بیا هم) ٱتَّخَذُوهُ دوی ونیوله هغه (د خوسې مجسمه په خدایۍ،او عبادت یې ورته شروع کړو) وَكَانُواْ او دوی وو ظَٰلِمِينَ

ظالمان(په خپلو ځانونو باندې يې ظلم وکړو) ﴿١٤٨﴾ وَلَمَّا او کله چې
سُقِطَ فِيٓ أَيۡدِيهِمۡ دوی پښیمانه شو(په خپل عمل باندې) وَرَأَوۡاْ او پوه
شول أَنَّهُمۡ قَدۡ چې پرته د شک څخه ضَلُّواْ دوی ګمراه شويدي(خوسې
ته د عبادت کولو په سبب) قَالُواْ (نو)ويې ويلې لَئِن که چیرته لَّمۡ
يَرۡحَمۡنَا رحم ونکړي په مونږ رَبُّنَا رب زمونږ وَيَغۡفِرۡ او بخښنه
ونکړي لَنَا مونږ ته لَنَكُونَنَّ خامخا به شو مونږ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ د
تاوانیانو څخه. ﴿١٤٩﴾ وَلَمَّا او کله چې رَجَعَ بیرته راغئ مُوسَىٰٓ
موسی علیه السلام (د طور سینا څخه) إِلَىٰ قَوۡمِهِۦ خپل قوم ته غَضۡبَٰنَ
غصه أَسِفٗا (او) خفه قَالَ (نو)هغه علیه السلام وویلې(خپل قوم ته)
بِئۡسَمَا خَلَفۡتُمُونِي مِنۢ بَعۡدِيٓۖ زما نه وروسته مو زما ډیر بد نیابت کړئ(چې
د خوسې عبادت مو وکړو) أَعَجِلۡتُمۡ أَمۡرَ رَبِّكُمۡۖ آیا د خپل رب په کار کې
مو دومره تلوار وکړو(یعنې تاسو ولې دومره بې صبرې وکړه،چې زما د
راتلو څخه مو مخکې دومره غټه فیصله کړې ده چې په خپلو لاسونو مو
ځان ته باطل معبود جوړ کړئ،او د حقیقې رب سره مو شرک کړئ دی)
وَأَلۡقَى ٱلۡأَلۡوَاحَ او د(تورات) تختې یې کیښودې وَأَخَذَ بِرَأۡسِ أَخِيهِ او خپل
ورور(هارون علیه السلام) یې د سر(د ویښتو څخه) ونیوو يَجُرُّهُۥٓ او
راکش یې کړو إِلَيۡهِۚ خپل ځان ته قَالَ (ورور یې یعنې هارون علیه
السلام ورته) وویلې ٱبۡنَ أُمَّ زما د مور ځویه إِنَّ ٱلۡقَوۡمَ بېشکه دې قوم
ٱسۡتَضۡعَفُونِي زه کمزوری وګڼلم وَكَادُواْ يَقۡتُلُونَنِي او نژدې وو چې ومې
وژنې(ځکه چې ما د شرک څخه منع کول او نصیحت مې ورته کولو)
فَلَا تُشۡمِتۡ بِيَ ٱلۡأَعۡدَآءَ نو دشمنان راباندې مه خوشالوه وَلَا تَجۡعَلۡنِي او مه
مې ګرځوه مَعَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ د ظالم قوم سره.(یعنې ما د ظالمانو په
ډله کې مه حسابوه، موسی علیه السلام چې په حقیقت پوه شو نو دعا ئې
وکړه او !)﴿١٥٠﴾ قَالَ ويې ويلې رَبِّ ای زما ربه ٱغۡفِرۡ لِي بخښنه

وکړه ما ته وَلِأَخِي او(بخښنه وکړه) زما وړور ته وَأَدۡخِلۡنَا او داخل
کړه مونږ فِي رَحۡمَتِكَۖ ستا په رحمت کې وَأَنتَ او ته أَرۡحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ
ډېر زيات رحم کوونکئ او مهربان ذات يې. (١٥١) إِنَّ ٱلَّذِينَ بېشکه هغو
خلکو ٱتَّخَذُواْ ٱلۡعِجۡلَ چې خوسی يې په(خدايی) نيولئ دی سَيَنَالُهُمۡ هغوی
ته به زر وړورسيږي غَضَبٞ غضب مِّن رَّبِّهِمۡ د خپل رب د طرف
څخه وَ او(ورو به رسيږي) ذِلَّةٞ ذلت فِي ٱلۡحَيَوٰةِ په ژوند کې ٱلدُّنۡيَاۚ د
دنيا وَكَذَٰلِكَ او دغه ډول نَجۡزِي جزا ورکوو مونږ ٱلۡمُفۡتَرِينَ دروغ
جوړونکو ته (د خپل رب په باره کې). ﴿١٥٢﴾ وَٱلَّذِينَ او هغو خلکو
عَمِلُواْ ٱلسَّيِّـَٔاتِ چې هغوی ګناهونه کړي دي ثُمَّ تَابُواْ بيا يې توبه
ويستلې ده(په اخلاص سره) مِنۢ بَعۡدِهَا وروسته د هغې(ګناهونو د کولو
نه) وَءَامَنُوٓاْ او ايمان يې راوړئ دی(په اخلاص سره) إِنَّ رَبَّكَ (نو)
پرته د شک څخه رب ستا مِنۢ بَعۡدِهَا وروسته د دې(توبې د ويستلو
څخه) لَغَفُورٞ خامخا بخونکئ رَّحِيمٞ (او) رحيم دی. ﴿١٥٣﴾

وَلَمَّا سَكَتَ عَن مُّوسَى ٱلۡغَضَبُ أَخَذَ ٱلۡأَلۡوَاحَۖ وَفِي نُسۡخَتِهَا هُدٗى وَرَحۡمَةٞ لِّلَّذِينَ
هُمۡ لِرَبِّهِمۡ يَرۡهَبُونَ ﴿١٥٤﴾ وَٱخۡتَارَ مُوسَىٰ قَوۡمَهُۥ سَبۡعِينَ رَجُلٗا لِّمِيقَٰتِنَاۖ فَلَمَّآ
أَخَذَتۡهُمُ ٱلرَّجۡفَةُ قَالَ رَبِّ لَوۡ شِئۡتَ أَهۡلَكۡتَهُم مِّن قَبۡلُ وَإِيَّٰيَۖ أَتُهۡلِكُنَا بِمَا فَعَلَ
ٱلسُّفَهَآءُ مِنَّآۖ إِنۡ هِيَ إِلَّا فِتۡنَتُكَ تُضِلُّ بِهَا مَن تَشَآءُ وَتَهۡدِي مَن تَشَآءُۖ أَنتَ وَلِيُّنَا
فَٱغۡفِرۡ لَنَا وَٱرۡحَمۡنَاۖ وَأَنتَ خَيۡرُ ٱلۡغَٰفِرِينَ ﴿١٥٥﴾ ۞ وَٱكۡتُبۡ لَنَا فِي هَٰذِهِ ٱلدُّنۡيَا
حَسَنَةٗ وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِ إِنَّا هُدۡنَآ إِلَيۡكَۚ قَالَ عَذَابِيٓ أُصِيبُ بِهِۦ مَنۡ أَشَآءُۖ وَرَحۡمَتِي
وَسِعَتۡ كُلَّ شَيۡءٖۚ فَسَأَكۡتُبُهَا لِلَّذِينَ يَتَّقُونَ وَيُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱلَّذِينَ هُم بِـَٔايَٰتِنَا
يُؤۡمِنُونَ ﴿١٥٦﴾ ٱلَّذِينَ يَتَّبِعُونَ ٱلرَّسُولَ ٱلنَّبِيَّ ٱلۡأُمِّيَّ ٱلَّذِي يَجِدُونَهُۥ مَكۡتُوبًا
عِندَهُمۡ فِي ٱلتَّوۡرَىٰةِ وَٱلۡإِنجِيلِ يَأۡمُرُهُم بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَيَنۡهَىٰهُمۡ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ وَيُحِلُّ
لَهُمُ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيۡهِمُ ٱلۡخَبَٰٓئِثَ وَيَضَعُ عَنۡهُمۡ إِصۡرَهُمۡ وَٱلۡأَغۡلَٰلَ ٱلَّتِي كَانَتۡ

عَلَيۡهِمۡۚ فَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِهِۦ وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَٱتَّبَعُواْ ٱلنُّورَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ مَعَهُۥٓ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ﴿١٥٧﴾

وَلَمَّا او کله چې سَكَتَ سړه شوه عَن مُّوسَى د موسی علیه السلام ٱلۡغَضَبُ غصه أَخَذَ (نو) راوا یې خیستې ٱلۡأَلۡوَاحَۖ تختې(د تورات) وَفِي نُسۡخَتِهَا چې په لیک د هغې(تختو کې زیری د) هُدٗى هدایت وَرَحۡمَةٞ او رحمت وو لِّلَّذِينَ د هغو خلکو دپاره هُمۡ چې هغوی لِرَبِّهِمۡ یوازې د خپل رب څخه يَرۡهَبُونَ ویریږي ﴿١٥٤﴾

هغه خلک چې د آخره پورې یعني د موسې علیه السلام د راتلو پورې یې د خوسې عبادت کولو،هغوی خو ووژل شو،خو د اجتماعې توبې دپاره موسې علیه السلام د الله تعالی په حکم باندې د قوم ۷۰ کسان مشران د ځان سره کوه طور ته بوتلل.

الله تعالی فرمایې:

وَٱخۡتَارَ او انتخاب کړل مُوسَىٰ موسی علیه السلام قَوۡمَهُۥ د خپل قوم څخه سَبۡعِينَ اویا (۷۰) رَجُلٗا سړي لِّمِيقَٰتِنَاۖ (چې د موسی علیه السلام سره) زمونږ ټاکلې وخت ته (د توبې ویستلو دپاره کوه طور ته راغله) فَلَمَّآ خو کله چې أَخَذَتۡهُمُ ٱلرَّجۡفَةُ هغوی زلزلې ونیول(یعنې کله چې هغوی ته د وجود ریږدیدل یا د ځمکنۍ زلزلې په شان خوفناک کیفیت پیدا شو،نو!) قَالَ هغه«علیه السلام» وویلې رَبِّ ای زما ربه! لَوۡ شِئۡتَ که چیرې تا غوښتلئ أَهۡلَكۡتَهُم هلاک کړې به دې وو دوی(یعنې دا ۷۰ کسان) مِّن قَبۡلُ مخکې د دې څخه وَإِيَّٰيَۖ او زه هم أَتُهۡلِكُنَا آیا ته مونږ هلاکوې؟ بِمَا په سبب د هغه(جرم) فَعَلَ چې کړئ دی هغه(جرم) ٱلسُّفَهَآءُ کم عقلانو مِنَّآۖ زمونږ نه(ای زما ربه! د قوم یو

څه جاهلو خلکو چې کوم جرم کړئ وو،هغوی ته د خپل جرم جزا هم ورکول شوه،مونږ د هغې جرم داسې کفاره ورکړه،چې مونږ په خپلو لاسونو هغوی ووژل) إِنۡ هِيَ نه دی دا إِلَّا فِتۡنَتُكَ مگر ستا امتحان دی تُضِلُّ گمراه کوې بِهَا په دې (امتحان سره) مَن تَشَآءُ څوک چې ته وغواړې(هر څوک چې په دې امتحان کې د کامیابیدو نمبرې پوره نکړي،او ستا انصاف،عدالت او حکمت ئې ناکام کړي،او د گمراهۍ فیصله ورباندې وکړي، نو ته ئې گمراه کوې.) وَتَهۡدِي او هدايت کوې مَن تَشَآءُۖ چا ته چې ته وغواړې(هر څوک چې په دې امتحان کې د کامیابیدلو نمبرې پوره کړي،او ستا عدالت ،انصاف او حکمت ئې کامیاب کړي،او د هدایت ورکولو فیصله یې وکړي، نو ته ورته هدایت کوې.او په ډیره عاجزۍ سره دعا ته ادامه ورکوي وایې چې:) أَنتَ (ای زما ربه) ته وَلِيُّنَا زمونږ مددگار(او مرسته کوونکۍ)يې فَٱغۡفِرۡ لَنَا نو بخښنه وکړه مونږ ته وَٱرۡحَمۡنَاۖ او رحم وکړه په مونږ وَأَنتَ او ته خَيۡرُ ډیر ښه ٱلۡغَٰفِرِينَ بخوونکۍ يې. ﴿١٥٥﴾ ۝ وَ او(موسی علیه السلام خپلې دعا ته دوام ورکوي او وایې چې ای زما ربه!) ٱكۡتُبۡ ولیکه لَنَا مونږ ته (او راکړه مونږ ته) فِي هَٰذِهِ ٱلدُّنۡيَا په دې دنیا کې حَسَنَةً نیکي(یعني په دنیا کې د نیکو عملونو د کولو توفیق راکړه) وَ او (ولیکه مونږ ته،او راکړه مونږ ته) فِي ٱلۡأٓخِرَةِ په آخرت کې(هم نیکي یعني جنت ته مو داخل کړه) إِنَّا هُدۡنَآ إِلَيۡكَۚ بېشکه چې مونږ تا ته په ریښتینې توگه رجوع کړیده(درته توبه گار شوي یو)

قَالَ الله تعالی وفرمایل عَذَابِيٓ أُصِيبُ بِهِۦ مَنۡ أَشَآءُۖ زه خپل عذاب چا ته چې غواړم هغه ته ئې وررسوم(د چا په باره کې چې زما عدالت،انصاف او حکمت د عذاب فیصله وکړي،هغه ته عذاب ورکوم،یعنې عذاب د هر چا دپاره نه دی.) وَرَحۡمَتِي او رحمت زما

وَسِعَتۡ پراخه(او محیط)دی كُلَّ شَيۡءٖۚ په هر شي(یعنې زما یو رحمت عام دی په دنیا کې په هر شي باندې محیط دی،په کائیناتو کې د هرشی وجود او بقا زما د دې عام رحمت په سبب ده،هر شی،او هر نیک او بد د دې رحمت څخه حصه دار دی.لیکن زما خاص رحمت د کوم دپاره چې تاسو اوس سوال کوئ)

فَسَأَكۡتُبُهَا نو ورکوم زه دا(خاص رحمت یعنې خپله رضاء او جنت) لِلَّذِينَ هغو خلکو ته يَتَّقُونَ چې ویرېږي د الله تعالی څخه وَيُؤۡتُونَ او ورکوي ٱلزَّكَوٰةَ زکات وَٱلَّذِينَ او هغو خلکو ته(هم خپل خاص رحمت یعنې خپله رضاء او جنت په آخرت کې ورکوم) هُم چې هغوی بِـَٔايَٰتِنَا زمونږ په آیتونو باندې يُؤۡمِنُونَ ایمان لري ﴿١٥٦﴾

اوس بنې اسرآئیلو ته په محمد«صلی الله علیه وسلم»باندې د ایمان راوړلو ته دعوت ورکول کیږي چې: ای بنې اسرآئیلو کوم شرایط چې د الله تعالی د خاص رحمت یعنې د الله تعالی د رضاء او د جنت د حاصلولو دپاره په تاسو باندې د موسی علیه السلام په زمانه کې ایښودل شوي وو،اوس هم هماغه شرایط درباندې دي،او دا د هماغې شرایطو تقاضاء او غوښتنه ده چې تاسو باید په محمد«صلی الله علیه وسلم» باندې ایمان راوړئ،ځکه چې:د محمد«صلی الله علیه وسلم» صفتونه او په هغه «صلی الله علیه وسلم»باندې ایمان راوړل د تورات او انجیل په آیاتونو کې شته دی،نو په محمد«صلی الله علیه وسلم» او قرآنکریم باندې ایمان نه راوړل،دا خو د الله تعالی د آیتونو څخه انکار دی یعنې هم د تورات او انجیل د آیتونو څخه انکار کوئ او هم د قرآنکریم د آیتونو څخه،او د الله تعالی د آیتونو څخه انکار خو لویه نافرمانې ده،او نافرمانه هیڅکله متقي نشي کیدلای،فلهذا په محمد«صلی الله علیه وسلم»او قرانکریم باندې د ایمان

راوړلو ښخه پرته تاسو د الله تعالی خاص رحمت یعنې د الله تعالی رضاء او جنت نه شئ حاصلولای.نو اوس دا رحمت د هغه چا په برخه دی!

ٱلَّذِينَ هغوی چې يَتَّبِعُونَ پیروي کوي ٱلرَّسُولَ ٱلنَّبِيَّ ٱلۡأُمِّيَّ د امي رسول(او) نبي ٱلَّذِي هغه (امي رسول) يَجِدُونَهُۥ چې د هغه«صلی الله علیه وسلم»(ذکر) موجود دی مَكۡتُوبًا لیکل شوئ عِندَهُمۡ د هغوی سره فِي ٱلتَّوۡرَىٰةِ په تورات کې وَٱلۡإِنجِيلِ او په انجیل کې يَأۡمُرُهُم چې هغه(امي رسول) امر کوي هغوی ته بِٱلۡمَعۡرُوفِ په نیکۍ سره وَيَنۡهَىٰهُمۡ او منع کوی وی هغوی عَنِ ٱلۡمُنكَرِ د بدۍ ښخه وَيُحِلُّ او حلالوي لَهُمُ هغوی ته ٱلطَّيِّبَٰتِ پاک شیان(په بني اسرآئیلو باندې ځینې شیان د دوی د بدکاریو په سبب حرام شوي وو،نو فرمایي چې آخرنی نبي«صلی الله علیه وسلم» به د دوی ښخه دا ټول بندیزونه لرې کړي،او ټول پاک شیونه به ورته حلال کړي) وَيُحَرِّمُ او حراموي عَلَيۡهِمُ په هغوی باندې ٱلۡخَبَٰٓئِثَ ناپاکه شیان وَيَضَعُ او لرې کوي عَنۡهُمۡ د هغوی نه إِصۡرَهُمۡ درانه بارونه د هغوی وَٱلۡأَغۡلَٰلَ او بندیزونه ٱلَّتِي هغه (بارونه او بندیزونه) كَانَتۡ عَلَيۡهِمۡۚ چې په هغوی باندې وو فَٱلَّذِينَ نو هغو خلکو ءَامَنُواْ بِهِۦ چې ایمان یې راوړو په هغه«صلی الله علیه وسلم»باندې وَعَزَّرُوهُ او د ده«صلی الله علیه وسلم عزت(او ادب)یې وکړو وَنَصَرُوهُ او د ده «صلی الله علیه وسلم» مدد یې وکړو وَٱتَّبَعُواْ او پیروي یې وکړه ٱلنُّورَ د رڼا ٱلَّذِيٓ هغه رڼا(یعنې قرآنکریم) أُنزِلَ چې نازل شوي ده مَعَهُۥٓ د هغه«صلی الله علیه وسلم»سره أُوْلَٰٓئِكَ دغه خلک هُمُ همدوی ٱلۡمُفۡلِحُونَ کامیابان دي. ﴿١٥٧﴾

قُلۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنِّي رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيۡكُمۡ جَمِيعًا ٱلَّذِي لَهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ يُحۡيِۦ وَيُمِيتُۖ فَـَٔامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِ ٱلنَّبِيِّ ٱلۡأُمِّيِّ ٱلَّذِي يُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ

وَكَلِمَٰتِهِۦ وَٱتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمۡ تَهۡتَدُونَ ﴿١٥٨﴾ وَمِن قَوۡمِ مُوسَىٰٓ أُمَّةٞ يَهۡدُونَ بِٱلۡحَقِّ
وَبِهِۦ يَعۡدِلُونَ ﴿١٥٩﴾ وَقَطَّعۡنَٰهُمُ ٱثۡنَتَيۡ عَشۡرَةَ أَسۡبَاطًا أُمَمٗاۚ وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ
إِذِ ٱسۡتَسۡقَىٰهُ قَوۡمُهُۥٓ أَنِ ٱضۡرِب بِّعَصَاكَ ٱلۡحَجَرَۖ فَٱنۢبَجَسَتۡ مِنۡهُ ٱثۡنَتَا عَشۡرَةَ عَيۡنٗاۖ
قَدۡ عَلِمَ كُلُّ أُنَاسٖ مَّشۡرَبَهُمۡۚ وَظَلَّلۡنَا عَلَيۡهِمُ ٱلۡغَمَٰمَ وَأَنزَلۡنَا عَلَيۡهِمُ ٱلۡمَنَّ وَٱلسَّلۡوَىٰۖ
كُلُواْ مِن طَيِّبَٰتِ مَا رَزَقۡنَٰكُمۡۚ وَمَا ظَلَمُونَا وَلَٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ﴿١٦٠﴾
وَإِذۡ قِيلَ لَهُمُ ٱسۡكُنُواْ هَٰذِهِ ٱلۡقَرۡيَةَ وَكُلُواْ مِنۡهَا حَيۡثُ شِئۡتُمۡ وَقُولُواْ حِطَّةٞ وَٱدۡخُلُواْ
ٱلۡبَابَ سُجَّدٗا نَّغۡفِرۡ لَكُمۡ خَطِيٓـَٰٔتِكُمۡۚ سَنَزِيدُ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿١٦١﴾ فَبَدَّلَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ
مِنۡهُمۡ قَوۡلًا غَيۡرَ ٱلَّذِي قِيلَ لَهُمۡ فَأَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ رِجۡزٗا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ بِمَا كَانُواْ
يَظۡلِمُونَ ﴿١٦٢﴾

قُلۡ (ای محمد«صلی الله علیه وسلم) ووایه چې: يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ای انسانانو إِنِّي پرته د شک څخه زه رَسُولُ پیغمبر یم ٱللَّهِ د الله تعالی إِلَيۡكُمۡ جَمِيعًا تاسو ټولو (انسانانو) ته ٱلَّذِي هغه الله تعالی لَهُۥ چې یوازې د هغه«جل جلاله» دی مُلۡكُ سلطنت(او بادشاهت) ٱلسَّمَٰوَٰتِ د آسمانونو وَٱلۡأَرۡضِۖ او د ځمکې لَآ نشته دی إِلَٰهَ لایق د عبادت(معبود) إِلَّا مګر هُوَ هغه «جل جلاله» دی يُحۡيِۦ (یوازې) هغه «جل جلاله» ژوندې کول کوي وَيُمِيتُۖ او(یوازې) هغه«جل جلاله» مړه کول کوي فَـَٔامِنُواْ نو(ای انسانانو!چې د کائیناتو حکومت او ژوند او مرګ مو د هغه «جل جلاله» په لاس کې دی،نو بیا) ایمان راوړئ بِٱللَّهِ په الله تعالی باندې وَرَسُولِهِ او د هغه«جل جلاله» په پیغمبر باندې ٱلنَّبِيِّ ٱلۡأُمِّيِّ چې نبي امي دی ٱلَّذِي هغه (پیغمبر) يُؤۡمِنُ چې هغه ایمان لرې بِٱللَّهِ په الله تعالی باندې وَكَلِمَٰتِهِۦ او(ایمان لرې) د هغه«جل جلاله» په کلام باندې وَٱتَّبِعُوهُ او د هغه«صلی الله علیه وسلم» پیروي(او تابعداري) وکړئ لَعَلَّكُمۡ د دې دپاره چې تاسو تَهۡتَدُونَ هدایت ومومئ. ﴿١٥٨﴾

اوس فرمايي چې په بني اسرآئيلو کې ښه خلک هم شته دی

وَمِن قَوۡمِ او د قوم مُوسَىٰٓ د موسى«علیه السلام» څخه أُمَّةٞ یوه ډله ده يَهۡدُونَ چې هدايت کوي(لارښودنه کوي خلکو ته) بِٱلۡحَقِّ په حق سره وَبِهِۦ او په حق باندې يَعۡدِلُونَ عدالت(او انصاف) کوي(د خلکو په منځ کې،یعني ټول بني اسرآئیل خراب نه وو،په دوی کې ښه خلک هم وو،چې همدغو ښو خلکو د تورات او انجیل د بشارتونو مطابق په نبي «صلی الله علیه وسلم»باندې ایمان راوړو،لکه عبدالله بن سلام رضی الله عنه او ملګرې یې) ﴿١٥٩﴾

اوس هغه وخت چې بني اسرآئيل د تيه په ميدان يا د سينا په صحرا کې وو،هغه احوال الله تعالی دلته بیانوي.

وَقَطَّعۡنَٰهُمُ او مونږ تقسيم کړل هغوی(یعني د یعقوب علیه السلام د دولس ځامنو اولادونه په) ٱثۡنَتَيۡ عَشۡرَةَ دولسو أَسۡبَاطًا قبيلو أُمَمٗاۚ ډلې-ډلې وَأَوۡحَيۡنَآ او وحې وکړه مونږ(او امر وکړو مونږ) إِلَىٰ مُوسَىٰٓ موسى علیه السلام ته إِذِ کله چې ٱسۡتَسۡقَىٰهُ اوبه وغوښتې د هغه علیه السلام څخه قَوۡمُهُۥٓ قوم د هغه«علیه السلام» أَنِ چې ٱضۡرِب ووهه بِّعَصَاكَ په خپله امساء باندې ٱلۡحَجَرَۖ (فلانی) تیږه فَٱنۢبَجَسَتۡ (همدا چې هغه تیږه یې په امساء ووهله) نو جارې شوې مِنۡهُ د هغې تیږې څخه ٱثۡنَتَا عَشۡرَةَ دولس عَيۡنٗاۖ چينې قَدۡ يقيناً عَلِمَ وپیژندلو كُلُّ ټولو أُنَاسٖ خلکو مَّشۡرَبَهُمۡۚ ځای د اوبو څکلو د هغوی وَ او( د سینا په دښته کې د سختې ګرمۍ څخه د ساتلو دپاره) ظَلَّلۡنَا سیوری کړه مونږ عَلَيۡهِمُ په هغوی باندې ٱلۡغَمَٰمَ وریځ وَ أَنزَلۡنَا او نازل کړل مونږ عَلَيۡهِمُ په هغوی باندې ٱلۡمَنَّ من(لکه د ترنجبين غوندې خواږه وو) وَٱلسَّلۡوَىٰۖ او سلوی(لکه د مرغانو په شان مرغان وو،او ورته مو وويل!) كُلُواْ

خورئ مِن طَيِّبَٰتِ د پاکو مَا هغو(شیانو)څخه رَزَقۡنَٰكُمۡۚ چې مونږ
درکړي دي تاسو ته(لیکن بني اسرآئیلو د دې ټولو نعمتونو ناشکرې
وکړه،نو الله تعالى فرمايي چې:) وَمَا ظَلَمُونَا هغوی(په خپل کفران او
ناشکرئ سره) په مونږ ظلم ونه کړو وَلَٰكِن لیکن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ
هغوی په خپلو ځانونو ظلم کولو. ﴿١٦٠﴾ وَإِذۡ او (یاد کړه هغه وخت) کله
چې: قِيلَ وويل شول لَهُمُ هغوی ته ٱسۡكُنُواْ چې اوسيږئ تاسو هَٰذِهِ
ٱلۡقَرۡيَةَ په دغې قریې(یا ښار د اریحا یا بیت المقدس) کې وَكُلُواْ او
خورئ(میوې او غلې) مِنۡهَا د دې(قریې) حَيۡثُ هر چیرته شِئۡتُمۡ چې
تاسو غواړئ وَقُولُواْ او وایئ تاسو(ښار ته د ننوتلو په وخت کې) حِطَّةٞ
ای ربه وبښه(ګناهونه زمونږ) وَٱدۡخُلُواْ او داخل شئ تاسو ٱلۡبَابَ
دروازې(د دې قریې)ته سُجَّدٗا سجده کوونکې(تعظیم کوونکې،نو) نَّغۡفِرۡ
مونږ به ښننه وکړو لَكُمۡ تاسو ته خَطِيٓـَٰٔتِكُمۡۚ ستاسو د ګناهونو سَنَزِيدُ
(او)زیات به کړو مونږ(اجر) ٱلۡمُحۡسِنِينَ نیکانو ته. ﴿١٦١﴾(خو کله چې
قریې یا ښار ته داخلیدل) فَبَدَّلَ نو بدله کړه ٱلَّذِينَ هغو خلکو ظَلَمُواْ
چې ظالمان وو مِنۡهُمۡ د هغوی څخه قَوۡلًا خبره (د الله تعالى) غَيۡرَ
بل قسم ٱلَّذِي د هغې(خبرې) قِيلَ چې ویل شوې وه لَهُمۡ هغوی ته(د
الله تعالى د طرف څخه،یعنې هغوی ته ویل شوي وو چې ښار ته د داخلدو
په وخت حطة وایئ یعنې بخښنه غواړئ،خو هغوی د بخښنې د غوښتلو په
ځای حنطة ویلې یعنې مونږ غنم غواړو،دوهم!د الله تعالى حکم و چې
سجده کوونکې یعنې چې د سرټیټولو او عاجزئ په حالت کې داخل
شئ،مګر هغوی د الله تعالى د حکم مخالفت وکړو او په کوناټو سره داخل
شو) فَأَرۡسَلۡنَا نو نازل کړو مونږ عَلَيۡهِمۡ په هغوی باندې رِجۡزٗا عذاب
مِّنَ ٱلسَّمَآءِ د آسمان څخه بِمَا په سبب د هغه(ظلم) كَانُواْ يَظۡلِمُونَ چې
هغوی(په خپلو ځانونو)کولو(الله تعالى ورباندې د طاعون د مرض عذاب

نازل کړو او په زرګونو هغه خلک يې هلاک کړل چې د الله تعالی د حکمونو نافرماني يې کړې وه.د دې تفصیلات د سورةالبقره په ۵۸-۵۹ آيتونو کې بیان شوي دي.) ﴿١٦٢﴾

وَسۡـَٔلۡهُمۡ عَنِ ٱلۡقَرۡيَةِ ٱلَّتِي كَانَتۡ حَاضِرَةَ ٱلۡبَحۡرِ إِذۡ يَعۡدُونَ فِي ٱلسَّبۡتِ إِذۡ تَأۡتِيهِمۡ حِيتَانُهُمۡ يَوۡمَ سَبۡتِهِمۡ شُرَّعٗا وَيَوۡمَ لَا يَسۡبِتُونَ لَا تَأۡتِيهِمۡۚ كَذَٰلِكَ نَبۡلُوهُم بِمَا كَانُواْ يَفۡسُقُونَ ﴿١٦٣﴾ وَإِذۡ قَالَتۡ أُمَّةٞ مِّنۡهُمۡ لِمَ تَعِظُونَ قَوۡمًا ٱللَّهُ مُهۡلِكُهُمۡ أَوۡ مُعَذِّبُهُمۡ عَذَابٗا شَدِيدٗاۖ قَالُواْ مَعۡذِرَةً إِلَىٰ رَبِّكُمۡ وَلَعَلَّهُمۡ يَتَّقُونَ ﴿١٦٤﴾ فَلَمَّا نَسُواْ مَا ذُكِّرُواْ بِهِۦٓ أَنجَيۡنَا ٱلَّذِينَ يَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلسُّوٓءِ وَأَخَذۡنَا ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ بِعَذَابِۭ بَـِٔيسِۭ بِمَا كَانُواْ يَفۡسُقُونَ ﴿١٦٥﴾ فَلَمَّا عَتَوۡاْ عَن مَّا نُهُواْ عَنۡهُ قُلۡنَا لَهُمۡ كُونُواْ قِرَدَةً خَٰسِـِٔينَ ﴿١٦٦﴾

د دریاب په ساحلي سیمه کې د یهودو یوکلی و چې اوسیدونکو به يې د ماهیانو ښکار کولو،د الله تعالی حکم و چې په هفته کې شپږ ورځې د دنیا کار کوئ او د شنبې په ورځ به یوازې د الله تعالی عبادت کوئ،او د ماهیانو ښکار او نور دنیاوي کارونه به نه کوئ،چون دا په هغوی د الله تعالی یو امتحان و،نو د شنبې په ورځ به ماهیان ډېر زیات وو،خو په نورو ورځو کې به کم وو،نو په هغوی کې ځینې خلک دې ته ټینګ نه شو،د دریاب په غاړه يې ډنډونه جوړ کړل،د شنبې په ورځ به يې ډنډونو ته د دریاب اوبه ورخوشې کړې،چې د اوبو سره به ماهیان هم ډنډونو ته ورتلل،خو د واپس وتلو لارې به يې ورته بندولې،او بیرته به وتلای نه شو،دوی به بیا د یکشنبې په ورځ ورتلل او د شنبې د ورځې ماهیان چې په ډنډونو کې به يې ایسار کړي وو هغه به يې رانیول،

او فکر يې کولو چې ګڼي مونږ. نعوذبالله  الله تعالی ته دوکه ورکوو،اصلاً
په دې کلي کې درې قسمه خلک وو،یو  هغه وو چې د الله تعالی د حکم
څخه يې سرکشي کوله او د ماهيانو نيولو ته يې حيله او بهانه
جوړوله،دوهم هغه خلک وو چې پخپله يې هم ماهيان نه نيول او هغوی ته
يې هم نصيحت کولو،ورته يې ويلې چې دا کار غلط دی،او هغوی يې منع
کول يعنې نهې عن المنکر يې کولو.دريم هغه خلک وو چې پخپله يې دا
غلط کار نه کولو يعنې ماهيان يې نه نيول،خو چا چې نيول هغوی يې هم
نه منع کول چې دا کار غلط دی مه يې کوئ،بلکې هغه خلک به يې هم
منع کول چا به چې نهې عن المنکر کولو،او خلک به يې د دې غلط کار د
کولو نه منع کول،ورته به يې ويلې چې څه کوئ چې هغوی ته نصيحتونه
کوئ،خپل ماغزه ورسره خرابوئ،هسې ځان ته کار مه ګورئ ،دوی
نصيحت نه منې،،بس الله تعالی ته يې پرېږدئ يا به وربانديې سخت عذاب
راولي او يا به يې هلاک کړي،نو الله تعالی وربانديې عذاب
راوستو،بيزوګان ترې جوړ شو،يو بل ته به يې کتل،يوبل يې پيژندل او
ژړل به يې،درې ورځې ژوندي وو،بيا مړه شو.د عذاب څخه هماغه
خلک بچ شو چې خلک يې منع کول يعنې نهې عن المنکر يې کولو.اوس
آيتونو ته توجه وکړئ.

وَسۡـَٔلۡهُمۡ  او پوښتنه وکړه د هغوی(يعنې يهودو) څخه  عَنِ ٱلۡقَرۡيَةِ  د کلي
ٱلَّتِي  هغه کلی  كَانَتۡ  چې وو هغه  حَاضِرَةَ  په غاړه  ٱلۡبَحۡرِ  د درياب
إِذۡ يَعۡدُونَ  (هغوی ته ورياده کړه هغه واقعه چې د هغې کلي خلکو به)
سرکشي کوله(د الله تعالی د حکم څخه)  فِي ٱلسَّبۡتِ  د شنبې په ورځ کې
إِذۡ تَأۡتِيهِمۡ حِيتَانُهُمۡ  (يعنې) کله به چې هغوی ته ماهيان راتلل  يَوۡمَ سَبۡتِهِمۡ
د شنبې په ورځ  شُرَّعٗا  ښکاره(يعنې زيات ماهيان به د اوبو سرته
راختل،او دوی ته به د درياب غاړې ته راتلل،دوی به ورته کتل خو لاس

به يې نه شو وروړلای،خو بآخره ځينې خلک ټينګ نه شو او د الله تعالی حکم ته يې د حيلو او پلمو د جوړولو دپاره د درياب په غاړه ډنډونه جوړ کړل،چې د شنبې په ورځ به يې ماهيان په کې ايسارول) وَيَوۡمَ لَا يَسۡبِتُونَ او په هغه ورځ چې دوی به په شنبه کې داخل نه وو (او کومه ورځ به چې د شنبې نه وه يعنې د هفتې په نورو ورځو کې به) لَا تَأۡتِيهِمۡۚ هغوی ته(د شنبې د ورځې په شان ماهيان) نه راتلل (نو دوی به هغه ماهيان چې د شنبې په ورځ به يې په ډنډونو کې ايسار کړي وو،هغه به يې په نورو ورځو کې نيول.) كَذَٰلِكَ دارنګ نَبۡلُوهُم مونږ امتحانول هغوی بِمَا په سبب د هغې(نافرمانی) كَانُواْ يَفۡسُقُونَ چې دوی به کوله. ﴿١٦٣﴾ وَإِذۡ قَالَتۡ او کله چې وويلې أُمَّةٞ يوې ډلې مِّنۡهُمۡ د هغوی نه(يعنې هغو خلکو چې پخپله يې ماهيان نه نيول خو نور يې هم نه منع کول،نو دوی هغو خلکو ته وويلې چا چې نهې عن المنکر کولو يعنې خلک يې د غلط کار څخه منع کول چې:) لِمَ ولې تَعِظُونَ تاسو نصيحت کوئ قَوۡمًا داسې خلکو ته ٱللَّهُ مُهۡلِكُهُمۡ چې الله تعالی د هغوی هلاکوونکئ دی أَوۡ مُعَذِّبُهُمۡ يا عذاب ورکوونکئ دی هغوی ته عَذَابٗا شَدِيدٗاۖ (په) سخت عذاب (سره) قَالُواْ نو (نهې عن المنکر والا يا نصيحت کوونکو ورته) وويلې مَعۡذِرَةً چې د عذر (د وړاندې کولو دپاره) إِلَىٰ رَبِّكُمۡ ستاسو د رب حضور ته(مونږ دا هر څه کوو،چې مونږ د الله تعالی په حضور کې ووايو چې يا الله مونږ خو د آخر وخت پورې نهې عن المنکر کړئ دی او خپله دنده مو سر ته رسولې ده) وَلَعَلَّهُمۡ يَتَّقُونَ او(بل د دې دپاره مونږ دوی ته دوامدار نصيحت کوو چې:)کيدای شي چې دوی د الله تعالی څخه وويريږي(او د دې ناروا او غلط کار څخه توبه وباسي) ﴿١٦٤﴾ فَلَمَّا خو کله چې نَسُواْ هيره کړه دوی مَا هغه(خبره قصداً) ذُكِّرُواْ چې نصيحت شوئ وو دوی ته(د نهې عن المنکر والاو پواسطه) بِهِۦٓ په هغې

سره(چې د الله تعالی د حکم او دشنبې د ورځې د ماهیانو د نیولو دپاره
حیله مه جوړوئ،خو چې منع نه شو،نو) أَنجَيۡنَا نجات ورکړو مونږ
ٱلَّذِينَ هغو خلکو ته يَنۡهَوۡنَ چې منع کول هغوی(خلک) عَنِ ٱلسُّوٓءِ د
بدی نه(یعنې د شنبې په ورځ یې خلک د ماهیانو د نیولو څخه منع کول)
وَأَخَذۡنَا او ونیول مونږ ٱلَّذِينَ هغه خلک ظَلَمُواْ چې ظلم یې کړئ وو
(د ماهیانو په نیولو سره په خپلو ځانونوباندې) بِعَذَابِۭ بَـِٔيسِۭ په سخت
عذاب سره بِمَا په سبب د هغې(سرکشۍ او نافرمانۍ) كَانُواْ يَفۡسُقُونَ
چې دوی کوله ﴿١٦٥﴾ فَلَمَّا نو کله چې عَتَوۡاْ دوی سرکشې وکړه عَن
مَّا د هغه(شي د پرېښودلو)څخه نُهُواْ چې دوی منع شوي وو عَنۡهُ د
هغه څخه(یعنې د شنبې په ورځ دماهیانو د ښکار کولو څخه،خو چې منع
نه شو،نو) قُلۡنَا نو وویل مونږ لَهُمۡ هغوی ته كُونُواْ چې شئ قِرَدَةً
بیزوګان خَٰسِـِٔينَ ذلیل(شکلونه یې مسخ شو،بیزوګان ترې جوړ
شو،عقلونو یې کار کولو،یو بل ته به یې کتل،یوبل به یې پیژندلو او یو بل
ته به یې ژړل،درې ورځې ژوندي وو،او بیا مړه شو.) ﴿١٦٦﴾

وَإِذۡ تَأَذَّنَ رَبُّكَ لَيَبۡعَثَنَّ عَلَيۡهِمۡ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ مَن يَسُومُهُمۡ سُوٓءَ ٱلۡعَذَابِۗ إِنَّ رَبَّكَ
لَسَرِيعُ ٱلۡعِقَابِ وَإِنَّهُۥ لَغَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿١٦٧﴾ وَقَطَّعۡنَٰهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ أُمَمٗاۖ مِّنۡهُمُ
ٱلصَّٰلِحُونَ وَمِنۡهُمۡ دُونَ ذَٰلِكَۖ وَبَلَوۡنَٰهُم بِٱلۡحَسَنَٰتِ وَٱلسَّيِّـَٔاتِ لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُونَ
﴿١٦٨﴾

وَإِذۡ او(یاد کړه هغو وخت) کله چې تَأَذَّنَ اعلان وکړو رَبُّكَ رب ستا
لَيَبۡعَثَنَّ چې خامخا به هغه«جل جلاله» مسلط کوي عَلَيۡهِمۡ په هغوی
باندې إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ د قیامت د ورځې پورې مَن هغه څوک يَسُومُهُمۡ
چې هغه به رسوي دوی ته سُوٓءَ ٱلۡعَذَابِۗ بد عذاب(یعنې په هغو بنې
اسرائیلو باندې چې مخکې یې د تورات او انجیل آیتونه نه منل،او د نبي

عليه السلام د راتلو څخه وروسته د قرآنکريم آيتونه نه مني.لکه چې د
ټولو نه مخکې موسى عليه السلام په خپله د دوی څخه (۷) کلونه ټکس
وصول کړو،د سليمان عليه السلام نه وروسته د بابل پادشاه بخت نصر د
دوی ملک وران کړو،ډېر زيات يې ووژل،ښځې او ماشومان يې غلامان
کړل،ډېر کسان يې بابل ته د خپل ملک څخه جلاوطن کړل،چې د (۷۰)
کلونو پورې هلته خوار او حيران اوسيدل.د دې نه وروسته هم مختلف
يونانې،کشدانې او کلدانې پادشاهانو دوی خپل غلامان کړل.د ذلت او
رسوايۍ دې مرحلې دوام کولو تر دې چې:د عيسى عليه السلام د زيږيدلو
څخه (۷۱) کلونه وروسته د دوی په ملک د روميانو قبضه شوه، رومن
جنرال ټايټس په يوه ورځ کې يو لاک او درې ديرش زره يهودان په
يوروشلم کې ووژل،او څوک چې د مرګ څخه بچ شو هغه يې د فلسطين
څخه وويستل.خو په دنيا کې چې هر ځای ته تللې دي هلته ترې خلکو
سخت نفرت کړئ دی،چې د دی نفرت په سبب په اروپا کې ورباندې ډېر
سخت ظلمونه شوي دي،د عيسايانو د دوی څخه د نفرت او سختې دښمنۍ
ذکر په قرآنکريم کې هم شته دی. «فَأَغْرَيْنَا بَيْنَهُمُ ٱلْعَدَاوَةَ وَٱلْبَغْضَآءَ إِلَىٰ يَوْمِ
ٱلْقِيَٰمَةِۚ» ﴿ المائده ١٤﴾پس مونږ د دوی په منځ کې د قيامت پورې دښمنې
او کينه واچوله-«چې دا دښمنې او کينه د يهودو د هغې ګستاخۍ په سبب
ده چې دوی د عيسى عليه السلام او د هغه عليه السلام د مور په باره کې
کړې ده».اګر چې محمد«صلى الله عليه وسلم» دوی ته امن او د دين
ازادې ورکړې وه،ليکن دوی ورسره دوکه وکړه او د کفارو او مشرکانو
سره يې د مسلمانانو په خلاف لاس يو کړ،نو محمد«صلى الله عليه وسلم»
پرې الله تعالى مسلط کړو،او د مدينې منورې څخه يې وويستل.او عمر
فاروق رضی الله عنه پرې الله تعالى مسلط کړو او د پوره جزيرة العرب
څخه يې وويستل. د دې نه وروسته بيا په دوهم جهانې جنګ کې چې د

هیټلر د خوانه کوم ظلمونه په یهودو وشو،شاید د دي څخه مخکې نه په چا شوي وي،او نه به د دې څخه وروسته په چا وشي،په اجتماعې ډول به یې د مختلفو ځایونو څخه یهودیان راټولول،بنځې،نران او ماشومان به یې په یو لوی هال(یا لویه کوټه)کې وراچول،کالي به یې ترې ویستل،ویښتان به یې ترې غوڅول،او قالینې به یې ترې جوړولې.او بیا به یې د ګیس په لویو-لویو چیمبرونو یعنې د ګیس په کوټو کې وراچول،او په زرهاوو-زرهاوو به یې په یو ځل د ګیس پواسطه وژل،بیا به یې مړه جسدونه د ماشینونو پواسطه میده کول،بیا به یې د یو خاص قسم کیمیاوې موادو سره د یوځای کولو پواسطه د انساني غوښو څخه یو ډول تور رنګه اوبلن مواد جوړول چې نوموړې مواد به یې په پټیو کې د سرې په توګه استعمالول.چې په دې ډول د هیټلر په لاسو شپیته لکه(۶۰۰۰۰۰۰) یهود ووژل شول،چې په تاریخې واقعاتو کې دا د« مَن يَسُومُهُمۡ سُوٓءَ ٱلۡعَذَابِۗ» یو شکل دی«یعنې د قیامت پورې به الله تعالی په دوی داسې څوک مسلط کوي چې دوی ته به ډېر بد عذاب ورکوي.دا چې د دوی سره به د قیامت پورې په دې سلسله کې نور څه کیږي،دا معلومات صرف الله تعالی ته دی.د دوی دولتونو،دوکو او فساد جوړلو هیڅکله دوی ته فایده نه ده کړې،نه د ذلت څخه خلاص شوي او نه د استقلال خاوندان شوي،مالونه او ځانونه یې همیشه د نورو پواسطه حمایه او ساتل کیږي.باید پوه شو چې:دا اوس چې د دوی کوم حکومت ظاهراً د فلسطین په ځمکه قائم شوئ دی،دا د قرآنکریم د دې ذکر شوي خبر خلاف نه دی،بلکې دا د آل عمران د ۱۱۲ آیت مطابق د امریکا او نورو غیرې اسلامې ملکونو په اشارو،کومک او حمایت قائم شوئ دی،که نن ترې دا حکومتونه لاس واخلې،د دوی حکومت ختم دی «بیان القرآن،حکمت القرآن»،مطلب دا چې دوی همیشه ذلیل او سپک دي،هیڅکله ازاد او خپلواک نه دي ځکه چې

حکومت هم صرف تر هغه وخت پورې د دوی دی چې نور یې ورته ساتي،او مالونه او ځانونه هم صرف د هغه وخت پورې د دوی دي چې نور یې ورته ساتي یعني که د نورو خوښه نه وي نه مالونه د دوی دي او نه ځانونه د دوی دي،لکه ښه مثال یې هیټلر دی،چې مالونه یې ترې هم واخستل او سرونه یې ترې هم. إِنَّ رَبَّكَ بېشکه رب ستا لَسَرِيعُ ٱلۡعِقَابِ ډېر ژر عذاب ورکوونکۍ دی وَإِنَّهُۥ او بېشکه هغه«جل جلاله لَغَفُورٞ ډېر بخښونکۍ رَّحِيمٞ مهربان دی. ﴿١٦٧﴾ وَقَطَّعۡنَٰهُمۡ او خواره کړه مونږ. دوی فِي ٱلۡأَرۡضِ په ځمکه کې أُمَمٗاۖ ډلې-ډلې(لکه چې ذکر شو چې رومن جنرال ټایټس په یوه ورځ کې یولاک او درې دیرش زره یهود ووژل،او څوک چې د مرګ نه بچ شو هغوی د فلسطین څخه ویستل شول،ځینې مصر ته لاړل،ځینې هندوستان،روس او د اروپا مختلفو ځایونو ته لاړل،بیا کله چې امریکا کشف شوه،ډېرې یهودې کورنۍ هلته لاړې او ابادې شوې،په ټوله دنیا کې منتشر او خواره واره شو او په دې ډول د دوی اجتماعیت ختم شو.) مِّنۡهُمُ د دوی څخه ځینې ٱلصَّٰلِحُونَ نیکان وو وَمِنۡهُمۡ او د دوی څخه ځینې دُونَ ذَٰلِكَۖ بل شان وو وَبَلَوۡنَٰهُم او مونږ وازمایل دوی بِٱلۡحَسَنَٰتِ په ښو(حالاتو)باندې وَٱلسَّيِّـَٔاتِ او په بدو(حالاتو)باندې لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُونَ د دې دپاره(چې شاید) بیرته راوګرځي ﴿١٦٨﴾

فَخَلَفَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ خَلۡفٞ وَرِثُواْ ٱلۡكِتَٰبَ يَأۡخُذُونَ عَرَضَ هَٰذَا ٱلۡأَدۡنَىٰ وَيَقُولُونَ سَيُغۡفَرُ لَنَا وَإِن يَأۡتِهِمۡ عَرَضٞ مِّثۡلُهُۥ يَأۡخُذُوهُۚ أَلَمۡ يُؤۡخَذۡ عَلَيۡهِم مِّيثَٰقُ ٱلۡكِتَٰبِ أَن لَّا يَقُولُواْ عَلَى ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡحَقَّ وَدَرَسُواْ مَا فِيهِۗ وَٱلدَّارُ ٱلۡأٓخِرَةُ خَيۡرٞ لِّلَّذِينَ يَتَّقُونَۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ﴿١٦٩﴾ وَٱلَّذِينَ يُمَسِّكُونَ بِٱلۡكِتَٰبِ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجۡرَ ٱلۡمُصۡلِحِينَ ﴿١٧٠﴾ ۞ وَإِذۡ نَتَقۡنَا ٱلۡجَبَلَ فَوۡقَهُمۡ كَأَنَّهُۥ ظُلَّةٞ وَظَنُّوٓاْ أَنَّهُۥ وَاقِعُۢ بِهِمۡ خُذُواْ مَآ ءَاتَيۡنَٰكُم بِقُوَّةٖ وَٱذۡكُرُواْ مَا فِيهِ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ﴿١٧١﴾

فَخَلَفَ نو جانشين شو(نو ځاى ناستې شو د هغوى په ځاى) مِنۢ بَعۡدِهِمۡ
ورروسته د هغوى څخه(يعني وروسته د بني اسرآئيلو د لومړني نسل څخه)
خَلۡفٞ ډېر نالايقه(وروستنى نسل د هغوى جانشين شو) وَرِثُواْ (چې د
مخکيني نسل په ځاى)دوى وارثان شو ٱلۡكِتَٰبَ (د تورات)د كتاب(ليکن دا
وروستنى نسل په ځاى د دې چې د تورات پواسطه د الله تعالى رضاء او
جنت لاس ته راوړي،بلكې برعكس) يَأۡخُذُونَ اخلې دوى(د تورات د
احكامو د بدلولو او ناحقه فيصلو كولو په مقابيل كې) عَرَضَ مال(او
اسباب) هَٰذَا ٱلۡأَدۡنَىٰ د دې ادنىَ دنيا(او فاني ژوند،او تاوان رسوي آخرت
ته،او كه ورته وويل شي چې دا خو گناه ده،ولي داسې كوئ؟) وَيَقُولُونَ
(نو بيا) دوى وايې(چې الله غفور او رحيم دى) سَيُغۡفَرُ لَنَا مونږ ته
بخښنه(او مغفرت)كيږي وَ او(داسې نه ده چې دوى يو ځل د دنيا د مال
او اسبابو(يعني رشوت) په مقابيل كې د الله تعالى احكام بدلوې او غلطې
او ناحقه فيصلې كوې بلكې) إِن يَأۡتِهِمۡ كه چيرته دوى ته(په مخه)راشي
عَرَضٞ مال(او سامان د دنيا) مِّثۡلُهُۥ په شان د هغې(چې دوى د مخه د
الله تعالى د احكامو او غلطو فيصلو په مقابيل كې اخستئ وو،نو) يَأۡخُذُوهُۚ
دوى يې (بيا هم) اخلې (او د الله تعالى حكمونه بدلوي او غلطې فيصلې
كوي،يعني په كراتو مراتو دا گناه او جرم كوي،نو الله تعالى فرمايې) أَلَمۡ
يُؤۡخَذۡ آيا نه ده اخستل شوي عَلَيۡهِم د دوى څخه مِّيثَٰقُ كلكه وعده
ٱلۡكِتَٰبِ په كتاب(تورات) كې؟ (بلكې اخستل شوي ده،داسې وعده!) أَن لَّا
يَقُولُواْ چې دوى به نه وايې عَلَى ٱللَّهِ په الله تعالى باندې(دروغ) إِلَّا
مگر ٱلۡحَقَّ حق (به وايې،آيا په تورات كې په كوم ځاى كې الله تعالى
فرمايلې دي چې دوى به تحريفونه كوي او زه به ورته بخنه كوم؟ بلكې
تورات كې خو داسې دي چې داسې مجرمانو ته الله تعالى عذاب
وركوي.او داسې نه ده چې گنې دوى په دې نه پوهيږي چې مونږ ته به

عذاب راکول کيږي،بلکې) وَدَرَسُواْ لوستلي دي دوی مَا هغه(ټول
احکام چې په دې باره کې) فِيهِۗ په دغه(کتاب يعني تورات)کې دي.(ښه
پوهيږي چې مونږ هر څه کوو دا غلط دي، عموماً بد کاره دنيا پرست
علماء او دنياوې مشران د دې فاني دنيا او فاني ژوند دپاره داسې کوي،د
کومې چې ټول مالونه او کورونه په مؤقتې ډول د يو څو ورځو لپاره
دي.ليکن) وَٱلدَّارُ کور ٱلۡأٓخِرَةُ د آخرت (جنت) خَيۡرٞ ډېر بهتر دی
لِّلَّذِينَ د هغه خلکو دپاره يَتَّقُونَۚ چې هغوی(د الله تعالی)څخه ويريږي
أَفَلَا تَعۡقِلُونَ نو ولې تاسو د عقل نه کار نه اخلئ؟(چې د دنيا د فاني
کورونو دپاره د آخرت دائمې کورونه ورانوئ) ﴿١٦٩﴾ وَٱلَّذِينَ او هغه
خلک (د دوی ځينې) يُمَسِّكُونَ چې منګولې لګوي بِٱلۡكِتَٰبِ (د الله
تعالی) په کتاب باندې وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ او لمونځ کوي إِنَّا لَا نُضِيعُ
بېشکه مونږ نه ضايع کوو أَجۡرَ ٱلۡمُصۡلِحِينَ آجر د نيکې کوونکو. ﴿١٧٠﴾
۞ وَإِذۡ او(ياد کړه يهودو ته هغه وخت) کله چې نَتَقۡنَا راپورته کړو
مونږ ٱلۡجَبَلَ غر فَوۡقَهُمۡ د دوی دپاسه كَأَنَّهُۥ ظُلَّةٞ چې هغه لکه د
چترۍ په شان(د دوی دپاسه)وو وَظَنُّوٓاْ او هغوی يقين وکړو (او
وويريدل) أَنَّهُۥ چې هغه(غر) وَاقِعُۢ رالويدونکۍ دی بِهِمۡ په هغوی
باندې(نو الله تعالی ورته وفرمايل:) خُذُواْ چې ونيسئ مَآ هغه(تورات)
ءَاتَيۡنَٰكُم چې مونږ درکړئ دی تاسو ته بِقُوَّةٖ په پوره قوت(او کلک
عزم)سره وَٱذۡكُرُواْ او ياد کړئ مَا هغه(احکام) فِيهِ چې په
دې(تورات) کې دي لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ د دې لپاره چې تاسو پرهيزګاره شئ.
﴿١٧١﴾

وَإِذۡ أَخَذَ رَبُّكَ مِنۢ بَنِيٓ ءَادَمَ مِن ظُهُورِهِمۡ ذُرِّيَّتَهُمۡ وَأَشۡهَدَهُمۡ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ أَلَسۡتُ
بِرَبِّكُمۡۖ قَالُواْ بَلَىٰ شَهِدۡنَآۚ أَن تَقُولُواْ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ إِنَّا كُنَّا عَنۡ هَٰذَا غَٰفِلِينَ ﴿١٧٢﴾ أَوۡ

تَقُولُوٓاْ إِنَّمَآ أَشۡرَكَ ءَابَآؤُنَا مِن قَبۡلُ وَكُنَّا ذُرِّيَّةٗ مِّنۢ بَعۡدِهِمۡۖ أَفَتُهۡلِكُنَا بِمَا فَعَلَ ٱلۡمُبۡطِلُونَ ﴿١٧٣﴾ وَكَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ وَلَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُونَ ﴿١٧٤﴾

وَإِذۡ (او ای محمد «صلی الله علیه وسلم» خلکو ته وریاد کړه) هغه وخت کله چې أَخَذَ چې راویستل(چې پیدا کړل) رَبُّكَ رب ستا مِنۢ د بَنِيٓ اولاد ءَادَمَ د ادم«علیه السلام» مِن د ظُهُورِهِمۡ د ملاګانو څخه ذُرِّيَّتَهُمۡ د هغوی اولادونه(لکه چې الله تعالی د دنیا څخه د تللو نه وروسته د حشر په میدان کې ټول انسانان د حساب دپاره په یو ځای راجمع کوي،همداسې یې دنیا ته د راتللو څخه مخکې هم ټول انسانان په یو ځای کې راجمع کړي وو،ژوند،وجود،عقل ،شعور او اختیار یې ورکړئ و) وَأَشۡهَدَهُمۡ او شاهدان یې کړل هغوی عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ په خپلو ځانونو باندې ( په دې خبره چې هغه«جل جلاله» ترې پوښتنه وکړه:) أَلَسۡتُ آیا نه یم زه بِرَبِّكُمۡۖ رب د ستاسو؟ قَالُواْ ټولو وویلې بَلَىٰ ولې نه شَهِدۡنَآۚ مونږ شاهدي ورکوو(چې ته زمونږه رب یې.دا وعده مونږ د دې دپاره درڅخه واخیسته، هسې نه!) أَن چې تَقُولُواْ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ (بیا) د قیامت په ورځ ووایئ إِنَّا كُنَّا عَنۡ هَٰذَا غَٰفِلِينَ چې مونږ د دې څخه ناخبره وو.(یعني داسې نه ده چې الله تعالی په زوره انسانان دنیا ته د امتحان دپاره رالیږلي دي،بلکې د دنیا د راتلو څخه مخکې یې پیدا کړي وو،حقیقي
وجود،ژوند،عقل،شعور،د خبرو کولو صلاحیت او د فیصلې کولو اختیار یې ورکړئ وو،د خپل تخلیقي سکیم(طرحې) څخه یې خبرکړي وو،د جنت،دوزخ،د د نیا د امتحان او د امتحان د اقسامو یعني د صبر او د شکر د امتحان او د امتحان د نتایجو څخه یې خبر کړې وو،او انسان دنیا ته راتلل او د امتحان ورکول او حتې د امتحان نوع یا قِسم هم په خپله خوښه انتخاب کړل،چون الله تعالی انسان ته په ځمکه کې د خلافت حیثیت او په نورو مخلوقاتو برترې ورکړه،لمر،سپوږمی،ځمکه ،هوا او

دریابونه یې ورته مسخر کړل،او په ټولو کې یې د تصرف صلاحیت ورکړو،نو ټول انسانان یعني د آدم علیه السلام څخه د آخرني انسان پورې یې خپل ځان ته مخامخ حاضر کړل،او ورته یې وفرمایل چې:آیا زه ستاسو رب نه یم؟ټولو وویل چې ولې نه بېشکه ته زمونږ رب یې،ټولو د الله تعالی په ربوبیت او توحید اقرار وکړو،دا هر څه الله تعالی د دې دپاره وکړل چې:هسې نه چې د دنیا په فاني لذتونو، شیطاني وسوسو او نفسي خواهیشاتو کې انسانان خپل حقیقي خالق او رب یا هیر نکړي او یا ورسره شریکان ونه نیسي،او یا د هغه جل جلاله د احکامو او قوانینو په ځای خپل احکام او قوانین جوړ نه کړي،او په نتیجه کې ناکام نشي،او بیا په آخرت کې ونه وایې چې یا الله مونږ خو خبر نه وو.یعني مطلب دا چې دنیا ته د راتلو څخه د مخه هر انسان د خپل رب سره خبرې کړې دي،او په هر څه پوه شوئ دی،چون الله تعالی انسان داسې پیدا کړئ دی چې د وخت په تیریدو سره واقعات هیروي،مثلاً د هیڅ چا هم د یو کلنۍ نه د درې کلنۍ پورې پوره واقیعات نه یادیږي،مګر هر څوک سل فی صده یقین لرې چې زه د مور په رحم کې جوړ شوئ یم.یا ته فکر وکړه چې یو کال مخکې دې په همدې ورځ څه شی خوړلئ وو،او څه ډول کالې دې اغوستې وو؟شاید په مکمل ډول در څخه هیر وي،لیکن په دې سل فی صده یقین لرې چې هم دې جامې اغوستې وي او هم دې ډوډې خوړلې وه،د دې مطلب دا دې چې واقیعات هیریږي مګر نتایج یې د انسان په لاشعور کې پاتې کیږي.فکر وکړئ که ۵۰ کلونه وروسته د انسان څخه نیمایې یا یو څه واقعات هیریږي،نو څه فکر کوئ چې سل،دوه سوه،زر،یا لس زره کلونه وروسته به څومره واقعات ترې هیر وي،معلومه خبره ده چې ټول به ترې هیر وي،خو یوازې د واقیعاتو نتایج به یې په لاشعور کې پاتې وي.همدارنګه کله چې د دنیا څخه د مخه الله تعالی انسانان پیدا

کړل،خبرې ئې ورسره وکړې،د خپل تخلیقي سکیم په باره کې یې خبر کړل،او وعده او اقرار یې ترې واخستو،واضح خبره ده چې دا یوه واقعه وه،چې صحیح حساب خو صرف الله تعالی ته معلوم دی،لیکن شاید په زرهاوو او لکونو کلونه تیر شوي وي،نو لکه مخکې چې ذکر شو چې واقعات د وخت په تیریدو سره د انسان څخه هیرېږي،نو د دې دپاره الله تعالی د دې واقعې ټول نتایج د انسان په فطرت کې واچول،دا سبب دی که یو څوک کلک ملحد هم وی خو کله که د داسې حالت سره مخ شي چې نور ټول وسایل قطع شي،مثلاً هوایې جهاز اوړ واخلې یا کشتی په دریاب کې غرقیږې نو یو ناڅاپه ئې د الله تعالی نوم په خوله راځې او د ژغورلو دپاره ورته چغې وهې،یعني د هر چا په فطرت کې توحید موجود دی،دا د هر چا د فطرت اواز دی چې ستا یو رب دی،نیکې ښه کار دی او ظلم بد کار دی،دروغ بد او ریښتیا ښه کار دی. او علاوه د دې څخه یې دنیا ته خپل پیغمبران راولیږل تر څو چې خلکو ته دا وعده وریاده کړې)
﴿١٧٢﴾

أَوۡ یا(هسې نه چې:) تَقُولُوٓاْ تاسو ووایئ(د قیامت په ورځ) إِنَّمَآ أَشۡرَكَ ءَابَآؤُنَا چې بیشکه شرک زمونږ پلرونو کړئ وو مِن قَبۡلُ د مخه(زمونږ نه) وَكُنَّا او وو مونږ ذُرِّيَّةٗ اولاد مِّنۢ بَعۡدِهِمۡۖ وروسته د هغوی(یعني مشرکان خو زمونږ پلرونه او نیکونه وو،مونږ خو د هغوی په کورونو کې پیدا او تربیه شوي وو څه چې هغوی کول هماغه مونږ هم زده کول او هماغه مو کول،نو په دې کې زمونږ څه گناه ده) أَفَتُهۡلِكُنَا نو آیا ته مونږ هلاکوې بِمَا په هغه کار باندې فَعَلَ چې کړئ دی هغه(کار) ٱلۡمُبۡطِلُونَ باطل پرستو(یعني دا گناه خو زمونږ د پلررونو ده،هغوی پخپله هم شرک کولو او مونږ ته یې هم شرک راښودلئ وو.)
﴿١٧٣﴾ وَكَذَٰلِكَ او همدارنگه نُفَصِّلُ بیانوو مونږ ٱلۡأٓيَٰتِ آیتونه(د قدرت

خپل) وَلَعَلَّهُمۡ او د دې دپاره چې دوی يَرۡجِعُونَ راوګرځې(د نورو خلکو د غلطې پیروی او تقلید څخه) ﴿١٧٤﴾

وَٱتۡلُ عَلَيۡهِمۡ نَبَأَ ٱلَّذِيٓ ءَاتَيۡنَٰهُ ءَايَٰتِنَا فَٱنسَلَخَ مِنۡهَا فَأَتۡبَعَهُ ٱلشَّيۡطَٰنُ فَكَانَ مِنَ ٱلۡغَاوِينَ ﴿١٧٥﴾ وَلَوۡ شِئۡنَا لَرَفَعۡنَٰهُ بِهَا وَلَٰكِنَّهُۥٓ أَخۡلَدَ إِلَى ٱلۡأَرۡضِ وَٱتَّبَعَ هَوَىٰهُۚ فَمَثَلُهُۥ كَمَثَلِ ٱلۡكَلۡبِ إِن تَحۡمِلۡ عَلَيۡهِ يَلۡهَثۡ أَوۡ تَتۡرُكۡهُ يَلۡهَثۚ ذَّٰلِكَ مَثَلُ ٱلۡقَوۡمِ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَاۚ فَٱقۡصُصِ ٱلۡقَصَصَ لَعَلَّهُمۡ يَتَفَكَّرُونَ ﴿١٧٦﴾ سَآءَ مَثَلًا ٱلۡقَوۡمُ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَأَنفُسَهُمۡ كَانُواْ يَظۡلِمُونَ ﴿١٧٧﴾ مَن يَهۡدِ ٱللَّهُ فَهُوَ ٱلۡمُهۡتَدِيۖ وَمَن يُضۡلِلۡ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ﴿١٧٨﴾

وَٱتۡلُ او بیان کړه عَلَيۡهِمۡ دوی ته نَبَأَ خبر ٱلَّذِيٓ د هغه چا ءَاتَيۡنَٰهُ چې:ورکړې وو مونږ هغه ته ءَايَٰتِنَا آیتونه خپل فَٱنسَلَخَ مِنۡهَا لیکن(کله چې) هغه وغورځول هغه(آیاتونه د الله تعالی شاته او د دنیا په محبت او نفسې خواهشاتو کې داسې غرق شو چې د الله تعالی په آیتونو یې عمل کول پریښودل،بلکې د دنیا د عزت،شهرت او دولت د لاس ته راوړلو دپاره یې استعمالول) فَأَتۡبَعَهُ ٱلشَّيۡطَٰنُ نو شیطان ورپسې شو فَكَانَ نو شو هغه مِنَ ٱلۡغَاوِينَ د ګمراهانو څخه.(د قرآنکریم د الفاظو څخه معلومیږي چې دا یو معلوم شخص و چاته چې قرآن اشاره فرمایلې ده،لیکن دا د قرآنکریم او رسول الله«صلی الله علیه وسلم»انتهایې لوړ اخلاق دي چې کله د چا د بدی مثال بیانوي،په عمومي ډول د هغه نوم نه ذکر کوي بلکې د هغه په شخصیت باندې پرده اچوي او صرف د هغه د بد مثال ذکر کوي،تر څو چې د هغه د رسوایی څخه پرته اصل مقصد حاصل شي،په دې خاطر نه قرآنکریم فرمایلې دي او نه په کوم صحیح حدیث کې شته دی چې هغه شخص د چا مثال چې دلته ذکر شوی دی،هغه څوک دی،مفسرینو د مختلفو خلکو نومونه ذکر کړي دي لکه

بلعم بن باعوراء،امیه بن ابي الصَّلت او صیفی ابن الراهب، لیکن حقیقت دا دی چې هغه خاص شخص په پرده کې دی چا ته چې په دې مثال کې اشاره ده،البته دا مثال په هر هغه چا باندې تطبیقیږي په چا کې چې دا صفت موجود وي.«تفهیم القرآن») ﴿١٧٥﴾ وَلَوۡ شِئۡنَا او که چیرته مونږ غوښتلې و لَرَفَعۡنَٰهُ خامخا به پورته کړئ و مونږ هغه بِهَا په دې (آیتونو باندې یعنې که زمونږ په آیتونو یې عمل کړئ و او زمونږ عدالت او انصاف ورباندې فیصله کړي وه نو یقیناً چې مونږ به یې درجې لوړې کړې وې) وَلَٰكِنَّهُۥٓ لیکن هغه أَخۡلَدَ مایل شو إِلَى ٱلۡأَرۡضِ ځمکې(یعنې د دنیا) طرف ته وَٱتَّبَعَ هَوَىٰهُۚ او د خپل خواهش پیروې یې وکړه(یعنې زمونږ ایتونه یې د دنیایي عزت،شهرت او دولت د لاس ته راوړلو دپاره استعمال کړل،پس زمونږ عدالت او انصاف ورباندې د ګمراهی فیصله وکړه،او ګمراه شو) فَمَثَلُهُۥ نو د ده مثال كَمَثَلِ په شان ٱلۡكَلۡبِ د هغه سپې دی إِن که چیرته تَحۡمِلۡ ته حمله کوې عَلَيۡهِ په هغه باندې(یعنې که کوریې کوې یې یا چغځ کوې یې بیا هم) يَلۡهَثۡ هغه ژبه راوباسي(او غپیږي) أَوۡ تَتۡرُكۡهُ یا یې پریږدې(په خپل حال باندې او هیڅ ورته نه وایې بیا هم) يَلۡهَثۚ ژبه راوباسې(او غپیږې،یعنې د ګناهونو په سبب یې په زړه باندې مهر لږیدلئ وي،که نصیحت ورته کوې هم ګمراه یې او که نصیحت ورته نه کوې هم ګمراه یې.) ذَّٰلِكَ دا مَثَلُ مثال ٱلۡقَوۡمِ د هغو خلکو دی ٱلَّذِينَ کوم چې كَذَّبُواْ دروغ وایې بِـَٔايَٰتِنَاۚ زمونږ په آیتونو باندې فَٱقۡصُصِ نو بیان کړه(هغو خلکو ته چې د الله تعالی آیتونه دروغ ګڼې) ٱلۡقَصَصَ دا بیان(د دې سړي) لَعَلَّهُمۡ د دې دپاره چې ښایې يَتَفَكَّرُونَ دوی فکر وکړي(د الله تعالی په آیتونو کې،او د دې سړي د حال څخه عبرت واخلې.) ﴿١٧٦﴾ سَآءَ ډیر بد دی مَثَلًا مثال ٱلۡقَوۡمُ د هغو خلکو ٱلَّذِينَ کومو چې كَذَّبُواْ دروغ وګڼل بِـَٔايَٰتِنَا آیتونه

زمونږ. وَأَنفُسَهُمۡ او په خپلو ځانونو كَانُواْ يَظۡلِمُونَ دوى ظلم كولو.
﴿١٧٧﴾ مَن يَهۡدِ چا ته چې هدايت وكړي ٱللَّهُ الله تعالى فَهُوَ نو هغه (كس) ٱلۡمُهۡتَدِيۖ لار موندونكۍ دى وَمَن او څوک يُضۡلِلۡ چې هغه «جل جلاله» يې ګمراه كړي فَأُوْلَٰٓئِكَ نو دغه(خلک) هُمُ همدوى ٱلۡخَٰسِرُونَ تاوانيان دي ﴿١٧٨﴾

وَلَقَدۡ ذَرَأۡنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِۖ لَهُمۡ قُلُوبٞ لَّا يَفۡقَهُونَ بِهَا وَلَهُمۡ أَعۡيُنٞ لَّا يُبۡصِرُونَ بِهَا وَلَهُمۡ ءَاذَانٞ لَّا يَسۡمَعُونَ بِهَآۚ أُوْلَٰٓئِكَ كَٱلۡأَنۡعَٰمِ بَلۡ هُمۡ أَضَلُّۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡغَٰفِلُونَ ﴿١٧٩﴾

وَلَقَدۡ ذَرَأۡنَا او يقيناً پيدا كړي دي مونږ لِجَهَنَّمَ د جهنم دپاره كَثِيرٗا مِّنَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِۖ ډېر د پيريانو او انسانانو ځيني(يعني اكثره پيريان او انسانان د جهنميانو اعمال كوي،د جنت لارېي پرېښودې ده او د جهنم په لار روان دي لَهُمۡ قُلُوبٞ د دوى زړونه شته دى(يعني الله تعالى زړونه وركړي دي د تفقه يعني د حق په باره كې د غور او فكر كولو دپاره) لَّا يَفۡقَهُونَ بِهَا خو دوى په هغوى سره(يعني په زړونو سره) غور او فكر نه كوي (د حق په باره كې.)

«اوس په دې خبره د پوهيدلو دپاره چې زړه څنګه غور او فكر كوي؟دا ليكنه بايد د آخره پورې ولولئ. په قرآنكريم كې د عقل او فكر دپاره صرف د زړه ذكر شوئ دى او د دماغ يا برين ذكر په قرآن كې نشته.خو ساينسدانان وايې چه عقل په دماغ يا برين كې دى ،او زړه يو پمپ دى چه ټول وجود ته وينه رسوي.نو په دې موضوع اول د قرآن په رڼا كې او ورپسې د انسان د فطرت او ساينس په رڼا كې خبرې كوو.

سورت الحج ۴۶ نمبر آيت أَفَلَمۡ يَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَتَكُونَ لَهُمۡ قُلُوبٞ يَعۡقِلُونَ بِهَآ أَوۡ ءَاذَانٞ يَسۡمَعُونَ بِهَاۖ فَإِنَّهَا لَا تَعۡمَى ٱلۡأَبۡصَٰرُ وَلَٰكِن تَعۡمَى ٱلۡقُلُوبُ ٱلَّتِي فِي ٱلصُّدُورِ (٤٦)

آیا دوی په ځمکه کې ګرځیدلي راګرځیدلي نه دي چه زړونه يې پوهيدونکي او غوږونه يې اوريدونکي شوي وای؟حقيقت دا دی چه سترګې نه ړنديږي،خو هغه زړونه ړنديږي چه په سينو کې دي.يعني زړه چه ړوند شي که انسان په سترګو واضح دلايل ګوري بيا يې هم نه قبلوي د بني اسرائيل سورت آيت۳۶. وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِۦ عِلْمٌ ۚ إِنَّ ٱلسَّمْعَ وَٱلْبَصَرَ وَٱلْفُؤَادَ كُلُّ أُو۟لَٰٓئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْـُٔولًا (٣٦) او هغه څه مه تعقيبوه چه تاته د هغه علم نه وي بيشکه غوږونه،سترګې او زړه هر يو د دوی نه پوښتل کېدونکۍ دی.او همدا مبارک آيت ! وَلَقَدْ ذَرَأْنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيرًا مِّنَ ٱلْجِنِّ وَٱلْإِنسِ ۖ لَهُمْ قُلُوبٌ لَّا يَفْقَهُونَ بِهَا وَلَهُمْ أَعْيُنٌ لَّا يُبْصِرُونَ بِهَا وَلَهُمْ ءَاذَانٌ لَّا يَسْمَعُونَ بِهَآ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ كَٱلْأَنْعَٰمِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْغَٰفِلُونَ (١٧٩)او بيشکه چه زياتره پيريان او انسانان مو د دوزخ دپاره پيداکړي دي د هغوی زړونه شته،خو فکر وربانديې نه کوي.دهغوی سترګې شته ،خو څه پرې نه ويني د هغوې غوږونه شته خو څه پرې نه اورې.هغوی د ځارويو پشان دي،بلکه د هغو نه لا پسې زيات،دا هغه خلک دي چه په غفلت کې لويدلي دي.يعنې نه د حق په باره کې فکر کوي، نه حق ويني ،او نه حق اورې.ظاهره ده چه اکثره خلک خصوصاً ساينسدانان دا اعتراض کوي چه ميډيکل ساينس وايې چه عقل په دماغ کې دی او دماغ سوچ او فکر کوي نو قرآن ځنګه د دماغ يا برين په ځای د زړه ذکر کوي يا زړه ياده وي؟ دا حقيقت دی چه په قرآن کې د دماغ يا برين ذکر نشته . او د عقل او فکر دپاره همدا زړه ذکر شوۍ دی کوم چه زمونږ په سينو کې دی وَلَٰكِن تَعْمَى ٱلْقُلُوبُ ٱلَّتِى فِى ٱلصُّدُورِ (٤٦) خو هغه زړونه ړنديږي چه په سينو کې دي.

علماوو دوی ته جوابونه ورکړې او ورکوي يې.چه فعلاً يې د ذکرکولو نه تيريږو.او ان شاالله کوشش کوو چه د ساينس د علم په کومک سره دوی ته جواب ووايو.ځکه چه قرآن د الله کلام دی او کائنات د الله فعل دی او د کائناتو مطالعه او پيژندل ساينس دی.او د الله په کلام او فعل کې فرق او اختلاف نشته .

اول!

هر انسان په فطري ډول پوهيږي چه د ډيرو شيانو نسبت زړه ته کوي هغه که په ښار کې اوسيږي او که په ځنګل کې ،که بي سواده وي او که ډير لوي ساينسدان.مثلاً هرڅوک وايې چه نن مې زړه وريجو ته کيږي،هيڅوک نه وايې چه نن مې دماغ يا برين وريجو ته کيږي يا وريجې غواړي.هر څوک وايې چه زړه مې خوشاله دی او د خوشالی احساس او عکس العمل هم په زړه کې کيږي،مثلاً د زړه درځيدل يا ضربان زياتيږي.مګر هيڅوک نه وايې چه دماغ يا سر مې خوشاله دی او نه په دماغ کې کوم اضافي ضربان او درځيدل پيداکيږي.هر څوک وايې چه زړه مې خفه دی ،زړه مې غمجن دی، زړه مې ويريږي او دا حقيقت دی چه د دې احساس او عکس العمل هم په زړه کې کيږي.مثلاً د ويرې يا خوشالئ په وخت کې د زړه ضربان زياتيږي او که خوشالي يا ويره ډيره زياته شي زړه سکته کوي.مګر هيڅوک نه وايې چه دماغ مې خفه دی،دماغ مې غمجن دی،دماغ مې ويريږي.هر څوک وايې چه زړه مې تنګ دی ،هيڅوک نه وايې چه دماغ مې تنګ دی. کله چه څوک خپل شخصيت او ځان ته اشاره کوي په سر لاس نه ږدې او نه يې په خيټه ږدې بلکه د زړه د پاسه په سينه لاس ږدې .او داسي نور..........دقرآن او احاديثو نه په ډير واضح او ښکاره ډول معلوميږي چه په زړه کې خامخا کوم شی شته دی،چه په زړه کې د هغې شي د موجوديت په اساس د ذکر شوو شيانو نسبت زړه ته کيږي.خو متاسفانه چه د ميډيکل ساينس په فيلډ کې مونږ مسلمانان ريسرچرز يا محقيقين نلرو ،چه د دې شي په باره کې ريسرچ وکړي ،ځکه چه اکثره مسمانان صرف ددې دپاره ميډيکل ته ځې چه ډير ښه ډاکټر ترې جوړ شي اعلی ډيګري ،ښه کلينيک،او ډير مريضان ولرې او ډيرې پيسې وګټي دا د اکثرو مسلمانانو ډاکټرانو آخرنی هدف او ټارګيټ دی.نو په دې وجه د ميډيکل ساينس په فيلډ کې چه څومره ريسرچرز دي ټول کفار دي.او څومره ډيسکوريز او کشفيات چې کيږي کفار يې کوي.سره د دې چه قرآن ښکاره او په واضح ډول د عقل او فکر دپاره صرف د زړه ذکر کوي.خو د ميډيکل ساينس په فيلډ کې چه کوم ساينسدانان کار کوي د قرآن نه د ناخبريدو په وجه دې ته توجه نه کوي چه په دي باره کې صحيح ريسرچ وکړې .

دويم!کله چه هارټ ترانسپلنټيشن يا د زړونو پيوندول شروع شو.نو هغه خلک چه د بل چا زړونه ورته پيوند شوي وو،او جوړ شوي وو ،هر يو دا فکر او احساس کولو چه شخصيت يې تغير کړئ دی،او مخکېني خويونه او عادتونه يې بدل شوي دي.په اولو وختو کې خو ډاکټرانو ورسره نه منله خو کله چه د دوی شکايتونه ډير زيات شو،نو د ډاکټرانو توجه يې هم جلب کړه بالآخره هغه خلک چه زړونه يې بدل شوي وو،

يو ځای ته يې راټول کړل ،کله چه خلکو په خپلو منځونو کې خبرې وکړې ،ټولو ته يو قسم تکليف پيداشوئ وو،د ټولو شخصيتونه بدل شوي وو،د ټولو عادتونه او خويونه بدل شوي وو،فرضاً که څوک د اپريشن نه مخکې ډير آرام او احتياط کار وو خو د اپريشن نه وروسته بې احتياطه شوئ وو،که څوک مخکې ډير غصه ناک ،بدخلقه او جګړه مار وو،خو داپريشن نه وروسته ډير ښه او نيک انسانان ترې جوړ شوئ وو.

دريم-ځما خپله شخصي تجربه ده چه د يو دوست کور ته ورغلئ وم،د دوست سره مې مسجد ته لاړم هلته د يو سپين ږيرې سړي سره مخ شوم چه زما د دوست نيزدې ملګری و ،عمر يې د ۶۰ يا ۶۵ څخه زيات معلوميدو،خو کله چه سپين ږيرې زمونږ سره خبرې کولې سره د دې چه د ږيرې او سر ويښتان يې سپين او د بدن اندامونه يې زاړه معلوميدل، مګر د سړی خبرې ،خوی او عادتونه بالکل د يو ځوان هلک غوندې وو،چه زما دپاره ډيره حيرانونکې وه،کله مې چه د دوست نه پوښتنه وکړه چه دا سپين ږيری ولې د ځوانانو پشان خبرې او عادتونه کوي؟دوست راته وويل چه دا خو ډير آرام ،قرار او چپ انسان و ،خو د زړه تکليف ورته و او په هسپتال کې يې ورته د يو ځوان هلک زړه پيوند کړئ دی ،او د کوم وخت څخه يې چه زړه بدل شوئ دی، د ده ټول خويونه او عادتونه هم ټول د ځوانانو پشان شوي دي او داسي نور........يعني مطلب دا چه د هر چا په شخصيت ،خويونو او عادتونو کې فرق راغلئ وو.ددې تجربې نه سايسدانانو دا تيورې يا نظريه ورکړه چه:د انسان په زړه کې ميمورې سيلز موجود دي .کله چه بل چاته

پیوند شي نو ددي میموريې سیلز د اینفارمیشن یا معلومات ورکولو پواسطه نويې وجود ته د هغه شخصیت او عادتونه بدلیږي .

ځلورم! نوي ډیسکوري یا کشف وايي چه زړه خپل دماغ لري.ډاکټر جې اورمر ایم ډي پي ایچ ډي نیورو کارډیولوجیسټ سینټر اف ریسرچ یونیورسیټي اف مونټریل کاناډا وايي چه زمونږ ریسرچ او تحقیقاتو ثابته کړي چه زړه خپل دماغ یا برین لريې،یعني په زړه کې هم د دماغ پشان نیورون سیلز موجود دي چه په غیر د دماغ یا برین د کومک نه هم کار کولای شي ، زړه خپل ایلیکټرو میګناټیک فیلډ پیدا کوي چه طاقت يې د دماغ د ایلیکټرومیګناټیک فیلډ نه ۵۰۰ وارې زیات دی. د زړه دماغ یا برین د وجود د اعضاوو نه معلومات اخلي او د فیصلې نه وروسته د وجود اعضاوو حتی برین یا دماغ ته هم جوابي هدآیات ورکوي،د زړه او دماغ تر منځ کمونیکېشن(ارتباط) دوه طرفه دی،د دماغ نه سیګنل زړه ته ځي او د زړه نه دماغ ته ځي،د دماغ نه یو څه آرډرونه او احکام زړه ته ځي او د زړه نه یو څه آرډرونه او احکام دماغ ته ځي،داسي نه ده چه د دماغ څخه یو آرډر یا حکم زړه ته راشي او زړه پرېې سمدستي په پټو سترګو عمل وکړي.همدارنګه ډاکټر پول وروسته د ډیرو تحقیقاتو نه وايي چه ساینسي ترقي د دماغ یا برین پواسطه کیږي او اخلاقي ترقي د زړه پواسطه کیږي.

په آخر کې باید ووایم چه تر اوسه پورې ساینس د قرآن یوه خبره هم غلطه نه ده ثابته کړي او نه به يې ثابته کړي ان شأالله.البته د ساینسي ډیسکورئ یا کشف نه مخکې ساینسدانانو اعتراضونه کړي دي خو کله چه ساینسي ډیسکوري شویده خبره همهغه صحیح شویده کومه چه قرآن کړي ده.مثلاً قرآن فرمايې چه کائنات لویږي ،خو د وخت ساینسدانانو ویل چه نه لویږي او د قرآن مخالفت او اعتراضونه يې کول تر څو چه ۱۴۰۰ کاله وروسته ساینس ډیسکور او ثبوت کړه چه کائنات لویږي او د قرآن خبره يې تصدیق کړه. قرآن فرمايې چه کائنات د اول نه په همدې شکل موجود نه وو او پیداشوي دي،خو ساینسدانانو ویل چه په ابدې ډول د اول نه په همدې شکل

موجود وو،او د قرآن مخالفت او اعتراضونه يې وکړل مګر ۱۴۰۰ کاله وروسته ساينس ډيسکور او ثبوت کړه چه کائنات ابدې نه دي بلکه پيدا شوي دي ، او د قرآن خبره يې تائيد او تصديق کړه .قرآن فرمايې چه لمر ساکن نه دی او په حرکت کې دی،مګر ساينسدانانو ويل چه ساکن دی ،او د قرآن مخالفت او اعتراض يې کولو مګر تقريباً ۴۰ کاله مخکې ساينس ډيسکور او ثبوت کړه چه لمر ساکن نه دی بلکه متحريک دی،او د قرآن د خبرې تائيد او تصديق يې وکړ.او داسي نور .... مطلب دا دی چه په قرآن کې چه څومره خبرې د ساينس په باره کې دي پخپله ساينس هيڅکله د هغې مخالفت نه دی کړئ،ځکه چه د ساينسي ريسرچ او تحقيق نه مخکې ساينس نه يو شي ته غلط ويلای شي او نه صحيح،او الحمدلله د ريسرچ او ډيسکوري نه وروسته ساينس د قرآن د هري خبرې تائيد او تصديق کړئ دی.خو صرف بعضې ساينسدانانو هغوی هم د ريسرچ او ډيسکورۍ نه مخکې يو څه مخالفت کړئ دی خو د ډيسکورۍ يا کشف نه وروسته ساينس د قرآن د خبرې تصديق کړئ.نو ظاهره ده چه ساينسدانان هم هغه خبره منې کومه چه ساينس ثبوت کړي وي.او لکه مخکې چه وويل شو :ساينس زمونږ د دين برخه ده ځکه چه قرآن د الله تعالی قول دی او کائنات د الله تعالی فعل دی او د کائناتو مطالعه ساينس دی،نو دا خو معلومه خبره ده او هيڅ شک په کې نشته چه د الله تعالی په قول او فعل کې هيڅ اختلاف او تضاد نشته دی.فلهذا حقيقي ساينس او ساينسي کشفيات ټول د قرآنکريم مطابق دي او د قرآنکريم د آياتونو تائيد او تصديق کوي .او هره ساينسي خبره يا کشف چه د قرآنکريم د آياتونو خلاف وي ،هغه په حقيقت کې نه ساينسي خبره ده او نه ساينسي کشف دی،بلکه د ملحدينو ساينسدانانو خپلي شخصي غيري ساينسي نظريې او خبرې دي چه سل فيصده غلطي دي او حتماً به يوه ورځ ان شأالله د دوي غلطي د حقيقي ساينس پواسطه ثابته

شي.» وَلَهُمۡ أَعۡيُنٞ او د دوی سترګې شته دی(الله تعالی سترګې ورکړې دی چې په کائناتو کې د الله تعالی آیتونه، نشاني او حق وربانديې وګورې) لَّا يُبۡصِرُونَ بِهَا خو دوی په هغوی باندې کتل نه کوي(یعني دوی یې د الله تعالی د آیتونو او د حق د کتلو دپاره نه استعمالوي،او د داسې شیانو کتلو ته یې استعمالوې چې الله تعالی پرې خفه کیږي) وَلَهُمۡ ءَاذَانٞ او د دوی غوږونه شته دی(یعني الله تعالی غوږونه ورکړي دي چې حق او د الله تعالی کلام پرې واورې) لَّا يَسۡمَعُونَ بِهَآۚ خو دوی په هغوی سره اوریدل نه کوي(یعني حق او د الله تعالی کلام نه اورې) أُوْلَٰٓئِكَ دغه خلک كَٱلۡأَنۡعَٰمِ لکه د څارویو په شان دي بَلۡ بلکې هُمۡ دوی أَضَلُّۚ ډېر بې لارې دي(د څارویوو نه هم) أُوْلَٰٓئِكَ دغه خلک هُمُ همدوی ٱلۡغَٰفِلُونَ ناخبره دي.(په غفلت کې پراته دي) ﴿١٧٩﴾

وَلِلَّهِ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰ فَٱدۡعُوهُ بِهَاۖ وَذَرُواْ ٱلَّذِينَ يُلۡحِدُونَ فِيٓ أَسۡمَٰٓئِهِۦۚ سَيُجۡزَوۡنَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿١٨٠﴾

وَلِلَّهِ او د الله تعالی دپاره ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰ خایسته نومونه دي فَٱدۡعُوهُ نو یادوئ تاسو هغه«جل جلاله» بِهَاۖ په دې(خایسته نومونو سره کوم چې په قرآن او صحیح احادیثو کې دي.یعني که د الله تعالی ذکر کوئ هم په همدې نومونو سره یې کوئ،او که د الله تعالی څخه دعا غواړئ هم په همدې نومونو سره یې غواړئ لکه:یا ستَّارُ،یا غفَّارُ،یا كَرِيْمُ،یا عَلِيْمُ) وَذَرُواْ او تاسو پریږدئ ٱلَّذِينَ هغه خلک يُلۡحِدُونَ چې کجروې(او تحریف)کوې فِيٓ أَسۡمَٰٓئِهِۦۚ د هغه«جل جلاله» په نومونو کې(مثلاً د الله تعالی نومونه مخلوق ته ورکول،لکه چې مشرکانو به خپلو معبودانو ته آلهه ویلې«سعدې رحمت الله علیه» یا د الله تعالی نومونه بدلول او نور نومونه ترې جوړول لکه چې:مشرکانو د الله څخه «لات»

او د عزيز څخه«عزّا» او د منّان څخه «مَنَات» جوړ کړي وو.يا الله تعالى ته د يو عيبجن صفت نسبت ورکول لکه فقير،يا د خپله ځانه الله تعالى ته نومونه جوړول لکه چې يهوديان يې ابوالمکارم«پلار د کرمونو» او ابيض الوجه«سپين مخى»بولې،او نصارىَ يې ابوالمسيح«پلار د مسيح»بولې«کابلى تفسير» نو) سَيُجْزَوْنَ زر به جزا ورکول شي دوى ته مَا د هغې(الحاد يعنې تحريف) كَانُواْ يَعۡمَلُونَ چې دوى به(د الله تعالى په نومونو کې) کولو ﴿١٨٠﴾

وَمِمَّنۡ خَلَقۡنَآ أُمَّةٞ يَهۡدُونَ بِٱلۡحَقِّ وَبِهِۦ يَعۡدِلُونَ ﴿١٨١﴾

وَمِمَّنۡ او د هغو خلکو څخه خَلَقۡنَآ چې مونږ پيدا کړي دي أُمَّةٞ يوه ډله(داسې خلک)دي يَهۡدُونَ چې لارښودنه کوي(خلکو ته) بِٱلۡحَقِّ په حق سره وَبِهِۦ او په همدې(حق) سره يَعۡدِلُونَ عدالت کوي( يعنې د حق دعوت کوي،پخپله پرې عمل کوي،او د خلکو تر منځ د حق مطابق فيصلې کوي.) ﴿١٨١﴾

وَٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا سَنَسۡتَدۡرِجُهُم مِّنۡ حَيۡثُ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿١٨٢﴾

وَٱلَّذِينَ او هغو خلکو كَذَّبُواْ چې دروغ يې ګڼلې دي بِـَٔايَٰتِنَا آيتونه زمونږ(او د آخرت او د جهنم د عذاب څخه بې پروا دي،نو)
سَنَسۡتَدۡرِجُهُم په تدريجي توګه به مونږ هغوى ونيسو مِّنۡ حَيۡثُ د داسې ځاى څخه لَا يَعۡلَمُونَ چې دوى به خبر هم نه وي ﴿١٨٢﴾

وَأُمۡلِي لَهُمۡۚ إِنَّ كَيۡدِي مَتِينٌ ﴿١٨٣﴾

وَأُمۡلِي او مهلت ورکوم زه لَهُمۡۚ دوى ته( د عذاب په ورکولو کې) إِنَّ كَيۡدِي بيېشکه زما تدبير مَتِينٌ ډېر مضبوط دى ﴿١٨٣﴾

أَوَلَمۡ يَتَفَكَّرُواْۗ مَا بِصَاحِبِهِم مِّن جِنَّةٍۚ إِنۡ هُوَ إِلَّا نَذِيرٞ مُّبِينٌ ﴿١٨٤﴾

أَوَلَمۡ يَتَفَكَّرُواْۗ او آيا دوی فکر نه کوي مَا بِصَاحِبِهِم چې د هغوی په ملګرې(يعني محمد«صلی الله عليه وسلم او اوس وخت کې د دين په داعيانو) باندې نشته مِّن جِنَّةٍۚ د ليونتوب(هيڅ اثر يعني د مکې خلکو مخکې د نبوت د اعلان څخه نبي عليه السلام ته په ډېره درنه سترګه کتل،او آمين او رېښتينی يي ګڼلو،خو کله يي چې د قرآن تبليغ شروع کړو نو نعوذبالله د ليونې او دروغجن نسبتونه يې ورته شروع کړل،لکه چې نن صبا هم اکثره خلک په ديني علماوو او اسلامي داعيانو باندې ډول - ډول نومونه ږدې.ليکن) إِنۡ هُوَ نه دی هغه(صلی الله عليه وسلم»(او د هغه عليه السلام وارثان يعني ديني علماء او داعيان ليونی او دروغجن) إِلَّا مګر نَذِيرٞ مُّبِينٌ ښکاره ويرونکې دي(تاسو ته مخکې د دې څخه چې د بد انجام او عاقبت سره مخ شئ) ﴿١٨٤﴾

أَوَلَمۡ يَنظُرُواْ فِي مَلَكُوتِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا خَلَقَ ٱللَّهُ مِن شَيۡءٖ وَأَنۡ عَسَىٰٓ أَن يَكُونَ قَدِ ٱقۡتَرَبَ أَجَلُهُمۡۖ فَبِأَيِّ حَدِيثِۭ بَعۡدَهُۥ يُؤۡمِنُونَ ﴿١٨٥﴾

أَوَلَمۡ يَنظُرُواْ آيا دوی نظر(او فکر نه کوي) فِي مَلَكُوتِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ په سلطنت د آسمانونو او ځمکه کې وَمَا خَلَقَ ٱللَّهُ مِن شَيۡءٖ او په هغو شيانو کې چې الله تعالی پيدا کړي دي.( په کائنا تو کې غور او فکر کول ان شاألله چې انسان پرته د شک څخه د کائناتو خالق—الله تعالی ته رسوي .ځکه کله چه انسان وګوري چه کائنات څومره مغلق او کمپليکس دي .څومره دقيق قوانين،ډيزان او هماهنګي پکې ده نو عقل،کامن سينس او ساينس هيڅکله دا نشي منلای چه دا هر څه د خالق يا کريټر نه په غير پخپله پيدا او جوړشوي دي.د مثال په توګه که زمونږ د سولر سيستم يا شمسي نظام په باره کې غور او فکر وکړو نو زمونږ سولر سيستم د لمر او د ځمکې په شمول د اتو سيارو يا پلانټس نه جوړشويئ دی.په ځمکه کې دانسان دژوند د بقا دپاره د شيې اوورځې ضرورت دی، نو ځکه د ځمکې ډيزاين او جوړښت داسې شوئ دی چه په ۲۴ ساعتو کې بايد يو کرت پخپل محور يا اکسيس ګرد چاپيره وګرځي.او سرعت يا سپيډ يې بايد دزر مايلزنه په ساعت

کې زیات او کم نشي.اوکه ددي نه زیات او کم شي نو ژوند به د منځه لاړ شي ځکه که فرضاً په شپږ میاشتو کې یو ځل په خپل محور تاو شي نو په دې صورت کې به د ځمکې په یو طرف کې شپږ میاشتې شپه او بل طرف کې شپږ میاشتې ورځ وي،چې په داسې حالت کې به د ځمکې په یوه خوا کې د ګرمۍ څخه ژوند ختم شي او په بل طرف کې به د یخنۍ څخه ژوند ختم شي.په ځمکه کې د انسان د اوسیدلو دپاره انسان ته په حساب ،شمار، میاشتو او کلونو باندي پوهیدل ضرورت دی.نو ځکه د سپوږمۍ ډیزاین او جوړښت داسي شوئ دی چه سپوږمۍ په میاشت کې یو وار او په کال کې دولس وارې د ځمکې نه تاو شي.د لمر او ځمکې ترمنځ فاصله دري نوي میلیون مایلز ده یعنې داسې اندازه شوي ده،چې باید همدومره وه ځکه چې: که ددي نه لږه کمه او زیاته شي په دواړو صورتونو کې یا د یخنۍ او یا د ګرمۍ نه به ژوند د ځمکې په مخ د منځه لاړ شي. همدارنګه د ژوند د بقا لپاره څلور فصلونه ضرور دي نو د دې دپاره ځمکه په یو کال کې دلمر نه ګرد چاپیره ګرځې خو سرعت یا سپیډ یې باید د۶۷ زره مایلز نه په یو ساعت کې زیات یا کم نه وي.همدا رنګه لمر په یو سیکنډ کې د ۵۰۰ میلیونو اتوم بمونو په اندازه انرژۍ جوړوي(کوم اتوم بم چې امریکا د جاپان په یوریشمیا استعمال کړئ وو) چه دا اندازه په ځمکه کې د ژوند کولو لپاره مناسبه ده.خو که دا اندازه د دي نه زیاته یا کمه شي نو ژوند به په ځمکه کې ختم شي.یعني د لمر ځمکې او سپوږمۍ لپاره قانون داسي جوړ شویدی چه د لمر او ځمکې تر منځ فاصله به ثابته ساتل کیږي،ځمکه به په ۲۴ ساعتو کې یو ځل د خپل محور په خوا او شاه د شپو او ورځو د جوړولو دپاره او په یو کال کې د لمر په خوا او شاه د څلورو فصلونو د جوړولو دپاره او سپوږمۍ به په یوه میاشت کې د ځمکې نه ګردچاپیره د میاشتو او کلونو د جوړولو دپاره تاویږي.دا قانون دومره محکم او قوي دی چه ټول سیستم د همدي قانون مطابق چلیږي او هیڅ مخالفت او سرغړونه نشي کولای اوس که څوک وایې چه: دا دومره غټ او دقیق سیستم پخپله جوړشوئ دی او پخپله چلیږي نو دا خو عقل او کامن سینس نه منې .ځکه چه په سولر سیستم کې عقلي ډیزاین موجود دی او لحظه په لحظه پکې ډیرې دقیقې د انسان او ټیکنالوجې د سویې څخه

ډېري اوچتې محاسبې کيږي.څنګه چه ډيزاين بي د ډيزاينر څخه نه کيږي فلهذا ډيزاينر يې شته.د قانون موجود يت ، تطبيقول، او د سيستم په منظم ډول چليدل ددي ثبوت دی چه د قانون جوړونکی ،تطبيقونکی او کنټرولر يې شته دی چې الله تعالی دی.

إِنَّ فِي اخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَمَا خَلَقَ اللَّهُ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَتَّقُونَ ﴿6﴾

(چه څومره شيان الله تعالی په کائناتو کې پيدا کړي دي

په دي ټولو کې د الله تعالی د قدرت آياتونه او نښاني موجود دي.)مثلاً ستورې لمر سپوږمۍ حيوانات نباتات غرونه بحرونه ځنګلونه هوا او نور ټول د الله تعالی د وجود اوقدرت آياتونه او نښاني دي. او هر آيت بنده نيغ په نيغه خالق ته رسوي خو شرط دا دی چه غور او فکر پرې وشي.خو د بده مرغه د ملحدينو او دهريانو نه څه ګيله، هغوي چه د خالق د دوستۍ دعوی کوي د دوی د اکثريت دا حال دی چه که په يو مجلس کې څو کسان ناست وي،که د بيزنيس فلمونو سپورټ صحت موبايلونو او داسي نورو دنياوې شيانو په باره کې خبرې کيږي ټول به ډېر د زړه په مينه ورته غوږ نيسي او که کوم يو معمولي وخوځيږي بل به ورته وايې چه مه خوځيږه چه خبره رانه خطاه نشي .او که د دولت او سياست په باره کې بحث وي، يو به بل ته وار نه ورکوي، او هر يو به کوشش کوي چه خبري وکړي.مګر متاسفانه که په همدې مجلس کې څوک د الله تعالی او د دين خبرې شروع کړي د ټولو دپاره به مجلس بي خونده او بورينګ شي ،هر يو به کوشش کوي او دا به يې زړه وي چه دا بحث دي ختم شي. او ځني خو به په ډيره سپين سترګۍ خبرې کوونکې ته ووايې چه دا خبرې په مسجد کې کوه ،خو که بيا هم هغه د الله او د دين خبرو ته دوام ورکړي او بس يې نکړي، نو بيا به دوه په دوه خلک يو د بل سره پټې پټې خبرې شروع کړي تر دې چه کوم کس چه د الله تعالی خبرې کوي هغه ته دا احساس وشي چه ماته خو هيڅ چا غوږ نه دی نيولۍ او په ډيره خواشينۍ به خپلې خبرې بس کړي.فکر وکړئ چه د اکثرو دو ستانو دا حال وي نو د دشمنانو به څه حال وي؟په۲۴ ساعتو کې ۵ دقيقي

د الله تعالی په آیاتونو باندي غور او فکر کولو ته وخت نه ورکوي او بیا وایي چه مونږ سره دالله تعالی د منلو ثبوت نشته.د الله تعالی آیاتونه خورې او څکې دنیاوې فایدې ترې اخلې خو عبرت ترې نه اخلي او دا فکر نه کوي چه دا هرڅه څنګه او ولې کیږي؟مثلاً شیده،منه،کېله،انار،غوښه،اوبه او نور دا ټول د الله د قدرت نښاني دي ،خلک یې خورې ،فایدې ترې اخلي مګر عبرت ترې نه اخلي ځکه چه غور پرې نه کوي، اوتاسو باور وکړئ چه په هر یو آیت فکر وکړي ان شألله چه دغه هره نښانه بنده خالق ته رسوي.مثلاً که د انار د هرې دانې جوړښت ته وګورئ هره دانه د یو سور ښایسته غمي نه ډیره ښایسته ده او د هرې دانې په ترتیب ایښودل او د دانو په منځ کې نرۍ نرۍ پردي ایښودل او بیا ډیر ښایسته او مناسب پوخ ورکول که د ټولي دنیا ساینسدانان راټول شي د انار یوه دانه به جوړه نکړي نو یو شی چه د ټولي دنیا ساینسدانان نشي جوړولای او سره د ډیرو کوششونو نه جوړیږي نو هغه پخپله څنګه جوړیږي؟ ددي مطلب دا نه دی چه که د ۲۱ پیړۍ ټیکنالوژي او ساینسدانان انار نشي جوړولای نو پخپله جوړیږي .بلکه حقیقت دا دی چه د انار په جوړولو کې چه کومه ټیکنالوجی استعمال شوي ده،هغه د ۲۱ پیړۍ د ټیکنالوژې نه ډیره زیاته اوچته ده نوخلک په عوض د دې چه ووایي چه انار پخپله جوړیږي، باید چه د هغه ساینسدان په لټه کې شي چا چه انار جوړ کړئ او جوړوي یې.فکر وکړئ کله چه تاسو یو------------ -------------

تخم په خاوره کې خخ کړئ راشین شي نیالګی شي او څو کاله وروسته ترې غټه په ټنونو ونه جوړه شي، خو نه یو سانتي ځمکه ژوره شوي وي او نه یو خورد خاوره کمه شوي وي، مګر مونږ د ونې میوه خورو،دسیوري او لرګیو نه یې استفاده کوو خو عبرت ترې نه اخلو، ځکه چه غور نه کوو .

په کال کې دوه او درې فصلونه په پټي کې کرو، او په خرورونو- خرورونو حاصلات ترې اخلو، خو په پټي کې یو ملي میتر کموالی هم نه راځي، د پټي حاصلات خورو مګر عبرت ترې نه اخلو، ځکه چه غور او فکر نه کوو،ښه

نو چه خاوره نه کميږي نو دا دومره حاصلات او غلې ونه څنګه جوړيږي؟او د کوم ځای نه خپل غذايي مواد پوره کوي؟ آيا په دي مو کله غور کړی دی؟جواب: دا ځکه چه خالق په هره شنه پاڼه کې داسي کارخاني يا فکټريز جوړي کړي دي چه د هوا او اوبو نه د لمر د رڼا پواسطه بهترينه غذا جوړوي.او که ملحد ساينسدانان وايي چه دا کارخاني پخپله جوړيږي نو دوي دي مهرباني وکړي د ۲۱ پيړی تيکنالوجی دي هم استعمال کړي او ډيري نه صرف داسي يوه کارخانه دي جوړه کړي کومې چې په لکهاوو په هره شنه پاڼه کې الله تعالی جوړي کړي دي.خو نه دا کار چا کړئ دی او نه به يې د قيامت پورې څوک وکړي ،نو هغه کار چه په کولو نه کيږي هغه پخپله څنګه کيږي؟څومره د افسوس خبره ده په کوم ځای کې چه ساينس خپله عاجزي منې او څه نشي ويلای ، هلته به ملحد ساينسدان نه خپله عاجزی منې او نه به چپ پاتي کيږي او داسې خبرې به پرته د کوم علمي تحقيق او عقلي دلېل نه کوي چه عذر د ګناه نه بدتر، دا صرف د دې دپاره چه خبره د الله تعالی نه چپه کړي.يعني په هر ځای کې چه د خالق د نوم د ليکلو ضرورت وي چې دا کار الله تعالی کوي، ملحدين به هلته يا نيچر يا چانس يا پخپله او يا ميوټيشن ليکې.يعني په عوض د دې چه د خالق نوم وليکې چه دا کار خالق يا کريټر کوي دوی به د خالق د نوم په ځای کې يا نيچر او يا چانس او يا پخپله ليکي په دې مطلب چه دا کار نيچر کوي يا يې چانس کوي.او بيا څومره د حيرانتيا او شرم خبره ده چه هغه ساينسدانان چه موحدين دي او خالق منې دوی به هم په پټو سترګو د ملحدو ساينسدانانو تقليد کوي او په هر ځای کې چه ملحدينو د خالق په ځای نيچر ،پخپله يا چانس ليکلئ وي دوی به يې هم په ړندو سترګو تائيدوي ،ډيره عجيبه ده چه ملحد ساينسدانان د خالق په ځای کې د خالق د نوم په ځای د نيچر او چانس د ليکلو جرأت کولای شي ،سره د دي چه هيڅ عقلي،علمي او منطقي ثبوت او دلېل هم نلري،بلکې يو غيري ساينسي او د عقل خلاف کار دی،خو بيا هم ملحدين ساينسدانان صرف د الله تعالی د نوم څخه د بچولو په خاطر دا دومره غټ دروغ وايي او په ويلو او ليکلو يې نه شرميږي.مګر موحدين يا هغه ساينسدانان چه په خالق يا کريټر باندي عقيده لري،دوي د خالق يا کريټر په

ځای کې د خالق د نوم د ليکلو جرأت نه کوي، سره ددي چه زيات عقلي،علمي منطقي او ساينسي ثبوتونه او دلايل هم شته،زه نه پوهيږم چې دوی ته د الله تعالی د نوم په ليکلو ځانونه کم ښکارې او يا که نعوذبالله د الله تعالی په نوم شرميږي. دوي به د حشر په ميدان کې د دي جرم الله تعالی ته څه جواب ورکوي؟

۹۹ فيصده خلک په دنيا کې په دې عقيده دي چه کائنات خالق يا کريټر لرې او تقريباً يو فيصد خلک وايې چه خالق نلري، ډير زيات ساينسدانان په دې عقيده دي چه کائنات خالق لرې او ډير کم ساينسدانان وايې چه خالق نلرې هغه هم په شک کې دي،يعني زيات خلک او ساينسدانان په دې عقيده لرې چه کائنات خالق جوړکړي دي،او د دې د چلولو او کنټرولولو دپاره يې ډير قوې او محکم قوانين جوړکړي دي.او په دي قوانينو د پوهيدلو او پيژندلو دپاره خالق انسان ته د ساينس علم ورکړئوَعَلَّمَ آدم الْأَسْمَاءَ كُلَّهَا ﴿31 البقره﴾ تر څو چه د دې علم پواسطه نوموړی قوانين وپيژني او د ژوند په مختلفو ساحو کې ترې ګټه واخلي .مګر د ساينس د علم هغه ساينسدانان چه ملحد دي کله چه داسي موضوع راشي چه د ساينس علم يې تشريح او ايکسپلين کولای نشي يعني د هغې د تشريح دپاره ساينس نورو تحقيقاتو ته ضرورت لرې.نو ملحد ساينسدانان به د ساينسي تحقيقاتو او حقيقت ته د رسيدلو نه مخکې هر هغه کار چه ساينس يې د تشريح يا ايکسپلين کولو څخه عاجز وي ، نو دوی به يې په نيچر او چانس سپاري يعني ------------

په عوض د دې چه ووايې چه دا کار د کائناتو خالق کوي، دوي په دې ځای کې هم خپل الحادي نظر ته ځای ورکوي او پرته د کوم علمي ،عقلي او منطقي دلېل او ثبوت نه وايې چه:دا کار يا پخپله کيږي يا يې چانس کوي يا ميوټېشن او يا يې نيچر کوي ،يعني کوم ځای کې چه بايد د خالق نوم استعمال شي ،ملحدين به هلته پخپله،چانس،ميوټېشن يا نيچر استعمالوي.خوحقيقت دا دی چه د خالق ځای چه الله تعالی دی بل هيڅ شی نه نيولئ شي او نه يې ډکولای شي يعني د نوم په بدلولو د خالق ځای نه بل

شی ډکولای شي او نه یې نیولای شي،دا چې ملحدین د خالق په ځای کې د
نیچر یا پخپله یا چانس نوم استعمالوي نو آیا تاسو پوهیږئ چه د دې نومونو
د استعمالولو نه د دوی مطلب څه دی؟ او د دوی په زړونو کې د
نیچر،پخپله او چانس حیثیت او مقام څه دی ؟حقیقت دا دی چه د دې
نومونو لکه نیچر پخپله او چانس څخه د دوی مطلب داسې یو طاقت دی
چه لایتناهی یا اینفینیټ قدرت او پاور لرې،لایتناهې عقل ذهانت او علم
لرې، هر څه چه وغواړي هغه کولای شي،کائنات کنټرولوي، او هغه ټول
کارونه کولای شي کوم چه د ټیکنالوژي او انساني عقل دپاره ناممکن وي
.تاسو به اوریدلې وي چه کله چه کائنات پیداکېدل د بیګ بینګ په وخت کې
ملحدین دې طاقت ته د پخپله او چانس نوم ورکوې، او اوس دي طاقت ته
نیچر او قوانینو ته یې طبیعي قوانین یا نیچرل لاز یا طبیعې قوانین وایې
یعني ملحدین وایې چه: په کائناتو کې چه هرڅه کېږي نیچر یې کوي
،څوک چه د نیچر خلاف اعمال کوي نیچر جزا او سزا یا مکافات او
مجازات ورکوي ،غم او خوشالی ورکوي،او د کائناتو د چلولو او کنټرولو
دپاره یې نیچرل لاز جوړ کړي دي چه کائنات کنټرول او چلوي.دلته ښه
غور او فکر وکړئ .کوم ذات او طاقت ته چه مونږ الله تعالی وایو دوی
ورته نیچر وایې، نو حقیقت دا دی چه دوی د الله تعالی د ذات څخه نه
انکار کړئ دی او نه یې کولای شي ځکه چه د الله تعالی د ذات نه انکار
ناممکن دی ځکه چه د الله تعالی ځای پرته د الله تعالی نه بل هیڅ شی نه
نیولی شي او نه یې ډکولای شي او د الله تعالی کارونه صرف الله تعالی
کولای شي او د بل هیڅ چا د وسې نه پوره نه دي، نو دوي صرف د الله
تعالی د نوم نه انکار کړئ او کوي یې، یعني د الله تعالی نوم بدلوي او د الله
تعالی ذات که د چا خوښه وي او که نه په یو نوم نه په یو نوم یې منې مثلاً
هندوان ورته بګوان وایې ملحدین ورته نیچر او مونږ مسلمانان ورته الله

وایو . وَأَنۡ عَسَىٰٓ او(ایا دوی غور او فکر نه کوي) چې کیدای شي أَن
يَكُونَ قَدِ ٱقۡتَرَبَ چې نژدې شوي وي أَجَلُهُمۡۖ نیټه(د مرګ) د دوی(یعنې
د مرګ وخت خو معلوم نه دی چې کله راځي،او د هر شی د راتلو وخت
چې معلوم نه وي،هر وخت د هغه د راتلو امکان شته دی،نو که انسان
فکر وکړي،چې کیدای شي چې زما د ژوند مهلت په دنیا کې نور ډېر لږ
پاتې وي،او مرګ ډېر رانژدې وي،هسې نه چې الله تعالی ته مخ تورن
لاړ نه شم، نو د داسې فکر په کولو سره د انسان په زړه کې د الله تعالی
او د آخرت ویره پیدا کیږي،او د ایمان راوړل او د نیکو اعمالو کول ورته
ډېر آسانه کیږي.نو اوس که هم څوک ایمان رانوړي) فَبِأَيِّ حَدِيثِۭ نو په
کومه خبره باندې به بَعۡدَهُۥ وروسته د دغه(قرآنکریم د واضحه آیاتونو او
دلیلونو څخه) يُؤۡمِنُونَ دوی ایمان راوړي؟ ﴿١٨٥﴾

مَن يُضۡلِلِ ٱللَّهُ فَلَا هَادِيَ لَهُۥۚ وَيَذَرُهُمۡ فِي طُغۡيَٰنِهِمۡ يَعۡمَهُونَ ﴿١٨٦﴾

مَن يُضۡلِلِ ٱللَّهُ هر څوک چې الله تعالی ګمراه کړي(یعنې هر څوک چې د
هغه د ګناهونو او نافرمانۍ په سبب د الله تعالی په عدالت کې ګمراه ثابت
شي) فَلَا هَادِيَ لَهُۥۚ نو بیا د هغه دپاره هیڅوک لارښوونکۍ نشته
دی(باید پوه شو چې: د الله تعالی د حکمونو نه انکار او نه منل کفر
دی،کله چه بنده د الله تعالی د حکم خلاف کار یعنی عمل وکړي نو کفر او
ګناه یې وکړه،چه د دې ګناه په سبب په زړه کې یو تور داغ
جوړیږي،مګر که توبه وباسي نو بیرته لرې کیږي.خو که توبه ونه ویستل
شي نو دا تور داغ پخپله نه لرې کیږي او پاتې کیږي،نو که بنده بیا دوباره
ګناه وکړي،د مخکې په شان بیا په زړه کې بل تور داغ جوړیږي چه بیا
هم د توبې په واسطه د منځه ځي خو که توبه ونه ویستل شي دا تور داغ
هم پاتې کیږي،او زړه ورو ورو سختیږي،او که کفر او ګناه کول همداسې

دوام وکړي او توبه ونه ويستل شي ،بالآخره يو وخت راځي چې ټول زړه تک تور او دومره سخت شي،چې نور نو د هدايت رڼا دننه نه ورننوځي،نصيحت او دعوت وربانديې اثر نه کوي ،يعنی کله چې د بنده زړه دې مرحلې ته ورسيږي، نو که داسې کس ته دعوت ورکول شي او که ورنه کول شي،هغه نور ايمان نه راوړي.د زړه دا سخت او کلک حالت په قرآن شريف کې په لسو(۱۰) لقبونو سره ياد شوئ دی چې د دغو لسو لقبونو څخه يو لقب ختم(مهر)دی چې:د دوامداره کفر او ګناه کولو په سبب په زړه لړول کيږي ،يعنی د دوامداره ګناه کولو او کفر په سبب د بنده په زړه مُهر لړول کيږي،نه دا چې بنده ځکه کفر او ګناه کوي چې د هغه په زړه مُهر لړيدلئ دی.لکه چې په همدې موضوع بانديې په بل ځای کې فرمائي: بَلْ طَبَعَ اللَّهُ عَلَيْهَا بِكُفْرِهِمْ (سورةالنساء آيت ۵۵)ترجمه:بلکې مهر لګولئ دی الله تعالی په(زړونو)د دوی بانديې په سبب د کفر د دوی.) وَيَذَرُهُمْ او هغه«جل جلاله» پريږدي هغوی فِي طُغْيَٰنِهِمْ په سرکشی د هغوی کې يَعْمَهُونَ لالهانده(او سرګردانه) ﴿۱۸۶﴾

يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلسَّاعَةِ أَيَّانَ مُرْسَىٰهَاۖ قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِندَ رَبِّيۖ لَا يُجَلِّيهَا لِوَقْتِهَآ إِلَّا هُوَۚ ثَقُلَتْ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِۚ لَا تَأْتِيكُمْ إِلَّا بَغْتَةًۗ يَسْـَٔلُونَكَ كَأَنَّكَ حَفِيٌّ عَنْهَاۖ قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِندَ ٱللَّهِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿۱۸۷﴾

يَسْـَٔلُونَكَ (ای محمد«صلی الله عليه وسلم») دوی پوښتنه کوي ستا څخه عَنِ ٱلسَّاعَةِ د قيامت په باره کې أَيَّانَ چې کله مُرْسَىٰهَاۖ هغه(يعني قيامت) واقع کيږي؟ قُلْ ته (ورته) ووايه إِنَّمَا چې:بيشکه(حقيقت دا دی) عِلْمُهَا چې:علم د هغه(قيامت چې تاسو يې پوښتنه کوئ،صرف) عِندَ رَبِّيۖ زما د رب سره دی لَا يُجَلِّيهَا چې(هيڅوک) نشي ظاهرولای

هغه(یعني هیڅوک نشي قایمولای قیامت) لِوَقۡتِهَآ په خپل وخت (یعني په خپل مقرروخت یې هم بل څوک نشي قائمولای) إِلَّا مګر هُوَۚ هغه«جل جلاله»(یې قائموي په خپل معلوم وخت سره کوم چې صرف هغه«جل جلاله» ته معلوم دی،او دا قیامت ډېره) ثَقُلَتۡ درنه(واقعه) ده فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ په آسمانونو وَٱلۡأَرۡضِۚ او په ځمکه کې لَا تَأۡتِيكُمۡ چې: په تاسو باندې نه راځي إِلَّا بَغۡتَةٗۗ مګر په ناڅاپې ډول (دربادنې راځي، یعني بې خبره به په خپلو کارونو کې اخته یاستئ،څوک به ډوډی خوري،څوک به بازار کې ګرځي سودا به کوي،څوک به د دنیا په زیاتولو کې ګرم لګیا یاستئ،چې ناڅاپه به یو خوږ اواز د هر چا په غوږ ولږیږي،ټول خلک به ورته متوجه شي،اواز به ورو-ورو دومره سخت شي چې..........،او) يَسۡـَٔلُونَكَ دوی ستا څخه (داسې) پوښتنې کوي كَأَنَّكَ لکه ته چې حَفِيٌّ ښه خبر یې عَنۡهَاۖ د هغه(یعني قیامت)په باره کې(حال دا چې دا صرف زما معامله ده،نو) قُلۡ ته (ورته) ووایه إِنَّمَا بېشکه حقیقت دا دی عِلۡمُهَا چې:د هغه(یعني قیامت) علم عِندَ ٱللَّهِ یوازې د الله تعالی سره دی وَلَٰكِنَّ لیکن أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ اکثره خلک لَا يَعۡلَمُونَ نه پوهیږي(چې د قیامت علم صرف یوازې د الله تعالی سره دی) ﴿۱۸۷﴾

قُل لَّآ أَمۡلِكُ لِنَفۡسِي نَفۡعٗا وَلَا ضَرًّا إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُۚ وَلَوۡ كُنتُ أَعۡلَمُ ٱلۡغَيۡبَ لَٱسۡتَكۡثَرۡتُ مِنَ ٱلۡخَيۡرِ وَمَا مَسَّنِيَ ٱلسُّوٓءُۚ إِنۡ أَنَا۠ إِلَّا نَذِيرٞ وَبَشِيرٞ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ﴿۱۸۸﴾

قُل (او ای محمد«صلی الله علیه و سلم»ورته) ووایه لَّآ أَمۡلِكُ چې زه اختیار نلرم لِنَفۡسِي د خپل ځان دپاره نَفۡعٗا د ګټې(د رسولو) وَلَا او نه ضَرًّا د ضرر(د رسولو) إِلَّا پرته مَا د هغه څه شَآءَ ٱللَّهُۚ چې الله

تعالى يې غواړي وَلَوۡ او كه چيرته كُنتُ أَعۡلَمُ زه پوهيدلاى ٱلۡغَيۡبَ
په غيبو لَأسۡتَكۡثَرۡتُ مِنَ ٱلۡخَيۡرِ (نو) خامخا به مې ځانته ډېره ګټه رسولې
وه وَمَا مَسَّنِيَ ٱلسُّوٓءُۚ او ما ته به هيڅكله څه تكليف نه وو
رارسيدلاى(يعنې په كوم كار كې مې چې ګټه وه هغه به مې كولو،او په
كوم كار كې به مې چې تاوان او ضرر وو د هغه څخه به مې ځان
ساتلو،خو حقيقت دا دى) إِنۡ أَنَا۠ چې نه يم زه إِلَّا مګر نَذِيرٞ ويرونكئ
يم(د الله تعالى د عذاب څخه) وَبَشِيرٞ او زيرى وركوونكئ يم(د جنت)
لِّقَوۡمٖ د هغو خلكو دپاره يُؤۡمِنُونَ چې ايمان راوړي(په الله تعالى او نبي
عليه السلام باندې) ﴿١٨٨﴾

۞ هُوَ ٱلَّذِي خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٖ وَٰحِدَةٖ وَجَعَلَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا لِيَسۡكُنَ إِلَيۡهَاۖ فَلَمَّا تَغَشَّىٰهَا حَمَلَتۡ حَمۡلًا خَفِيفٗا فَمَرَّتۡ بِهِۦۖ فَلَمَّآ أَثۡقَلَت دَّعَوَا ٱللَّهَ رَبَّهُمَا لَئِنۡ ءَاتَيۡتَنَا صَٰلِحٗا لَّنَكُونَنَّ مِنَ ٱلشَّٰكِرِينَ ﴿١٨٩﴾

فَلَمَّآ ءَاتَىٰهُمَا صَٰلِحٗا جَعَلَا لَهُۥ شُرَكَآءَ فِيمَآ ءَاتَىٰهُمَاۚ فَتَعَٰلَى ٱللَّهُ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ﴿١٩٠﴾

أَيُشۡرِكُونَ مَا لَا يَخۡلُقُ شَيۡـٔٗا وَهُمۡ يُخۡلَقُونَ ﴿١٩١﴾ وَلَا يَسۡتَطِيعُونَ لَهُمۡ نَصۡرٗا وَلَآ أَنفُسَهُمۡ يَنصُرُونَ ﴿١٩٢﴾

۞ هُوَ هغه«جل جلاله» ٱلَّذِي هغه(ذات)دى خَلَقَكُم چې پيدا كړي
يې ياستئ تاسو مِّن د نَّفۡسٖ وَٰحِدَةٖ يو شخص(يعنې آدم عليه السلام)
څخه وَجَعَلَ او پيدا كړي ئې ده مِنۡهَا د هغه يو شخص(يعنې آدم عليه
السلام) څخه زَوۡجَهَا جوړه(يعنې ښځه) د هغه عليه السلام(حوا بي بي)
لِيَسۡكُنَ د دې دپاره چې سكون حاصل كړي إِلَيۡهَاۖ د هغې سره(يعنې
چې په سكون سره د هغې عليها السلام سره ژوند وكړي)

مطلب دا چې د ټولو انسانانو خالق او پيدا کوونکئ،رب او پالونکئ صرف يوازې الله تعالى دى،اوله جوړه آدم عليه السلام او حوا عليها السلام هم الله تعالى پيدا کړي دي،بل څوک ورسره د هغوى په پيدا کولو کې شريک نه وو،او د هغوى عليهما السلام څخه وروسته چې د نارينه او ښځې د نزديکت څخه کوم اولاد پيدا کيږي د دې خالق هم يوازې الله تعالى دى او بل څوک ورسره شريک نشته دى،ليکن ځينې خلک د الله تعالى سره د انسانانو په پيدا کولو او پاللو کې نور شريکان جوړوي،په دې ډول:

فَلَمَّا کله چې تَغَشَّٰهَا (نر ښځې ته نژدې شي) حَمَلَتْ هغه بارداره کيږي(يعني ښځه حامله کيږي،چې په اول کې) حَمْلًا حمل خَفِيفٗا خفيف(يعني سپک وي،ځکه چې په اوله مرحله کې کله چې د مور او پلار نطفې سره يو ځاى شي نو ښځه د وزن او دروندوالي احساس نه کوي) فَمَرَّتْ نو ګرځې راګرځې(يعني خپل روزمره کار لکه د مخکې په شان پرته د کوم د تکليف څخه کوي) بِهِۦ د دغه(سپک حمل سره) فَلَمَّآ خو کله چې(د څو مرحلو نه وروسته نطفه په علقه«لکه د وينې د برغنډ په شان،يا د ژورې په شان»او علقه په مضغه«د غوښې يوه ټوټه» او مضغه په عضام«د هډوکو پنجره» بدلې شي،او بيا د هډوکو نه غوښې تاو شي،او انساني شکل او صورت جوړ شى،او روح په کې پوه شي،نو) أَثْقَلَت هغه درنيږي(يعني ښځې ته احساس کيږي چې زه بارداره يم،نو په دې وخت کې) دَّعَوَا دواړه(ښځه او خاوند) دعا کوې اَللَّهَ د الله تعالى نه رَبَّهُمَا چې رب(پالوونکئ) د دوى دى(يعني مشرکان هم لکه موحدينو په شان دا خبره منې چې د مور په رحم کې ماشوم صرف الله تعالى جوړوي،نو ځکه په دې وخت کې مشرکان هم پرته د الله تعالى څخه نه بت او نه د غيرالله او نه د يو شريک نوم د کومک دپاره يادوي،او

یوازې الله ته سوال کوي،او وایې چې:ای الله!) لَئِنۡ که چیرته ءَاتَيۡتَنَا
ته راکړې مونږ ته صَٰلِحٗا یو صالح(یعني یو روغ او نیک)ماشوم
لَّنَكُونَنَّ نو مونږ به خامخا شو مِنَ ٱلشَّٰكِرِينَ د شکر کوونکو څخه.
﴿۱۸۹﴾

فَلَمَّآ خو کله چې ءَاتَىٰهُمَا هغه«جل جلاله» ورکړي دوی ته صَٰلِحٗا یو
صالح ماشوم(چې انسان وي او په څلور اندامونو روغ وي،نو) جَعَلَا
جوړوي دوی لَهُۥ هغه«جل جلاله»ته شُرَكَآءَ شریکان فِيمَآ په
هغه(صالح ماشوم)کې ءَاتَىٰهُمَاۚ چې هغه«جل جلاله» یې ورکوي دوی
ته(یعني یا به وربانديې عبدالعزا یا به عبدالمنات یا به عبدالرسول یا به
على بخش،پیر بخش،عبد شمس،حسین بخش او داسې نور مشرکانه
نومونه ږدي،او یا به د بتانو او غیرالله نذرونه او نور مشرکانه کارونه
کوي) فَتَعَٰلَى خو ډېر اوچت دی ٱللَّهُ الله تعالى عَمَّا د هغو(شیانو) څخه
يُشۡرِكُونَ چې دوی یې (ورسره)شریکوي ﴿۱۹۰﴾

أَيُشۡرِكُونَ آیا دوی(یعني مشرکان) شریکوي(د الله تعالى سره) مَا هغه
څه لَا يَخۡلُقُ چې هغه نشي پیدا کولای شَيۡـٔٗا هیڅ شی وَهُمۡ او
دوی(خو پخپله) يُخۡلَقُونَ پیدا شوي دي(یعني خالق صرف هغه څوک
کیدلای شي چې هغه بل خالق ونلري«و لم یولد»چې دا ذات صرف الله
تعالى دی،او پرته د الله تعالى څخه نور هرڅه یا ټول کائنات مخلوق یعني
پیدا شوئ دی،پس هیڅ پیدا شوئ شی نه خالق کیدلای شي او نه د خالق
سره شریک کیدلای شي.) ﴿۱۹۱﴾ وَلَا يَسۡتَطِيعُونَ او دا(د انسانانو په لاس
جوړ شوي شریکان) نه شي کولای لَهُمۡ د هغوی سره(یعني د هغو
خلکو سره چې د دوی څخه کومکونه او خپل حاجتونه پوره کول غواړي)
نَصۡرٗا هیڅ کومک(او نه یې کوم حاجت پوره کولای شي) وَلَآ او نه

أَنفُسَهُمۡ د خپلو ځانونو سره يَنصُرُونَ دوی کومک کولای شي(يعنې کوم شيان چې خلک يې د الله تعالی سره شريکان نيسي پيدا کول خو ډېره غټه خبره ده هغه خو د دوی سره يو معمولي غونډې کومک هم نشي کولای،بلکې د خپل ځان سره هم هيڅ کوملک نشي کولای،مثلاً هغه بت چې دوی ورته خدای وايې که په ځمکه ولوېږي، هغه خو خپل ځان هم د ځمکې څخه نشي راجګولای،هغه قبرونه چې دوی ورڅخه اولادونه،ښځې،دولتونه او د مرضونو علاجونه غواړي،نو لږ خو خپل عقلونه په کار اچول په کار دي،هغوی نه خپل ځانونه د مريضۍ او مرګ څخه خلاص کړي دي،او نه د خپلو ځانونو د ژوندې کولو اختيار ورسره شته دی،) ﴿١٩٢﴾

وَإِن تَدۡعُوهُمۡ إِلَى ٱلۡهُدَىٰ لَا يَتَّبِعُوكُمۡۚ سَوَآءٌ عَلَيۡكُمۡ أَدَعَوۡتُمُوهُمۡ أَمۡ أَنتُمۡ صَٰمِتُونَ ﴿١٩٣﴾

وَإِن او که چيرته تَدۡعُوهُمۡ تاسو اواز کوئ هغوی ته إِلَى ٱلۡهُدَىٰ د هدايت دپاره(يعنې چې تاسو ته هدايت وکړي يا په يو کار کې درته لارښودنه وکړي،نو) لَا يَتَّبِعُوكُمۡۚ هغوی تاسو ته هدايت نه کوي (يعنې نه درته هدايت کولای شي او نه لار درښودلای شي،لهذا د دوی په باره کې) سَوَآءٌ برابره ده عَلَيۡكُمۡ تاسو ته (دا خبره) أَدَعَوۡتُمُوهُمۡ که اواز وکړئ هغوی ته(د هدايت او کومک دپاره) أَمۡ أَنتُمۡ صَٰمِتُونَ يا تاسو چپ ياستئ(يعنې که څه ترې وغواړئ او که څه ترې ونه غواړئ،هغوی نه څه درکولای شي،او نه درسره څه کومک کولای شي ځکه چې هغوی نه ستاسو خبرې اورې،نه جواب درکولای شي او نه په کې داسې کوم طاقت شته چې ستاسو سره کومک وکړي بلکې هغوی پخپله د يو ځای نه بل

ځای ته د وړلو،او د ګردونو څخه د پاکولو دپاره تاسو ته احتیاج دي)
﴿١٩٣﴾

إِنَّ ٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ عِبَادٌ أَمۡثَالُكُمۡۖ فَٱدۡعُوهُمۡ فَلۡيَسۡتَجِيبُواْ لَكُمۡ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿١٩٤﴾

أَلَهُمۡ أَرۡجُلٞ يَمۡشُونَ بِهَآۖ أَمۡ لَهُمۡ أَيۡدٖ يَبۡطِشُونَ بِهَآۖ أَمۡ لَهُمۡ أَعۡيُنٞ يُبۡصِرُونَ بِهَآۖ أَمۡ لَهُمۡ ءَاذَانٞ يَسۡمَعُونَ بِهَاۗ قُلِ ٱدۡعُواْ شُرَكَآءَكُمۡ ثُمَّ كِيدُونِ فَلَا تُنظِرُونِ ﴿١٩٥﴾
إِنَّ وَلِـِّۧيَ ٱللَّهُ ٱلَّذِي نَزَّلَ ٱلۡكِتَٰبَۖ وَهُوَ يَتَوَلَّى ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿١٩٦﴾ وَٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ
مِن دُونِهِۦ لَا يَسۡتَطِيعُونَ نَصۡرَكُمۡ وَلَآ أَنفُسَهُمۡ يَنصُرُونَ ﴿١٩٧﴾ وَإِن تَدۡعُوهُمۡ
إِلَى ٱلۡهُدَىٰ لَا يَسۡمَعُواْۖ وَتَرَىٰهُمۡ يَنظُرُونَ إِلَيۡكَ وَهُمۡ لَا يُبۡصِرُونَ ﴿١٩٨﴾

إِنَّ ببشکه ٱلَّذِينَ هغه خوک،چا ته چې تَدۡعُونَ تاسو اواز کوئ(د کومک دپاره،یعنې د چا څخه چې کومک او خپل حاجتونه پوره کول غواړئ) مِن دُونِ ٱللَّهِ پرته د الله تعالی څخه(هغوی نه ستاسو سره څه کومک کولای شي،او نه مو حاجتونه پوره کولای شي،ځکه چې هغوی هم د الله تعالی) عِبَادٌ بندګان دي أَمۡثَالُكُمۡۖ ستاسو په شان(خو که بیا هم تاسو په خپل جهالت کلک ولاړ یاستئ،او وایئ چې هغوی ستاسو حاجتونه پوره کولای شي،نو بیا د خلکو په جوړو شوو قصو باندې یقین مه کوئ،او پخپله تجربه وکړئ،یو څه ترې وغواړئ،بیا وګورئ چې آیا کومک درسره کولای شي؟آیا کوم حاجت مو پو پوره کولای شي؟وبه ګورئ چې: هیڅکله هم نه څه درکولای شي او نه درسره څه مرسته کولای شي،ځکه چې هغوی نه ستاسو خبرې اورې،او نه جواب درکولای شي،او نه په کې د چا سره د مرستې کولو طاقت شته دی.) فَٱدۡعُوهُمۡ نو اواز وکړئ هغوی ته(او خپل حاجتونه ترې وغواړئ) فَلۡيَسۡتَجِيبُواْ او هغوی(هم باید)جواب درکړې لَكُمۡ تاسوته(یعنې ستاسو حاجتونه باید

پوره کړي،او مرسته درسره وکړي) إِن كُنتُمۡ که ياستئ تاسو صَٰدِقِينَ
رېښتيني(په دې خبره کې چې پرته د الله څخه هغوی ستاسو حاجتونه پوره
کولای شي،ليکن تاسو دروغ وايئ، نه به هغوی تاسو ته څه جواب
درکړي،او نه به ستاسو سره څه مرسته وکړي،او نه به مو حاجتونه پوره
کړي،او په سورة يونوس کې خو د دې پورې واضحه شوي ده چې: د
حشر په ورځ به هغوی وايي چې: إِن كُنَّا عَنۡ عِبَادَتِكُمۡ لَغَٰفِلِينَ
مونږ(خو)ستاسو د عبادت څخه بي خبره وو «يعني که تاسو مونږ ته
سجدې کړي وي،يا مو زمونږ څخه څه حاجتونه او مرستې غوښتې
وي،الله تعالى شاهد دى چې مونږ خو هيڅ خبر نه يو) ﴿٢٩﴾ ) ﴿١٩٤﴾

أَلَهُمۡ أَرۡجُلٞ آيا د هغوی پښې شته دی؟ يَمۡشُونَ چې هغوی وګرځي بِهَآۖ
په هغو باندې؟ أَمۡ لَهُمۡ أَيۡدٖ يا د هغوی لاسونه شته دی؟ يَبۡطِشُونَ چې
هغوی نيول وکړي بِهَآۖ په هغوی باندې؟ أَمۡ لَهُمۡ أَعۡيُنٞ يا د هغوی
سترګې شته دی؟ يُبۡصِرُونَ چې هغوی ليدل وکړي بِهَآۖ په هغوی
باندې أَمۡ لَهُمۡ ءَاذَانٞ يا د هغوی غوږونه شته دی يَسۡمَعُونَ چې هغوی
اوريدل وکړي بِهَآۗ په هغوی باندې(څومره د تعجب خبره ده چې:نه د چا
خبره اورې،نه څوک ګورې،نه د يو ځای نه بل ځای ته تللئ شي،نه د
ځان څخه يو مچ شړلئ شی خو بيا هم خلک ورته سجدې کوې او خپل
حاجتونه ترې غواړې.)

مشرکانو نبي عليه السلام ته وويلي چې زمونږ د معبودانو پسې که د
خبرو کولو څخه لاس وانخلې نو يا به دې مريض کړي او يا به دې
نعوذبالله ليونی کړي.نو الله تعالى فرمايي!

قُلِ (ای محمد«صلی الله علیه وسلم ورته» ووایه ٱدۡعُواْ تاسو اواز
وکړئ شُرَكَآءَكُمۡ خپلو معبودانو ته ثُمَّ كِيدُونِ بیا زما په خلاف تدبیر
وکړئ فَلَا تُنظِرُونِ او هیڅ مهلت مه راکوئ(یعني ستاسو معبودان نه چا
ته خیر رسولئ شي او نه شر،دا هسې ستاسو وهم او ګمان دی) ﴿١٩٥﴾
إِنَّ بېشکه وَلِـِّۧيَ زما کومک کوونکئ ٱللَّهُ الله تعالی دی ٱلَّذِي
هغه(ذات)دی نَزَّلَ چې نازل کړئ ئې دی ٱلۡكِتَٰبَۖ دا کتاب(قرآنکریم)
وَهُوَ او هغه«جل جلاله» يَتَوَلَّى مدد(او ملګرتیا)کوي ٱلصَّٰلِحِينَ د
نیکانو. ﴿١٩٦﴾ وَٱلَّذِينَ او هغه څوک،چا ته تَدۡعُونَ چې تاسو اواز
کوئ(د کومک او حاجتونو د پوره کولو دپاره) مِن دُونِهِۦ پرته د
هغه«جل جلاله»څخه لَا يَسۡتَطِيعُونَ هغوی طاقت(او وس)نه لري
نَصۡرَكُمۡ د کومک کولو ستاسو(سره) وَلَآ او نه(طاقت لري) أَنفُسَهُمۡ چې
د خپلو ځانونو(سره) يَنصُرُونَ هغوی کومک(او مرسته)وکړي ﴿١٩٧﴾
وَإِن او که چیرته تَدۡعُوهُمۡ تاسو اواز وکړئ هغوی ته إِلَى ٱلۡهُدَىٰ د
هدایت دپاره(یعني چې تاسو ته هدایت او لار ښودنه وکړي،لیکن) لَا
يَسۡمَعُواْۖ هغوی(ستاسو خبرې) نه اورې (یعني تاسو چې څه ترې
غواړئ،هغوی یې بالکل نه اورې.) وَتَرَىٰهُمۡ او( ستا په نظر کې هغوی
داسې راځې) يَنظُرُونَ إِلَيۡكَ چې هغوی تا ته ګورې(یعني تاسو فکر
کوئ چې تاسو هغوی ته ښکارئ) وَ حال دا دی چې هُمۡ هغوی لَا
يُبۡصِرُونَ هیڅ شی هم نه ګورې(یعني نه ورته تاسو ښکارئ،او نه ستاسو
خبرې اورې) ﴿١٩٨﴾

خُذِ ٱلۡعَفۡوَ وَأۡمُرۡ بِٱلۡعُرۡفِ وَأَعۡرِضۡ عَنِ ٱلۡجَٰهِلِينَ ﴿١٩٩﴾

وَإِمَّا يَنزَغَنَّكَ مِنَ ٱلشَّيۡطَٰنِ نَزۡغٞ فَٱسۡتَعِذۡ بِٱللَّهِۚ إِنَّهُۥ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٠٠﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ
ٱتَّقَوۡاْ إِذَا مَسَّهُمۡ طَٰٓئِفٞ مِّنَ ٱلشَّيۡطَٰنِ تَذَكَّرُواْ فَإِذَا هُم مُّبۡصِرُونَ ﴿٢٠١﴾ وَإِخۡوَٰنُهُمۡ

يَمُدُّونَهُمۡ فِي ٱلۡغَيِّ ثُمَّ لَا يُقۡصِرُونَ ﴿٢٠٢﴾ وَإِذَا لَمۡ تَأۡتِهِم بِـَٔايَةٖ قَالُواْ لَوۡلَا
ٱجۡتَبَيۡتَهَاۚ قُلۡ إِنَّمَآ أَتَّبِعُ مَا يُوحَىٰٓ إِلَيَّ مِن رَّبِّيۚ هَٰذَا بَصَآئِرُ مِن رَّبِّكُمۡ وَهُدٗى
وَرَحۡمَةٞ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ﴿٢٠٣﴾ وَإِذَا قُرِئَ ٱلۡقُرۡءَانُ فَٱسۡتَمِعُواْ لَهُۥ وَأَنصِتُواْ لَعَلَّكُمۡ
تُرۡحَمُونَ ﴿٢٠٤﴾ وَٱذۡكُر رَّبَّكَ فِي نَفۡسِكَ تَضَرُّعٗا وَخِيفَةٗ وَدُونَ ٱلۡجَهۡرِ مِنَ
ٱلۡقَوۡلِ بِٱلۡغُدُوِّ وَٱلۡأٓصَالِ وَلَا تَكُن مِّنَ ٱلۡغَٰفِلِينَ ﴿٢٠٥﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ عِندَ رَبِّكَ لَا
يَسۡتَكۡبِرُونَ عَنۡ عِبَادَتِهِۦ وَيُسَبِّحُونَهُۥ وَلَهُۥ يَسۡجُدُونَ۩ ﴿٢٠٦﴾

خُذِ ٱلۡعَفۡوَ ته د عفوې لار ونیسه(يعنې د غصه کيدلو په ځای د خلکو سره د عفوې او معافی معامله کوه،ځکه چې داعې او د الله د قانون منونکو ته اکثره خلک تکلیفونه ورکوي،نو که د عفوې ماده په کې نه وي نو بیا به ژوند ډېر سخت او هر وخت به غصه او ټينشن کې وي) وَأۡمُرۡ او حکم کوه(خلکو ته) بِٱلۡعُرۡفِ په نيکۍ سره(خو که څوک په نيکه او حق خبره خفه کيږي،او تا ته داسې خبره وکړې چې تا ته غصه درولي،نو ته غصه کيږه مه.) وَأَعۡرِضۡ او مخ اړوه عَنِ ٱلۡجَٰهِلِينَ د جاهلانو څخه(يعنې جاهلانو ته په جهل سره جواب مه ورکوه،او پريږده يې.) ﴿١٩٩﴾

وَإِمَّا او که چيرته يَنزَغَنَّكَ ولمسوې تا مِنَ ٱلشَّيۡطَٰنِ د شيطان نَزۡغٞ کومه وسوسه(يعنې کله که د چا په ناپوهه او بد اخلاقه خبره دې شيطان غصه کيدلو ته ولمسوي،او وسوسه درواچوي چې د عفوې لار پريږده،او وجود دې د غصې څخه په ريږدو شي،د دې حالت علاج الله تعالى فرمايي:) فَٱسۡتَعِذۡ نو پناه وغواړه بِٱللَّهِ په الله تعالى سره(د شيطان د وسوسو څخه،يعنې اعوذ بالله وايه) إِنَّهُۥ بيشکه هغه«جل جلاله» سَمِيعٌ اوريدونکئ (او) عَلِيمٌ پوه دى ﴿٢٠٠﴾

إِنَّ بيشکه ٱلَّذِينَ هغه(خلک) ٱتَّقَوۡاْ چې هغوی ويريږي(د الله تعالى څخه) إِذَا کله چې مَسَّهُمۡ رسيږي دوی ته طَٰٓئِفٞ څه وسوسه مِّنَ

ٱلشَّيۡطَٰنِ د شيطان (نو) تَذَكَّرُواْ دوی(الله تعالی) يادوي(يعني اعوذبالله وايي) فَإِذَا نو هغه وخت(چې اعوذبالله ووايي،سمدستي) هُم مُّبۡصِرُونَ د دوی د(بصيرت)سترګي خلاصيږي.( بيرته خپل اصلي او نارمل حالت ته راګرځي،او غصه او ټينګښن يې ختميږي) ﴿۲۰۱﴾ وَإِخۡوَٰنُهُمۡ او د هغوی وروڼه(يعني هغه خلک چې د شيطانانو وروڼه دي،د شيطان د وسوسو څخه د الله تعالی نه کومک او پناه نه غواړي يعنې اعوذ باالله نه وايي،نو هر قِسم د ګمراهی وسوسې چې شيطانان وراچوي،دوی هماغسې کوي،نو) يَمُدُّونَهُمۡ هغوی(يعني شيطانان) راکشوي دوی فِي ٱلۡغَيِّ په ګمراهی کې ثُمَّ لَا يُقۡصِرُونَ او د هغوی(د حق څخه)په اړولو کې هيڅ کمی نه کوي ﴿۲۰۲﴾ وَإِذَا او(ای پيغمبر«صلی الله عليه وسلم») کله چې لَمۡ تَأۡتِهِم ته رانوړې هغوی(يعني مشرکانو)ته بِـَٔايَةٖ کوم آيت (يعني کله چې د وحي په نازليدلو کې لږ ځنډ راشي،نو) قَالُواْ نو هغوی(يعني مشرکان او کافران د مسخرو نه ) وايي لَوۡلَا چې ولې ٱجۡتَبَيۡتَهَاۚ ته نه جوړوې هغه(آيتونه چې مخکې دې جوړول،يعني نعوذ بالله چې ګڼي د قرآنکريم آيتونه خو ته پخپله جوړوې،او نسبت ئې الله تعالی ته کوې،نو اوس دې ولې د آيتونو جوړول بند کړي دي؟الله تعالی فرمايي چې:) قُلۡ ته(ورته) ووايه إِنَّمَآ بېشکه حقيقت دا دی(چې نه ما مخکې د خپل ځان څخه آيتونه جوړ کړي دي او نه ئې اوس جوړوم،بلکې) أَتَّبِعُ زه پيروي(او تابعداري) کوم مَا د هغو(آيتونو د قرآنکريم) يُوحَىٰٓ چې وحي کيږي إِلَيَّ ما ته مِن رَّبِّيۚ د خپل رب د طرف څخه(پخپله هم ورباندې عمل کوم،او تاسو ته يې هم رسوم،او) هَٰذَا دا(د قرآنکريم آيتونه) بَصَآئِرُ بصيرت(او عقلي دلايل) دی مِن رَّبِّكُمۡ ستاسو د رب د طرف څخه وَهُدٗى او هدايت دی وَرَحۡمَةٞ او رحمت دی لِّقَوۡمٖ د هغو خلکو دپاره يُؤۡمِنُونَ چې هغوی ايمان راوړي(پو دې آيتونو يعنې

قرآنکریم باندې) ﴿٢٠٣﴾ وَإِذَا او کله چې قُرِئَ لوستل کیږي ٱلْقُرْءَانُ
قرآن(یعنې کله چې د قرآنکریم آیتونه تلاوت کیږي) فَٱسْتَمِعُوا۟ نو تاسو
غوږ نیسئ لَهُۥ هغه ته(یعنې د قرآنکریم د آیتونو تلاوت ته غوږ نیسئ)
وَأَنصِتُوا۟ او چپ اوسئ(شور او خبرې مه کوئ،د هر آیت په معنی
ځانونه پوهوئ،او غور او فکر په کې کوئ) لَعَلَّكُمْ د دې دپاره چې په
تاسو باندې تُرْحَمُونَ رحم وشي(د الله تعالی) ﴿٢٠٤﴾ وَٱذْكُر او ذکر کوه
رَّبَّكَ د رب خپل فِي نَفْسِكَ په خپل زړه کې تَضَرُّعًا په عاجزی
وَخِيفَةً او ویرې سره وَدُونَ او(ذکر کوه) پرته ٱلْجَهْرِ مِنَ ٱلْقَوْلِ د
جګ اواز څخه(یعنې په زوره چغې مه وهه) بِٱلْغُدُوِّ سحر وَٱلْأَصَالِ
او ماښام وَلَا تَكُن او ته مه کیږه مِّنَ ٱلْغَٰفِلِينَ د غافلانو څخه. ﴿٢٠٥﴾
إِنَّ بېشکه ٱلَّذِينَ هغه(ځوک) عِندَ رَبِّكَ چې ستا د رب سره(نزدې)
دي لَا يَسْتَكْبِرُونَ هغوی تکبر(او لویې) نه کوي عَنْ عِبَادَتِهِۦ د عبادت
د هغه«جل جلاله» څخه وَيُسَبِّحُونَهُۥ او د هغه«جل جلاله» پاکي وايي
وَلَهُۥ او (خاص) هغه«جل جلاله» ته يَسْجُدُونَ ۩ دوی سجدې کوي.۩
﴿٢٠٦﴾

# «سورة الانفال»

د الانفال سورة مدني دی پرته د ۳۰ څخه تر ۳۶ آیت د آخره پورې چې مکي دي.۷۵ آیتونه او ۱۰ رکوع لرې،په تلاوت کې ۸ او په نزول کې ۸۸ سورة دی.او د البقرة د سورت څخه وروسته نازل شوئ دی.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلۡأَنفَالِۖ قُلِ ٱلۡأَنفَالُ لِلَّهِ وَٱلرَّسُولِۖ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَأَصۡلِحُواْ ذَاتَ بَيۡنِكُمۡۖ وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿١﴾

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

کله چې د بدر په غزا کې مشرکانو شکست وکړو،نو مجاهدين درې ډلې شول،يوې ډلې مشرکان د مکې په طرف زغلول،دوهمې ډلې د هغوی څخه پاتې شوئ د غنيمت مال راټولولو،او دريمې ډلې د محمد«صلى الله عليه وسلم»حفاظت کولو،نو کله چې هرڅه ختم شو او ټول مجاهدين سره يوځای راټول شو، د غنيمت د مال په باره کې د هغوی«رضی الله عنهم»په منځ کې لږ څه اختلاف پيدا شو،نو د نبي عليه السلام څخه يې هدايت او لارښودنه وغوښتله،نو دا مبارک آيت نازل شو!

يَسۡـَٔلُونَكَ دوی پوښتنه کوي ستا څخه عَنِ ٱلۡأَنفَالِۖ د غنيمت د مال په باره کې قُلِ ته(ورته)ووايه ٱلۡأَنفَالُ چې د غنيمت مال لِلَّهِ وَٱلرَّسُولِۖ د الله تعالى او د پيغمبر«صلى الله عليه وسلم» دی فَٱتَّقُواْ نو ووېرېږئ تاسو ٱللَّهَ د الله تعالى څخه وَأَصۡلِحُواْ او تاسو صلحه وکړئ ذَاتَ بَيۡنِكُمۡۖ په

خپل منځ کې(يعنې خپل منځنې اختلافات اصلاح کړئ) وَأَطِيعُواْ او اطاعت کوئ ٱللَّهَ د الله تعالی وَرَسُولَهُۥٓ او د پيغمبر د هغه«جل جلاله»(يعني د غنيمت د مال په باره کې د الله تعالی او د هغه«جل جلاله» د رسول«صلی الله عليه وسلم»حکم منئ) إِن كُنتُم که چيرته ياستئ تاسو مُّؤۡمِنِينَ مؤمنان. ﴿١﴾

إِنَّمَا ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٱلَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ ٱللَّهُ وَجِلَتۡ قُلُوبُهُمۡ وَإِذَا تُلِيَتۡ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتُهُۥ زَادَتۡهُمۡ إِيمَٰنٗا وَعَلَىٰ رَبِّهِمۡ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٢﴾

إِنَّمَا بېشکه حقيقت دا دی ٱلۡمُؤۡمِنُونَ چې مؤمنان ٱلَّذِينَ هغه خلک دي إِذَا چې:کله ذُكِرَ ذکر کيږي ٱللَّهُ د الله تعالی وَجِلَتۡ ويرېږي قُلُوبُهُمۡ زړونه د هغوی(د الله تعالی د ويرې څخه) وَإِذَا او کله چې تُلِيَتۡ تلاوت کيږي(لوستل کيږي) عَلَيۡهِمۡ په هغوی باندې ءَايَٰتُهُۥ آيتونه د هغه«جل جلاله» زَادَتۡهُمۡ زياتوي د هغوی إِيمَٰنٗا ايمان(يعني د الله تعالی د آيتونو په اوريدلو سره يې ايمان زياتيږي) وَعَلَىٰ رَبِّهِمۡ او په خپل رب باندې يَتَوَكَّلُونَ هغوی توکل کوي. ﴿٢﴾

ٱلَّذِينَ يُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَمِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ يُنفِقُونَ ﴿٣﴾

ٱلَّذِينَ هغه خلک يُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ چې لمونځ کوي وَمِمَّا او ځينې د هغه(مال څخه) رَزَقۡنَٰهُمۡ چې مونږ ورکړئ دی هغوی ته يُنفِقُونَ (د الله تعالی لار کې) مصرفوي ﴿٣﴾

أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ حَقّٗاۚ لَّهُمۡ دَرَجَٰتٌ عِندَ رَبِّهِمۡ وَمَغۡفِرَةٞ وَرِزۡقٞ كَرِيمٞ ﴿٤﴾

أُوْلَٰٓئِكَ دغه خلک هُمُ همدوی ٱلۡمُؤۡمِنُونَ مؤمنان دي حَقّٗاۚ په حقه (او رښتيا)سره لَّهُمۡ چې د دوی دپاره دَرَجَٰتٌ درجې دي(يعني مرتبې يا

رتبې دي) عِندَ رَبِّهِمۡ د خپل رب سره وَمَغۡفِرَةٞ او(د دوی دپاره) بخښنه وَرِزۡقٞ كَرِيمٞ او عزتمن رزق دی(د خپل رب سره) ﴿٤﴾

كَمَآ أَخۡرَجَكَ رَبُّكَ مِنۢ بَيۡتِكَ بِٱلۡحَقِّ وَإِنَّ فَرِيقٗا مِّنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ لَكَٰرِهُونَ ﴿٥﴾

يُجَٰدِلُونَكَ فِي ٱلۡحَقِّ بَعۡدَ مَا تَبَيَّنَ كَأَنَّمَا يُسَاقُونَ إِلَى ٱلۡمَوۡتِ وَهُمۡ يَنظُرُونَ ﴿٦﴾ وَإِذۡ يَعِدُكُمُ ٱللَّهُ إِحۡدَى ٱلطَّآئِفَتَيۡنِ أَنَّهَا لَكُمۡ وَتَوَدُّونَ أَنَّ غَيۡرَ ذَاتِ ٱلشَّوۡكَةِ تَكُونُ لَكُمۡ وَيُرِيدُ ٱللَّهُ أَن يُحِقَّ ٱلۡحَقَّ بِكَلِمَٰتِهِۦ وَيَقۡطَعَ دَابِرَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٧﴾ لِيُحِقَّ ٱلۡحَقَّ وَيُبۡطِلَ ٱلۡبَٰطِلَ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡمُجۡرِمُونَ ﴿٨﴾

(د غنيمت مال به د الله تعالی او د پيغمبر «صلی الله عليه وسلم» په حکم باندې تقسيميږي،اګر که ځينې خلک ورباندې خوشاله نه وي)

كَمَآ لکه څنګه چې أَخۡرَجَكَ ته راوويستلې رَبُّكَ رب خپل مِنۢ بَيۡتِكَ د خپل کور څخه بِٱلۡحَقِّ په حق سره(د مکې د مشرکانو سره د جنګ او مقابلې دپاره په بدر کې،يعنې ای محمد«صلی الله عليه وسلم) لکه څنګه چې ته د الله تعالی په حکم د کور څخه د بدر د جنګ دپاره راووتې) وَإِنَّ فَرِيقٗا او بېشکه چې يوه ډله مِّنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ د مؤمنانو لَكَٰرِهُونَ ناخوښه وو(په بدر کې د مکې د مشرکانو سره په جنګ کولو باندې،نو) ﴿٥﴾

يُجَٰدِلُونَكَ بحث يې کولو ستا سره فِي ٱلۡحَقِّ په حق کې(يعنې بدر ته ستا د تللو او د کفارو او مشرکانو سره د جنګ کولو په باره کې يې ستا سره بحث کولو) بَعۡدَ مَا تَبَيَّنَ وروسته د دې چې (دوی ته) دا خبره واضح شوي وه(چې ته پرته د الله تعالی د حکم څخه هيڅ کار نه

کوي،لیکن د دوی د بحث سبب د ایمان کمزورۍ،او د الله تعالی او نبي علیه السلام نافرماني نه وه بلکې د سرِيو او جنګي وسایلو کموالئ يې سبب وو.ځکه چې د مکې د مشرکانو او کفارو تعداد هم زيات وو،او په جنګي وسایلو هم پوره مجهز وو،نو د دوی حال داسې وو) كَأَنَّمَا لکه چې يُسَاقُونَ ورو‌ستل کیږي دوی إِلَى ٱلْمَوْتِ مرګ ته وَهُمْ يَنظُرُونَ او دوی ورته ګوري(یعنې دا د دې ډلې مؤمنانو ذهني کفیت وو.چې د مشرکانو د لښکر سره ورته جنګ کول داسې ښکاریدل لکه خپل مرګ ته چې ورځي،ځکه چې د هغوی سرِي هم زيات وو،او صلاح هم ورسره پوره وه،او د دوی سرِي هم کم وو،او صلاح ورسره هم کمه وه، لیکن نتیجه د دوی د تصور خلاف راووته،په زرو مجهزو کفارو باندې الله تعالی ۳۱۳ مسلمانانو ته فتح ورکړه.او ۷۰ کسان يې بندیان او ۷۰ کسان يې ووژل شول. مطلب دا چې لکه څنګه چې دوی د مشرکانو سره په جنګ کولو خوشاله نه وو،خو بیا دوی ولیدل چې فتحه او غنیمتونه د دوی نصیب شو او دا کار د دوی په ګټه وو،همدارنګه که ظاهراً دوی هر څنګه فکر کوي،خو حقیقت دا دی چې: د الله تعالی او د هغه د رسول«صلی الله علیه وسلم» د حکم مطابق د غنیمت د مال تقسیمول هم د دوی په ګټه دي) ﴿٦﴾

وَإِذْ او یاد کړئ هغه وخت کله چې: يَعِدُكُمُ ٱللَّهُ الله تعالی وعده وکړه ستاسو سره (نبي علیه السلام ته د وحې پواسطه) إِحْدَى د يوې(ډلې) ٱلطَّآئِفَتَيْنِ د دوه ډلو څخه أَنَّهَا چې هغه به لَكُمْ ستاسو دپاره وي(یعنې ستاسو په مقابل کې به مغلوبه او شکست وخوري او تاسو ته به غنیمت په لاس درشي،دا دوه ډلې یوه د مکې د هغو مشرکانو او کفارو قافله وه،د چا د ظلمونو څخه چې مسلمانانو خپل کورونه پریښي وو،او مدینې منورې ته يې هجرت کړئ وو،او هغوی يې په کورونو،جایدادونو او

مالونو باندې قبضه کړي وه.دوهمه ډله د مکې د مشرکانو او کفارو هغه د ۱۰۰۰ زرو جنګياليو مجهز لښکر وو،چې د دې قافلې د حفاظت دپاره راروان شوئ وو،دلته دا خبره د غور او د فکر وړ ده چې:الله تعالی خو عليم،خبير او د هر کار په آغاز او انجام خبردی،نو د هغه جل جلاله د طرف څخه په دې مبهمه وعده کې راز او حکمت څه وو ؟چې د دې دواړو ډلو څخه به په يوه ډله باندې د مسلمانانو غلبه او قبضه وشي،ځکه چې الله تعالی خو کولای شو چې وفرمايي چې د دې دواړو ډلو څخه به په پلانکی ډلې د مسلمانانو غلبه او قبضه وشي.د دې ابهام سبب دا معلوميږي«والله اعلم» چې په دې کې د صحابه کرامو امتحانول وو،چې اسان کار خوښوي که مشکل.«معارف القرآن»او الله تعالی فرمايي) وَتَوَدُّونَ او تاسو خوښوله أَنَّ چې غَيْرَ ذَاتِ ٱلشَّوْكَةِ بې وسلې(تجارتي قافله) تَكُونُ لَكُمْ دې ستاسو دپاره شي(يعنې کومو صحابه کرامو چې په قافله غلبه او قبضه کول غوښتل،دوی فکر کاوه چې په قافله باندې غلبه او قبضه کول آسانه او بې خطره هم دي او بل به د قافلې د خلکو وسلې هم مونږ ته په لاس راشي،او په هغې وسلو به بيا د لښکر سره مقابله هم وکړو،ځکه د صحابه کرامو سره جنګې سامان ډېر کم وو،مطلب دا چې دا د هغوی د ايمان کمزورې نه وه.ليکن) وَيُرِيدُ ٱللَّهُ د الله تعالی آراده (داسې) وه أَن چې يُحِقَّ ثابت(اوښکاره)کړي ٱلْحَقَّ حق(يعنې د اسلام د دين حقانيت) بِكَلِمَٰتِهِۦ په خپل حکم (مدد او کومک) سره وَيَقْطَعَ او قطع(او غوځ) کړي دَابِرَ بيخ(او ريښې) ٱلْكَٰفِرِينَ د کافرانو(لکه چې د ابوجهل په شمول لوی لوی مشرکان او کفار ووژل شول) ﴿٧﴾ لِيُحِقَّ ٱلْحَقَّ د دې دپاره چې حق(يعنې اسلام) حق ثابت شي وَيُبْطِلَ ٱلْبَٰطِلَ او باطل(يعنې کفر او شرک) باطل(او غلط) ثابت شي

وَلَوۡ اګر كه كَرِهَ ٱلۡمُجۡرِمُونَ مجرمان(یعنې مشرکان او کفار) یې نه خوښوي. ﴿٨﴾

إِذۡ تَسۡتَغِيثُونَ رَبَّكُمۡ فَٱسۡتَجَابَ لَكُمۡ أَنِّي مُمِدُّكُم بِأَلۡفٖ مِّنَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ مُرۡدِفِينَ ﴿٩﴾
وَمَا جَعَلَهُ ٱللَّهُ إِلَّا بُشۡرَىٰ وَلِتَطۡمَئِنَّ بِهِۦ قُلُوبُكُمۡۚ وَمَا ٱلنَّصۡرُ إِلَّا مِنۡ عِندِ ٱللَّهِۚ إِنَّ
ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿١٠﴾ إِذۡ يُغَشِّيكُمُ ٱلنُّعَاسَ أَمَنَةٗ مِّنۡهُ وَيُنَزِّلُ عَلَيۡكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ
مَآءٗ لِّيُطَهِّرَكُم بِهِۦ وَيُذۡهِبَ عَنكُمۡ رِجۡزَ ٱلشَّيۡطَٰنِ وَلِيَرۡبِطَ عَلَىٰ قُلُوبِكُمۡ وَيُثَبِّتَ بِهِ
ٱلۡأَقۡدَامَ ﴿١١﴾

کله چې پیغمبر «صلی الله علیه وسلم» د بدر د غزا په ورځ ولیدل چې کفار زر کسان او پوره وسلې او جنګې سازو سامان ورسره وو،او مجاهدين ٣١٣ کسان وو او پوره وسله او جنګې سامان هم ورسره نه وو،نو د الله تعالی په حضور کې ئې د دعا دپاره لاسونه اوچت کړل او د الله تعالی څخه ئې د کومک او کامیابیدلو غوښتنه کوله،او مؤمنانو مجاهدينو به آمین ویلو.نو ځکه الله تعالی فرمايې!

إِذۡ یاد کړئ هغه وخت کله چې تَسۡتَغِيثُونَ تاسو کومک غوښتلو رَبَّكُمۡ د خپل رب څخه فَٱسۡتَجَابَ نو هغه «جل جلاله» جواب درکړو لَكُمۡ تاسو ته أَنِّي چې بېشکه زه مُمِدُّكُم کومک کوم ستاسو بِأَلۡفٖ په زر(تنو) سره مِّنَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ د ملائيکو مُرۡدِفِينَ (چې) یو د بل پسې راتلونکې(به وي د جنګ میدان ته،یعنې صفونه-صفونه به یو دبل پسې د جنګ میدان ته روان وي) ﴿٩﴾ وَمَا جَعَلَهُ او نه وو ګرځولي دا(د ملائيکو لیږل) ٱللَّهُ الله تعالی(د بدر میدان ته) إِلَّا مګر بُشۡرَىٰ زیری (د فتحې ستاسو دپاره) وَلِتَطۡمَئِنَّ بِهِۦ او د دې دپاره چې په دې سره مطمئين شي قُلُوبُكُمۡۚ زړونه ستاسو(چې فتحه د مسلمانانو په برخه ده) وَمَا ٱلنَّصۡرُ او(په حقيقت کې هیڅوک)کومک نشي کولای إِلَّا

مګر(فتح او مدد يوازې) مِنۡ عِندِ ٱللَّهِۚ د الله تعالى د طرف څخه دي إِنَّ ٱللَّهَ بېشکه الله تعالى عَزِيزٌ ډېر زورور حَكِيمٌ (او) حکيم دی. ﴿١٠﴾

چون کفارو په بدر کې د مسلمانانو څخه مخکې ښه ځايونه هم نيولې وو،او د اوبو خوا ته هم نيزدې وو،او مسلمانان چې په کوم ځای کې وو هغه ځای کې داسې شګه وه چې پښې به پکې ننوتلې،اوبه هم نه وې،نو د مسلمانانو په زړونو کې يو څه ويره او شيطاني وسوسې پيدا شوې،ځکه چې يو خواته د زرو کسانو مسلح او مجهز لښکر وو،او جنګي موقيعت يې هم ښه وو،او بل خوا ته ٣١٣ کسان مسلمانان وو چې د اکثرو سره سلاح هم نه وه او جنګي موقيعت يې هم ښه نه وو،نو طبيعي ده چې په داسې حالت کې انسان خپل شکست په سترګو ګورې،نو غيبي کومک راغئ،الله تعالى په مؤمنانو باندې د خوب پرکالې راوسته،کله يې چې سترګې وغړيدلې ټول تازه او خوشاله وو،او ويره يې بالکل ختمه شوې وه،او د آسمان څخه ئې وربانديې داسې باران راوورولو چې مؤمنانو ورته ډنډونه جوړ کړل،خپل لوښې يې د اوبو نه ډک کړل،اودسونه او غسلونه يې وکړل،شګې داسې کلکې شوې چې پښې وربانديې کلکيدلې يعنې قدمونه پکې نه ننوتل،خو د کفارو خوا ته داسې ختې او چکړې جوړې شوې چې هغوی به پکې خوئيدل.آيت ته توجه وکړئ!

إِذۡ (ياد کړئ هغه وخت) کله چې يُغَشِّيكُمُ هغه«جل جلاله» راوستله په تاسو ٱلنُّعَاسَ (د خوب) پرکالې أَمَنَةٗ (ستاسو د سکون او) د آمن دپاره مِّنۡهُ د هغه«جل جلاله» د طرف څخه وَيُنَزِّلُ او نازل ئې کړې عَلَيۡكُم په تاسو باندې مِّنَ ٱلسَّمَآءِ د آسمان څخه مَآءٗ اوبه لِّيُطَهِّرَكُم د دې دپاره چې پاک کړي تاسو بِهِۦ په دې(اوبو)سره وَيُذۡهِبَ او لرې کړي عَنكُمۡ ستاسو څخه رِجۡزَ پليتې (او وسوسې) ٱلشَّيۡطَٰنِ د

شيطان وَلِيَرۡبِطَ او د دې دپاره چې مضبوط(او قوى) کړي عَلَىٰ قُلُوبِكُمۡ
زړونه ستاسو وَيُثَبِّتَ او محکم(او کلک) کړي بِهِ په دې سره ٱلۡأَقۡدَامَ
قدمونه (ستاسو) ﴿۱۱﴾

إِذۡ يُوحِي رَبُّكَ إِلَى ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ أَنِّي مَعَكُمۡ فَثَبِّتُواْ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْۚ سَأُلۡقِي فِي قُلُوبِ
ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلرُّعۡبَ فَٱضۡرِبُواْ فَوۡقَ ٱلۡأَعۡنَاقِ وَٱضۡرِبُواْ مِنۡهُمۡ كُلَّ بَنَانٖ ﴿۱۲﴾
ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ شَآقُّواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥۚ وَمَن يُشَاقِقِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَإِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ
﴿۱۳﴾ ذَٰلِكُمۡ فَذُوقُوهُ وَأَنَّ لِلۡكَٰفِرِينَ عَذَابَ ٱلنَّارِ ﴿۱٤﴾

إِذۡ( ياد کړه هغه وخت) کله چې يُوحِي وحي وکړه رَبُّكَ رب ستا
إِلَى ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ ملائيکو ته أَنِّي چې: بېشکه زه مَعَكُمۡ ستاسو سره يم
فَثَبِّتُواْ نو تاسو محکم(او مضبوط) کړئ ٱلَّذِينَ هغه خلک ءَامَنُواْ چې
مؤمنان دي(د بدر په جنګ کې د کفارو په مقابل کې) سَأُلۡقِي زر ده چې
زه به واچوم فِي قُلُوبِ په زړونو کې ٱلَّذِينَ د هغو خلکو كَفَرُواْ چې
کافران دي ٱلرُّعۡبَ رعب (او ويره) فَٱضۡرِبُواْ نو وهئ تاسو فَوۡقَ
ٱلۡأَعۡنَاقِ څټونه(يعني اورميږونه) وَٱضۡرِبُواْ او وهئ تاسو مِنۡهُمۡ د
هغوی كُلَّ بَنَانٖ (هر بند او) ټولې ګوتې. ﴿۱۲﴾ ذَٰلِكَ دا بِأَنَّهُمۡ په دې
سبب چې دوی شَآقُّواْ مخالفت کړئ ٱللَّهَ د الله تعالى وَرَسُولَهُۥۚ او د
هغه«جل جلاله» د پيغمبر«صلى الله عليه وسلم» (د دين) وَمَن او
څوک (چې) يُشَاقِقِ مخالفت کوي ٱللَّهَ د الله تعالى وَرَسُولَهُۥ او د
هغه«جل جلاله»د پيغمبر«صلى الله عليه وسلم» (د دين) فَإِنَّ نو بېشکه
ٱللَّهَ الله تعالى شَدِيدُ سخت ٱلۡعِقَابِ عذاب ورکوونکئ دی(داسې خلکو
ته چې د الله تعالى او د نبى عليه السلام مخالفت کوي) ﴿۱۳﴾

ذَٰلِكُمۡ دا(خو) ستاسو(د دنيا جزا ده،ای د الله او د رسول دښمنانو) فَذُوقُوهُ
نو مزه يې وڅکئ وَ او(په دې هم پوه شئ) أَنَّ چې پرته د شک څخه

لِلۡكَٰفِرِينَ د كافرانو دپاره عَذَابَ عذاب ٱلنَّارِ د اور(هم شته دی،په جهنم کې،يعنې دا فکر مه کوئ چې همدا جزا ده ،مړه به شو،خاورې به شو،خبره به ختمه شي،نه بيا ژوند شته،نه حساب او نه کتاب او نه جزا،داسې هر ګز نه ده،بلکې:الله تعالى به مو بيرته راژوندې کړي او په جهنم کې به ستاسو د تصور د حد څخه هم ډېر سخت عذاب درکړي،داسې سخت عذاب چې نه به مړه کيږئ،او نه به يې تحمل او زغم کولای شئ. ) ﴿١٤﴾

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا لَقِيتُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ زَحۡفٗا فَلَا تُوَلُّوهُمُ ٱلۡأَدۡبَارَ ﴿١٥﴾ وَمَن
يُوَلِّهِمۡ يَوۡمَئِذٖ دُبُرَهُۥٓ إِلَّا مُتَحَرِّفٗا لِّقِتَالٍ أَوۡ مُتَحَيِّزًا إِلَىٰ فِئَةٖ فَقَدۡ بَآءَ بِغَضَبٖ مِّنَ ٱللَّهِ
وَمَأۡوَىٰهُ جَهَنَّمُۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ﴿١٦﴾ فَلَمۡ تَقۡتُلُوهُمۡ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ قَتَلَهُمۡۚ وَمَا رَمَيۡتَ إِذۡ
رَمَيۡتَ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ رَمَىٰ وَلِيُبۡلِيَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ مِنۡهُ بَلَآءً حَسَنًاۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٞ
﴿١٧﴾ ذَٰلِكُمۡ وَأَنَّ ٱللَّهَ مُوهِنُ كَيۡدِ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿١٨﴾ إِن تَسۡتَفۡتِحُواْ فَقَدۡ جَآءَكُمُ ٱلۡفَتۡحُۖ
وَإِن تَنتَهُواْ فَهُوَ خَيۡرٞ لَّكُمۡۖ وَإِن تَعُودُواْ نَعُدۡ وَلَن تُغۡنِيَ عَنكُمۡ فِئَتُكُمۡ شَيۡـٔٗا وَلَوۡ
كَثُرَتۡ وَأَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿١٩﴾

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ای هغو خلکو ءَامَنُوٓاْ چې ايمان يې راوړئ دی(يعنې ای مؤمنانو) إِذَا کله چې لَقِيتُمُ تاسو مخامخ کيږئ ٱلَّذِينَ د هغو خلکو سره كَفَرُواْ چې کافران دي زَحۡفٗا په جنګ کې فَلَا تُوَلُّو نو تاسو مه اړوئ هُمُ هغوی(يعنې کافرانو )ته ٱلۡأَدۡبَارَ شاګانې. ﴿١٥﴾ وَمَن او څوک يُوَلِّهِمۡ چې:هغه اړوي هغوی ته(يعنې کافرانو ته) يَوۡمَئِذٖ په هغه ورځ(چې د کافرانو سره جنګ وي.) دُبُرَهُۥٓ شاه خپله(يعنې د جنګ د ميدان نه د ځان د بچ کولو دپاره کور ته تښتي،خو) إِلَّا پر ته (د هغه کس څخه) مُتَحَرِّفٗا لِّقِتَالٍ چې جنګ ته بيرته ورګرځيدوونکئ وی أَوۡ مُتَحَيِّزًا إِلَىٰ فِئَةٖ يا د (خپلې)ډلې سره يو ځای کيدونکئ وي(يعنې يا دښمن

ته د دوکې ورکولو دپاره په دې نیت په شاه ځې،چې بیرته یو ناڅاپه د بل طرف څخه حمله وکړي،او یا د نورو ملګرو سره د یو ځای کیدلو دپاره په شا ځې،یعنې د جنګ د میدان څخه نه تښتي،صرف د جنګي تکتیک په خاطر په شاه ځې،نو پرته د دې دوه قسمه خلکو څخه نور چې څوک پرته د شرعي عذر څخه د جنګ څخه په دې خاطر په شا لاړ شي چې د مرګ نه بچ شي) فَقَدۡ نو بېشکه بَآءَ چې اخته شو هغه بِغَضَبٖ په غضب باندې مِّنَ ٱللَّهِ د الله تعالی وَمَأۡوَىٰهُ او د اوسیدلو ځای به د ده جَهَنَّمُۖ دوزخ وي وَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ او هغه(دوزخ)ډېر بد ځای د ورتللو دی. ﴿١٦﴾

د بدر په غزا کې د مؤمنانو تعداد ٣١٣ او د کفارو تعداد ١٠٠٠ کسان وو،د مؤمنانو سره جنګي وسایل کم وو او د کفارو سره پوره وو،کله چې سره دواړه لښکرې مخامخ شوي،پیغمبر« صلی الله علیه سلم»یو موټی شګې د دشمن د لښکر خواته ورویشتلې،او د دې سره سمدستي مؤمنانو د نبي علیه السلام په اشاره سره په کفارو باندې په یو وار حمله وکړه،الله تعالی مؤمنانو ته د ډېرې مایوسۍ او نااميدۍ په حالت کې ډېره لویه فتحه ورکړه،٧٠ کافران ووژل شو، ٧٠ بندیان شو،او د غنیمتونو مالونه په لاس ورغلل،کله چې جنګ ختم شو،مؤمنان کورونو ته روان وو،یو دبل سره یې خبرې کولې،هر یو به خپلې کارنامې بیانولې،چې ما داسې وکړل او ما داسې وکړل.اوس آیت ته توجه وکړئ!الله تعالی فرمایي!

فَلَمۡ تَقۡتُلُوهُمۡ تاسو نه دي وژلي هُمۡ هغوی(یعنې کفار) وَلَٰكِنَّ لیکن ٱللَّهَ الله تعالی قَتَلَهُمۡۚ وژلي دي هغوی(یعنې په خپل عمل فخر او ناز مکوئ،دا د الله تعالی د نصرت او کومک نتیجه ده،چې کفار ستاسو په لاسونو ووژل شو،په حقیقت کې هغوی تاسو نه دي وژلي بلکې الله تعالی وژلي دي.)

وَمَا رَمَيْتَ او تا نه دي ويشتلې إِذْ رَمَيْتَ كله چې تا ويشتل وکړل
وَلَٰكِنَّ ليكن ٱللَّهَ الله تعالى رَمَىٰ ويشتل کړي دي(يعني هغه شګې چې
تا وويشتلې د كفارو خوا ته هغه د كفارو لښكر او د كفارو ستركو ته الله
تعالى رسولې دي.دې كمزورو مسلمانانو ته دا دومره لويه فتحه،او د
كفارو څو چنده زيات مجهز لښكر ته چې الله تعالى شكست وركړو،دا )
وَلِيُبْلِيَ د دې دپاره چې:هغه«جل جلاله» امتحان کړي ٱلْمُؤْمِنِينَ مؤمنان
مِنْهُ د خپل طرف څخه بَلَآءً حَسَنًاۚ په ښه امتحان( الله تعالى خپل
بندګان كله په مصيبتونو او تكليفونو امتحانوي،او كله ئې په دولتونو او
راحتونو امتحانوي،«بلاء حسن» هغه امتحان ته وايې
چې:دولت،راحت،عزت،نصرت او فتحه وركړي،او امتحان ترې
اخلي،چې آيا دا خلک دا دولت،عزت،فتحه او كاميابي زما انعام ګڼي،او
شكر وباسي،او يا كه خپله كاميابي،دولت او عزت د خپل شخصي قابليت
او كمال نتيجه ګڼي،او تكبر او لويي يې په زړه كې پيداكيږي؟) إِنَّ ٱللَّهَ
بېشكه الله تعالى سَمِيعٌ اوريدونكئ عَلِيمٌ (او)پوه دى ﴿١٧﴾

ذَٰلِكُمْ وَأَنَّ ٱللَّهَ مُوهِنُ كَيْدِ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿١٨﴾ إِن تَسْتَفْتِحُوا۟ فَقَدْ جَآءَكُمُ ٱلْفَتْحُۖ وَإِن
تَنتَهُوا۟ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْۖ وَإِن تَعُودُوا۟ نَعُدْ وَلَن تُغْنِىَ عَنكُمْ فِئَتُكُمْ شَيْـًٔا وَلَوْ كَثُرَتْ
وَأَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٩﴾

ذَٰلِكُمْ دغه(فتحه د مؤمنانو د الله تعالى په مرسته وشوه) وَأَنَّ او بېشكه
چې ٱللَّهَ الله تعالى مُوهِنُ شنډونكئ دى كَيْدِ د پټو دسيسو ٱلْكَٰفِرِينَ
د كافرانو. ﴿١٨﴾

كله چې د مكې مشركان بدر ته راروانيدل نو د كعبې شريفې غلاف يې
ونيولو او دعا يې وكړه چې:يا الله د دواړو ډلو څخه چې هره ډله بهتره
وي، هغوى ته فتحه وركړي.خصوصاً اوبوجهل وويل چې:يا الله په مونږ

کې چې هر څوک په حقه وي،هغوی ته فتحه او کامیابي ورکړي،او هر څوک چې ظالم وي هغوی رسوا کړي،یعنې زمونږ په منځ کې په حق سره فیصله وکړي،اوس آیت ته توجه وکړئ!

«کافرانو ته ووایه» إِن تَسۡتَفۡتِحُواْ که تاسو فیصله غواړئ فَقَدۡ نو بیشکه جَآءَكُمُ راغله تاسو ته ٱلۡفَتۡحُۖ فیصله(د الله تعالی،څوک چې په حقه وو،فاتح او کامیاب شو او څوک چې ظالمان او په ناحقه وو هغوی مغلوب او ناکام شو،یعنې مسلمانان کامیاب او تاسو ناکام شوئ) وَإِن او که چیرته(پس د دې څخه هم) تَنتَهُواْ تاسو منع شئ(د کفر او جنګ څخه) فَهُوَ نو دا به خَيۡرٞ ډېر بهتر وي لَّكُمۡۖ ستاسو دپاره وَإِن او که چیرته(بیا هم) تَعُودُواْ تاسو وګرځئ (کفر ته او د مسلمانانو خلاف د جنګ اراده وکړئ،نو) نَعُدۡ مونږ(به هم)راوګرځو(د مؤمنانو کومک ته،یعنې مونږ به بیا هم د مؤمنانو سره مرسته او مدد وکړو،او تاسو ته به بیا سزا درکړو) وَلَن تُغۡنِيَ او لرې به نکړي عَنكُمۡ ستاسو څخه فِئَتُكُمۡ ډله ستاسو شَيۡـٔٗا هیڅ شی(د الله تعالی د عذاب څخه) وَلَوۡ كَثُرَتۡ اګر که زیات وي(شمیر ستاسو د ډلې،یعنې که تاسو فکر کوئ چې مونږ به ډېر کسان راشو او مؤمنان به ختم کړو،لیکن ستاسو د کسانو زیاتوالۍ به تاسو ته هیڅ ګټه ونکړي ځکه) وَأَنَّ چې بېشکه ٱللَّهَ الله تعالی مَعَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ د مؤمنانو سره دی. ﴿١٩﴾

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَلَا تَوَلَّوۡاْ عَنۡهُ وَأَنتُمۡ تَسۡمَعُونَ ﴿٢٠﴾

وَلَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ قَالُواْ سَمِعۡنَا وَهُمۡ لَا يَسۡمَعُونَ ﴿٢١﴾ ۞

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ ای مؤمنانو أَطِيعُواْ اطاعت کوئ ٱللَّهَ د الله تعالی وَرَسُولَهُۥ او د رسول د الله تعالی وَلَا تَوَلَّوۡاْ او مخونه مه ګرځوئ عَنۡهُ

د هغه «علیه السلام» څخه وَ په داسې کې أَنتُمۡ چې تاسو تَسۡمَعُونَ اورئ(د قرآنکريم آيتونه د هغه علیه السلام څخه) ﴿٢٠﴾

وَلَا تَكُونُواْ او تاسو مه کيږئ كَٱلَّذِينَ د هغو خلکو په شان قَالُواْ چې وايي سَمِعۡنَا مونږ واوريدل وَ حال دا چې هُمۡ هغوی لَا يَسۡمَعُونَ هيڅ نه اوري(يعني د زړه او عقل په غوږونو يې نه اوري،نه سمه توجه کوي او نه غور او فکر کوي،بس لکه د ځناورو په شان اواز اوري،خو نور ځان ته تکليف نه ورکوی،چې يا په خبره ځان پوه کړي،يا فکر وکړي او يا د عقل په رڼا کې منفي يا مثبت فيصله وکړي.په بل ځای کې الله تعالی فرمايي چې د ځناورو څخه هم بدتر دي،ځکه چې ځناور که توجه،غور او فکر نه کوي خو عقل نلري ليکن چې انسان د عقل سره-سره بيا هم د ځناورو په شان ځان بي عقله کړي،او په هر کار او فيصله کې د عقل په ځای خيټه استعمالوي،نو ځکه ورته قران د ځناورو نه هم بدتر وايي.﴿٢١﴾ ۞

إِنَّ شَرَّ ٱلدَّوَآبِّ عِندَ ٱللَّهِ ٱلصُّمُّ ٱلۡبُكۡمُ ٱلَّذِينَ لَا يَعۡقِلُونَ ﴿٢٢﴾

إِنَّ بيشکه شَرَّ بدترين ٱلدَّوَآبِّ د ژونديو مخلوقاتو عِندَ ٱللَّهِ د الله تعالی په وړاندې ٱلصُّمُّ (هغه) کاڼه ٱلۡبُكۡمُ (او) ګونګيان دي ٱلَّذِينَ چې هغوی لَا يَعۡقِلُونَ عقلونه نه استعمالوي(يعني پرته د غور او فکر او عقلي دلايلو څخه يا خبره مني او يايې ردوي،چې وروسته بيا پښيمانه وي.) ﴿٢٢﴾

وَلَوۡ عَلِمَ ٱللَّهُ فِيهِمۡ خَيۡرٗا لَّأَسۡمَعَهُمۡۖ وَلَوۡ أَسۡمَعَهُمۡ لَتَوَلَّواْ وَّهُم مُّعۡرِضُونَ ﴿٢٣﴾

وَلَوۡ او که چيرته عَلِمَ ٱللَّهُ د الله تعالی په علم کې فِيهِمۡ په دوی کې خَيۡرٗا څه د خير(يعني د حق طلب) وو لَّأَسۡمَعَهُمۡۖ (نو)خامخا به

هغه«جل جلاله» دوی ته د(حق د)اوریدلو توفیق ورکړئ و وَلَوۡ او که (په داسې حال کې چې په دوی کې د حق طلب نه و،نو که) أَسۡمَعَهُمۡ هغه جل جلاله دوی ته د حق د اوریدلو توفیق ورکړئ (هم) و لَتَوَلَّواْ (نو د حق د قبلولو څخه به) خامخا دوی مخ اړولئ وو(یعنې د حق خبرې خو به یې اوریدلې وې،لیکن نه به یې منلې وې،او نه به یې وربانديې ایمان راوړئ وو) وَّهُم او دوی دي مُّعۡرِضُونَ مخ اړونکي (د حق څخه) ﴿٢٣﴾

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱسۡتَجِيبُواْ لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمۡ لِمَا يُحۡيِيكُمۡۖ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ يَحُولُ بَيۡنَ ٱلۡمَرۡءِ وَقَلۡبِهِۦ وَأَنَّهُۥٓ إِلَيۡهِ تُحۡشَرُونَ ﴿٢٤﴾

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ای هغو خلکو ءَامَنُواْ چې ایمان مو راوړئ دی ٱسۡتَجِيبُواْ تاسو جواب ورکوئ لِلَّهِ الله تعالی ته وَلِلرَّسُولِ او پیغمبر« صلی الله علیه وسلم» ته إِذَا کله چې دَعَاكُمۡ هغه«صلی الله علیه وسلم)بلنه درکوي تاسو ته لِمَا هغه څه ته يُحۡيِيكُمۡۖ چې هغه ژوند درکوي تاسو ته(یعنې د دنیا ژوند خو مؤقتې دی،خو همیشه او خوشاله ژوند په جنت کې دی چې د الله تعالی او د نبي علیه السلام په اطاعت او حکم منلو سره حاصلیږي.) وَٱعۡلَمُوٓاْ او پوه شئ تاسو ( که د الله او د نبي علیه السلام اطاعت ونکړئ او خبره یې ونه منئ،نو) أَنَّ ٱللَّهَ بیشکه چې الله تعالی يَحُولُ حائل(پرده) کیږي بَيۡنَ ٱلۡمَرۡءِ په منځ د انسان وَقَلۡبِهِۦ او د هغه د زړه کې (یعنې که د قرآن او سنتو اطاعت نه کوئ،او عمل پرې نه کوئ،ګناهونه کوئ او توبه نه وباسئ،نو الله تعالی به ستاسو د ګناهونو په سبب ستاسو په زړونو مهرونه ولګوي،ځکه چې د الله تعالی د حکمونو نه انکار او نه منل کفر دی،کله چه بنده د الله تعالی د حکم خلاف کار یعنی عمل وکړي نو کفر او ګناه یې وکړه،چه د دي ګناه په سبب په زړه کې یو

تور داغ جوړيږي،مګر که توبه وباسي نو بيرته لري کيږي.خو که توبه ونه ويستل شي نو دا تور داغ پخپله نه لرې کيږي او پاتې کيږي،نو که بنده بيا دوباره ګناه وکړي،د مخکې په شان بيا په زړه کې بل تور داغ جوړيږي چه بيا هم د توبې په واسطه د منځه ځي خو که توبه ونه ويستل شي دا تور داغ هم پاتې کيږي،او زړه ورو ورو سختيږي،او که کفر او ګناه کول همداسې دوام وکړي او توبه ونه ويستل شي ،بالآخره يو وخت راځي چې ټول زړه تک تور او دومره سخت شي،چې نور نو د هدايت رڼا دننه نه ورننوځي،نصيحت او دعوت ورباندې اثر نه کوي ،يعنی کله چې د بنده زړه دې مرحلې ته ورسيږي، نو که داسې کس ته دعوت ورکول شي او که ورنه کول شي،هغه نور ايمان نه راوړي.د زړه دا سخت او کلک حالت په قرآن شريف کې په لسو(۱۰) لقبونو سره ياد شوئ دی چې د دغو لسو لقبونو څخه يو لقب ختم(مهر)دی چې:د دوامداره کفر او ګناه کولو په سبب په زړه لړول کيږي ،يعنی د دوامداره ګناه کولو او کفر په سبب د بنده په زړه مُهر لړول کيږي،نه دا چې بنده ځکه کفر او ګناه کوي چې د هغه په زړه مُهر لړيدلئ دی.لکه چې په همدې موضوع باندې په بل ځای کې فرمائي: بَلْ طَبَعَ اللَّهُ عَلَيْهَا بِكُفْرِهِمْ (سورةالنساء آيت ۵۵)ترجمه:بلکې مهر لګولئ دی الله تعالی په(زړونو)د دوی باندې په سبب د کفر د دوی.)

وَأَنَّهُۥٓ إِلَيۡهِ او بېشکه چې هغه«جل جلاله» ته به تُحۡشَرُونَ تاسو ورجمع کيږئ. ﴿۲٤﴾

وَٱتَّقُواْ فِتۡنَةٗ لَّا تُصِيبَنَّ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ مِنكُمۡ خَآصَّةٗۖ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ﴿۲٥﴾

دا آيت د امر بالمعروف او نهي عن المنکر په باره کې دی.

وَٱتَّقُواْ او تاسو وویریږئ فِتۡنَةٗ د داسې عذاب څخه لَّا تُصِيبَنَّ چې هغه به نه رسیږي ٱلَّذِينَ هغو خلکو ته ظَلَمُواْ چې هغوی ظلم(او ګناه) کړي ده مِنكُمۡ د ستاسو ځینې خَآصَّةٗۖ یوازې (یعنې که په یوه ټولنه کې نیک خلک بد خلک د ګناه څخه نه منع کوي یعني په نیکو کارونو امر او د بدو کارونو څخه منع نه کوي،نو په داسې ټولنو کې عذاب یوازې په ګناهګارانو باندې نه راځي بلکې په نیکانو او بدانو دواړو راځي،) وَٱعۡلَمُوٓاْ او تاسو پوه شئ أَنَّ ٱللَّهَ چې بېشکه الله تعالی شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ سخت عذاب ورکونکۍ دی(په دنیا او آخرت کې) ﴿٢٥﴾

وَٱذۡكُرُوٓاْ إِذۡ أَنتُمۡ قَلِيلٞ مُّسۡتَضۡعَفُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ تَخَافُونَ أَن يَتَخَطَّفَكُمُ ٱلنَّاسُ فَـَٔاوَىٰكُمۡ وَأَيَّدَكُم بِنَصۡرِهِۦ وَرَزَقَكُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ﴿٢٦﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَخُونُواْ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ وَتَخُونُوٓاْ أَمَٰنَٰتِكُمۡ وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ﴿٢٧﴾ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّمَآ أَمۡوَٰلُكُمۡ وَأَوۡلَٰدُكُمۡ فِتۡنَةٞ وَأَنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥٓ أَجۡرٌ عَظِيمٞ ﴿٢٨﴾

په دې مبارک آیت کې الله تعالی خپل احسانات مؤمنانو ته وریادوي چې شکر وباسې.په ابتداء کې مسلمانان په مکه کې ډېر کم او کمزوري وو،هر وخت به ویریدل چې کافران ورباندې حمله ونکړي،او ختم یې نکړي، ځکه چې ټولو عربو به وخت په وخت اراده کوله چې حمله پرې کوو او ټول ختموو،نو الله تعالی یې تعداد زیات کړو، او په مدینه منوره کې یې پناه ورکړه،قوت ئې ورکړو،او د بدر په غزا کې ئې د ملائیکو په واسطه د دوی مرسته وکړه،د غنیمت مال یې ورته حلال کړو،او د دوی تنګدستې ئې لرې کړه.اوس آیت ته توجه وکړئ!

وَٱذۡكُرُوٓاْ او(ای مؤمنانو) یاد کړئ هغه وخت إِذۡ أَنتُمۡ کله چې وئ تاسو قَلِيلٞ لږ مُّسۡتَضۡعَفُونَ (او)کمزوري فِي ٱلۡأَرۡضِ په ځمکه کې تَخَافُونَ او ویریدلئ تاسو أَن چې يَتَخَطَّفَكُمُ تاسو به وتښتوي ٱلنَّاسُ

خلک(يعني کفار به دربانديِ حمله وکړي) فَـَٔاوَىٰكُمۡ نو هغه«جل جلاله»
ځای درکړو (په مدينه منوره کې) وَأَيَّدَكُم او قوت(او طاقت ئې درکړو)
تاسو ته بِنَصۡرِهِۦ په خپل کومک سره(يعني د بدر په جنګ کې يې د
ملائيکو په واسطه ستاسو مرسته وکړه او فتحه مو وکړه) وَرَزَقَكُم او
رزق يې درکړو تاسو ته مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ د پاکو شيانو څخه(يعني د غنيمت
مال يې درته حلال کړو) لَعَلَّكُمۡ د دې دپاره چې تاسو تَشۡكُرُونَ شکر
وباسئ.(نو) ﴿٢٦﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ اى هغو خلکو ءَامَنُواْ چې ايمان مو
راوړئ دی لَا تَخُونُواْ خيانت مه کوئ تاسو ٱللَّهَ د الله تعالى سره
وَٱلرَّسُولَ او د پيغمبر(صلى الله عليه وسلم سره وَتَخُونُوٓاْ او (خيانت)
مه کوئ أَمَٰنَٰتِكُمۡ په خپلو امانتونو کې(يعني په حقوق الله او حقوق العباد
کې خيانت مه کوئ) وَ حال دا دی أَنتُمۡ چې تاسو تَعۡلَمُونَ پوهيږئ
(چې خيانت ډېر بد کار او ګناه ده) ﴿٢٧﴾

وَٱعۡلَمُوٓاْ او پوه شئ تاسو أَنَّمَآ چې په حقيقت کې أَمۡوَٰلُكُمۡ مالونه
ستاسو وَأَوۡلَٰدُكُمۡ او اولادونه ستاسو فِتۡنَةٞ فتنه(او امتحان) دی(يعني کله
چې د مال او اولاد په محبت کې راشئ نو د الله تعالى او د نبي عليه
السلام د احکامو په تعميل کې درڅخه کوتاهي او خيانت کيږي،او په خپلو
منځونو کې د خلکو په حقوقو کې هم درڅخه خيانت کيږي،خو که څوک د
مال او اولاد په محبت کې د الله تعالى او بندګانو په حقونو کې خيانت ونه
کړي،نو) وَأَنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥٓ بيشکه د الله تعالى سره(د داسې خلکو دپاره
أَجۡرٌ عَظِيمٞ ډېر لوی آجر دی. ﴿٢٨﴾

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تَتَّقُواْ ٱللَّهَ يَجۡعَل لَّكُمۡ فُرۡقَانٗا وَيُكَفِّرۡ عَنكُمۡ سَيِّـَٔاتِكُمۡ وَيَغۡفِرۡ
لَكُمۡۗ وَٱللَّهُ ذُو ٱلۡفَضۡلِ ٱلۡعَظِيمِ ﴿٢٩﴾

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ اى هغو خلكو ءَامَنُوٓاْ چې ایمان مو راوړئ دى إِن كه
چیرته تَتَّقُواْ تاسو وویریږئ ٱللَّهَ د الله تعالی څخه يَجۡعَل (نو)
هغه«جل جلاله» به درکړي لَّكُمۡ تاسو ته فُرۡقَانٗا فرقان(یعني د ښو او
بدو کارونو په منځ کې د فرق کولو تمیز او صلاحیت) وَيُكَفِّرۡ او هغه
«جل جلاله» به لرې کړي عَنكُمۡ ستاسو څخه سَيِّـَٔاتِكُمۡ گناهونه
ستاسو وَيَغۡفِرۡ او هغه«جل جلاله» به بخنه وکړي لَكُمۡۗ تاسو ته وَٱللَّهُ
او الله تعالی ذُو خاوند ٱلۡفَضۡلِ ٱلۡعَظِيمِ د لوی فضل دی. ﴿٢٩﴾

وَإِذۡ يَمۡكُرُ بِكَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِيُثۡبِتُوكَ أَوۡ يَقۡتُلُوكَ أَوۡ يُخۡرِجُوكَۚ وَيَمۡكُرُونَ
وَيَمۡكُرُ ٱللَّهُۖ وَٱللَّهُ خَيۡرُ ٱلۡمَٰكِرِينَ ﴿٣٠﴾

کله چې د مدینې منورې د خلکو یعنې د انصارو د اسلام د قبلولو څخه کفار خبر شو،نو د مکې کافران په ویره کې شو،غونډه یې وکړه،او ویې ویلې چې:مخکې د دې څخه چې اسلام نور مخکې لاړ شي،باید چې د همیشه دپاره یې مخنیوئ وشي،د جرگې یا غونډې خلکو مختلف نظرونه ورکول،یو نظر دا وو چې: محمد«صلی الله علیه وسلم»باید بندي شي او د مرگ پورې باید د زندان څخه خوشي نه شي.دوهم نظر دا و چې:د مکې څخه دې وویستل شي.دریم نظر چې ابوجهل ورکړو داسې و چې باید ووژل شي،او د وژلو طریقه یې هم باید داسې وي چې:د هرې قبیلې یو-یو ځوان باید په قتل کې برخه واخلي،او په یو ځل باید په هغه علیه السلام حمله وکړي او ویې وژني،چې په دې ترتیب به د هغه علیه السلام خاندان بني هاشم نشي کولای چې د ټولو قریشو سره د انتقام د اخستلو دپاره جنگ وکړي،او که دیت غواړي نو ټول به په شریکه سل اوښان ورکړو،د ابو جهل په دې نظر او تدبیر ټولو موافقه وکړه،او ۱۵ ځوانان د مختلفو قبیلو څخه د محمد«صلی الله علیه وسلم» وژلو دپاره تیار شو،او

فيصله يې وكړه چې د شپې به يې په كور باندې حمله كوو او وژنو به يې.الله تعالى د جبرائيل عليه السلام په واسطه د كفارو د دسيسي څخه نبي عليه السلام خبر كړو،او د هجرت امر ورته وشو،نبي عليه السلام حضرت علي رضى الله عنه ته په خپله بستره كې د څملاستلو حكم وكړو،او پخپله د شپې په تياره كې د كور څخه ووتلو،او د ابوبكر صديق رضى الله عنه كور ته او د هغې ځاى څخه غار ثور ته لاړل،او د درې ورځو څخه وروسته د غار ثور څخه مدينې منورې ته لاړل.اوس آيت ته توجه وكړئ!

وَإِذۡ او (ياد كړه هغه وخت) كله چې: يَمۡكُرُ دسيسي جوړولې بِكَ ستا په باره كې ٱلَّذِينَ هغو خلكو كَفَرُواْ چې كافران وو لِيُثۡبِتُوكَ د دې دپاره چې بندې كړي تا أَوۡ يَقۡتُلُوكَ يا ووژني تا أَوۡ يُخۡرِجُوكَۚ يا وباسي تا(د مكې څخه) وَيَمۡكُرُونَ هغوى (خپل) تدبيرونه كول وَيَمۡكُرُ ٱللَّهُۖ او الله تعالى خپل تدبير كاوه وَٱللَّهُ او الله تعالى خَيۡرُ ٱلۡمَٰكِرِينَ تر ټولو ډېر ښه تدبير كوونكئ دى. ﴿٣٠﴾

وَإِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتُنَا قَالُواْ قَدۡ سَمِعۡنَا لَوۡ نَشَآءُ لَقُلۡنَا مِثۡلَ هَٰذَآ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّآ أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿٣١﴾

وَإِذَا او كله چې: تُتۡلَىٰ لوستل كيږي عَلَيۡهِمۡ په دوى باندې(يعني كفارو باندې) ءَايَٰتُنَا آيتونه زمونږ قَالُواْ وايي دوى قَدۡ يقيناً سَمِعۡنَا مونږ واوريدل لَوۡ (خو) كه چيرته نَشَآءُ مونږ (هم) وغواړو لَقُلۡنَا خامخا به مونږ (هم) ووايو(يعني مونږ به هم جوړ كړو) مِثۡلَ په شان هَٰذَآ د دې(قران غوندې كلام.يعني كه مونږ هم وغواړو د قرآنكريم د كلام په شان آيتونه جوړولاى شو،او) إِنۡ هَٰذَآ نه دى دا(قران د الله تعالى كلام) إِلَّآ مګر أَسَٰطِيرُ قصې دي ٱلۡأَوَّلِينَ د پخوانيو خلكو. (ليكن دا

صرف د دوی هسې خبرې دي چې د منافقت او شيطانت څخه يې کوي ليکن حقيقت دا دی چې:قرآن ټولو منکرينو او کفارو ته چلنج ورکړئ دی،که چيرته تاسو په دې خبره کې په شک کې ياستئ چې قرآن د الله تعالی کتاب دی،نو د قرآنکريم د يو سورت په شان سورت جوړ کړئ،خو الحمدلله په دې ۱۴۰۰ کلونو کې نه چا دا کار کړئ دی،نه يې اوس څوک کولای شي،او نه به يې د قيامت پورې څوک وکړي.)﴿۳۱﴾

وَإِذْ قَالُواْ ٱللَّهُمَّ إِن كَانَ هَٰذَا هُوَ ٱلْحَقَّ مِنْ عِندِكَ فَأَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِّنَ ٱلسَّمَآءِ أَوِ ٱئْتِنَا بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿۳۲﴾وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنتَ فِيهِمْ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ ﴿۳۳﴾ وَمَا لَهُمْ أَلَّا يُعَذِّبَهُمُ ٱللَّهُ وَهُمْ يَصُدُّونَ عَنِ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ وَمَا كَانُوٓاْ أَوْلِيَآءَهُۥٓ إِنْ أَوْلِيَآؤُهُۥٓ إِلَّا ٱلْمُتَّقُونَ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿۳٤﴾ وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمْ عِندَ ٱلْبَيْتِ إِلَّا مُكَآءً وَتَصْدِيَةً فَذُوقُواْ ٱلْعَذَابَ بِمَا كُنتُمْ تَكْفُرُونَ ﴿۳٥﴾

لکه چې ذکر شو چې د قرآن د نزول په زمانه کې هم کفارو لکه نضر بن الحارث او نورو دا خبرې کولې،او اوس هم کفار داسې خبرې کوي چې نعوذ بالله قرآن پخوانی قصې دي،د الله تعالی کلام نه دی،او محمد«صلی الله عليه وسلم ليکلئ دی،او که مونږ هم وغواړو داسې کلام جوړولئ شو،نو قرآن د قيامت پورې ټولو کفارو ته چلنج ورکړو،چې ټول قرآن خو ډېره لويه خبره ده،صرف يو سورت د قرآن په شان جوړ کړئ،که تاسو رښتيا وايئ،خو الحمد لله نه تر اوسه چا جوړ کړئ دی او نه به يې د قيامت پورې جوړ کړي،خو دا هسې د دوی منافقت وو،او دی،ځکه دوی ښه په دې پوهيدل او پوهيږي،چې په دنيا کې هيڅ چا هم د قرآن په شان يو سورت نه دی جوړ کړئ،خو بيا هم دا خبرې يې کولې او کوي يې،د دې دپاره چې خلک د اسلام د قبلولو څخه منع شي،او د مسلمانو په

زړونو کې هم شکونه پیدا کړي،چې ځینې د قرآن او دین څخه بي خبره میراثي مسلمانان د دوی په خبرو کې راځي،شکونه ورته پیدا کیږي،او ځینې خو د همدوی په شان خبرې هم کوي.اوس قران د دوی یو بل شیطانت بیانوي،د دې دپاره چې دوی د الله تعالی د بندګانو په زړونو کې شکونه واچوي،لکه چې د قرآن د نزول په زمانه کې به کفارو هم لکه نضر بن الحارث او ابو جهل د خلکو د ګمراه کولو دپاره دا خبرې کولې او اوس یې هم د قرآن دښمنان کوي چې:که چیرته قرآن په ربنتیا د الله تعالی کلام وي،نو چې مونږ یې نه منو، نو ولې په مونږ د الله تعالی عذاب نه راځي؟آیت ته توجه وکړئ!

وَإِذۡ او کله چې: قَالُواْ وویلې دوی(یعني کفارو) ٱللَّهُمَّ یا الله إِن كَانَ که چیرته وي هَٰذَا هُوَ ٱلۡحَقَّ دا (قرآن) حق مِنۡ عِندِكَ د ستا د طرف څخه فَأَمۡطِرۡ نو ته راوورروه عَلَيۡنَا په مونږ باندې حِجَارَةٗ تیږې مِّنَ ٱلسَّمَآءِ د آسمان څخه أَوِ یا ٱئۡتِنَا راوله په مونږ بِعَذَابٍ أَلِيمٖ یو درد ناک عذاب(یعني مشرکانو به د خلکو د مطمئن کولو دپاره دا خبرې کولې چې وګورئ که قرآن حق و،نو په مونږ به اوس عذاب راغلئ و،نو د عذاب نه راتلل د دی معنی ده چې:نعوذبالله دا د الله تعالی کلام نه دی او محمد«صلی الله علیه وسلم» پخپله لیکلئ دی.) . ﴿٣٢﴾

الله تعالی فرمایې!

وَمَا كَانَ ٱللَّهُ او الله تعالی داسې نه دی لِيُعَذِّبَهُمۡ چې عذاب ورکړي **دوی ته** وَ **په داسې حال کې** أَنتَ فِيهِمۡۚ **چې** ته په هغوی کې ئې(ای محمد«صلی الله علیه و سلم») وَمَا كَانَ ٱللَّهُ او الله تعالی نه دی مُعَذِّبَهُمۡ هغوی ته عذاب ورکوونکئ وَهُمۡ په داسې حال کې چې هغوی يَسۡتَغۡفِرُونَ بخښنه غواړي(مشرکانو به هم په طواف کې د«غُفرَانَکَ» لفظ

ويلو،او بل قول دا دی چې د دې ښځه مؤمنان مراد دي چې د کمزورئ په سبب يي هجرت نه وو کړئ،يعني په کومه ټولنه کې چې د حق داعي او استغفار ويونکي موجود وي،الله تعالی وربانديې داسې عام عذاب نه راولي چې ټول هلاک شي لکه د نوح عليه السلام قوم او د هود عليه السلام قوم«عاديان»،مطلب دا دی چې هغوی په دې دوه سببونو د الله تعالی د عذاب ښځه بچ وو،) ﴿٣٣﴾ وَمَا لَهُمۡ او(كه نه نو د) دوی دپاره څه(امتياز)دی(يعني دوی څه امتياز لري) أَلَّا يُعَذِّبَهُمُ ٱللَّهُ چې الله تعالى به هغوی ته عذاب نه ورکوي وَهُمۡ په داسې حال کې چې هغوی يَصُدُّونَ منع کوی (خلک) عَنِ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ د مسجد الحرام ښځه وَمَا كَانُوٓاْ په داسې حال کې چې دوی نه دي أَوۡلِيَآءَهُۥٓۚ واکداران د دې(يعني وليان د دې مسجد،او) إِنۡ أَوۡلِيَآؤُهُۥٓ (هيڅوک) نه دي واکداران د دې(يعني هيڅوک نه دي وليان د دې مسجد) إِلَّا مګر (يوازې) ٱلۡمُتَّقُونَ متقيان (او پرهيزګاران يې واكداران دي) وَلَٰكِنَّ ليكن أَكۡثَرَهُمۡ اكثره د هغوی(يعني مشرکانو) لَا يَعۡلَمُونَ نه پوهيږي(په دې خبره چې د مسجد حرام واكداران صرف پرهيزګاران دي،خو د مشرکانو پرهيزګاري او تقوا داسې وه چې:) ﴿٣٤﴾ وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمۡ چې نه وو لمونځونه د دوی عِندَ ٱلۡبَيۡتِ د بيت الله سره إِلَّا مګر مُكَآءٗ شپيلې وهل وَتَصۡدِيَةٗۚ او لاسونه پړقول وو(يعني دا د دوی لمونځ او عبادت وو چې په طواف کې به يې شپيلې وهل،او لاسونه به يې پړقول.).

لکه چې ذکر شو چې: په کومه ټولنه کې چې پيغمبر يا د پيغمبر وارثان(علماء)، د حق داعيان او استغفار ويونکي موجود وي،او د حق دعوت جاري وي،نو الله تعالی په داسې خلکو د هغوی د ګناهونو په سبب داسې عام عذاب نه راولي چې ټول ختم شي،ليکن خاص عذاب په دنيا کې هم ورکوي او په آخرت کې هم،لکه څنګه چې د مکې مشرکانو ته د بدر

په غزا کې ورکول شو،یعني ټول خو ختم نه شو مګر خاص -خاص
کسان چې د قرآن او نبي علیه السلام لوی دښمنان وو،د ابوجهل په شمول
د مشرکانو (۷۰) سرداران ووژل شول. الله تعالی فرمايي!

فَذُوقُواْ نو وڅکئ ٱلۡعَذَابَ عذاب بِمَا كُنتُمۡ تَكۡفُرُونَ په سبب د هغه کفر
چې تاسو کولو( دا خو يې د دنیا د عذاب څکل وو،او نور عذاب به په
جهنم کې څکې.) ﴿۳۵﴾

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يُنفِقُونَ أَمۡوَٰلَهُمۡ لِيَصُدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۚ فَسَيُنفِقُونَهَا ثُمَّ تَكُونُ
عَلَيۡهِمۡ حَسۡرَةٗ ثُمَّ يُغۡلَبُونَۗ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِلَىٰ جَهَنَّمَ يُحۡشَرُونَ ﴿۳۶﴾

إِنَّ ٱلَّذِينَ بیشکه هغه خلک كَفَرُواْ چې کافران دي يُنفِقُونَ هغوی
مصرفوي أَمۡوَٰلَهُمۡ مالونه خپل لِيَصُدُّواْ د دې دپاره چې منع
کړي(خلک) عَن سَبِيلِ د لارې ٱللَّهِۚ د الله تعالی څخه فَسَيُنفِقُونَهَا نو
زر ده چې دوی به مصرف کړي دا(مالونه خپل د مسلمانانو په
خلاف،خو) ثُمَّ تَكُونُ وروسته به شي(دغه مصرفول د مال د هغوی د
مسلمانانو په خلاف) عَلَيۡهِمۡ دوی ته حَسۡرَةٗ (سبب) د پښیمانتیا (او
افسوس،او) ثُمَّ بیا به يُغۡلَبُونَۗ مغلوب(او کمزورې شي) وَٱلَّذِينَ او
هغه خلک كَفَرُوٓاْ چې هغوی کفر کړئ دی(او اسلام او مسلمانانو ته د
ضرر رسولو دپاره يې مالونه مصرف کړي دي،نو دوی ټول به) إِلَىٰ
جَهَنَّمَ جهنم ته يُحۡشَرُونَ ورټولیږي. ﴿۳۶﴾

لِيَمِيزَ ٱللَّهُ ٱلۡخَبِيثَ مِنَ ٱلطَّيِّبِ وَيَجۡعَلَ ٱلۡخَبِيثَ بَعۡضَهُۥ عَلَىٰ بَعۡضٖ فَيَرۡكُمَهُۥ
جَمِيعٗا فَيَجۡعَلَهُۥ فِي جَهَنَّمَۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ﴿۳۷﴾

هغوی چې د اسلام څخه د خلکو د منع کولو دپاره کار کوي او مالونه
مصرفوي،نو دوی به په جهنم کې راجمع شي کړي.

لِيَمِيزَ د دې دپاره چې بیل کړي ٱللَّهُ الله تعالی ٱلۡخَبِيثَ ناپاکه(کافران) مِنَ ٱلطَّيِّبِ د پاکو(مؤمنانو) څخه وَيَجۡعَلَ او کيږدې ٱلۡخَبِيثَ ناپاکه(کافران) بَعۡضَهُۥ عَلَىٰ بَعۡضٖ ځینې د ځینو دپاسه (یعني یو به د بل دپاسه کیږدي) فَيَرۡكُمَهُۥ جَمِيعٗا نو ټول به یو دبل دپاسه کیږدي فَيَجۡعَلَهُۥ فِي جَهَنَّمَۚ بیا به یې په جهنم کې واچوي أُوْلَٰٓئِكَ دغه خلک هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ همدوی تاوانیان دي ﴿۳۷﴾

قُل لِّلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِن يَنتَهُواْ يُغۡفَرۡ لَهُم مَّا قَدۡ سَلَفَ وَإِن يَعُودُواْ فَقَدۡ مَضَتۡ سُنَّتُ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿۳۸﴾

قُل ته ووایه لِّلَّذِينَ هغو خلکو ته كَفَرُوٓاْ چې کفر یې کړئ دی(او د اسلام او د مسلمانانو د ختمولو دپاره یې کوششونه کړي دي او مالونه یې مصرف کړي دي،) إِن که چیرته يَنتَهُواْ منع شي هغوی (د کفر څخه،ایمان راوړي او توبه وباسي،نو) يُغۡفَرۡ وبه ببنل شي لَهُم هغوی ته مَّا هغه(ګناهونه) قَدۡ سَلَفَ چې مخکې تیر شوي دي(یعني کوم ګناهونه یې چې مخکې کړي دي هغه به ورته وببنل شي) وَإِن او که چیرته يَعُودُواْ (کفر ته) وګرځي(او په ځاني او مالي تاوانونو سره د اسلام او مسلمانانو د منځه وړلو کوششونه شروع کړي) فَقَدۡ نو بیشکه مَضَتۡ تیره شوي ده سُنَّتُ طریقه ٱلۡأَوَّلِينَ د مخکینیو(خلکو، یعني د مخکینیو کفارو په شان به دنیاوي او اخروي عذاب ورکول شي ) ﴿۳۸﴾

وَقَٰتِلُوهُمۡ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتۡنَةٞ وَيَكُونَ ٱلدِّينُ كُلُّهُۥ لِلَّهِۚ فَإِنِ ٱنتَهَوۡاْ فَإِنَّ ٱللَّهَ بِمَا يَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ﴿۳۹﴾ وَإِن تَوَلَّوۡاْ فَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ مَوۡلَىٰكُمۡۚ نِعۡمَ ٱلۡمَوۡلَىٰ وَنِعۡمَ ٱلنَّصِيرُ ﴿۴۰﴾

په آیت د پوهیدلو دپاره معلومات.

د مكي مشركانو او كفارو به په مسلمانانو ډېر ظلمونه كول،اول خو به يي كوششونه كول چې د دين څخه يې بيرته واړوي،خو كه د ډېرو ظلمونو سره-سره به يې بيا هم د دين څخه بيرته ونه ګرځولو نو بيا به يي لمونځ او عبادت ته نه پريښودل،د كورو څخه يې وويستل،دومره يې مجبور كړل چې حبشې او بالاخره مدينې منورې ته يې هجرت وكړو،ليكن بيا هم كمزوري مسلمانان چې د هجرت وسه يې نه وه هغوی په مكه كې پاتې وو،او مشركانو به وربانديې ظلمونه كول، خو په دې يې هم قهر او دښمني سړه نه شوه،او د مسلمانانو د ختمولو دپاره يې لوی لښكر برابر كړو او د مدينې منورې په طرف راروان شو،مسلمانانو ته هم د الله تعالى د طرف څخه د جنګ اجازه او هدايت وركول شول،دواړه لښكرې په بدر كې سره مخامخ شوې! الله تعالى فرمايې:

وَقَٰتِلُو او وجنګيږئ هُمۡ د دوی سره(يعني د مشركانو او كفارو سره) حَتَّىٰ د هغې پورې لَا تَكُونَ فِتۡنَةٞ چې فتنه پاتې نشي(يعني چې مسلمانان ازاد شي،او د كفارو او مشركانو د ظلمونو څخه خلاص شي،ازاد او ښكاره لمونځ او عبادت وكړي) وَيَكُونَ او شي ٱلدِّينُ دين كُلُّهُۥ لِلَّهِۚ ټول د الله تعالى(يعني د هغې پورې مشركانو او كفارو سره جنګيږئ تر څو پورې چې د حرم په ځمكه كې صرف يوازې د الله تعالى دين پاتې شي،ځكه چې بيت الله د ټولې دنيا دپاره د توحيد مركز دی،چې د الله تعالى په فيصله او حكم سره ابراهيم عليه السلام او اسماعيل عليه السلام جوړ كړئ و،خو د مكې مشركانو په كې ۳۶۰ بتان ايښې وو،او د الله تعالى سره يې د لات،منات او عزا عبادتونه هم كول،نو دا د الله تعالى فيصله وه چې د نبي اخرازمان په تشريف راوړلو سره دې دا د توحيد مركز د هميشه دپاره د مشركانو او كفارو څخه پاک شي،او د قيامت پورې دې په دې ځمكه باندې يوازې د الله تعالى دين وي،يعنې په دې

مبارک آیات کې مطلب د عربو څمکه ده په کومه کې چې د ټولې دنیا د
توحید مرکز بیت الله موجود دی.) فَإِنِ او که چیرته ٱنتَهَوۡاْ هغوی منع
شي(یعني که مشرکان او کفار،د کفر او شرک څخه منع شي،جنګ بند
کړي،ایمان راوړي،او د صلحې غوښتنه وکړي،نوتاسو دا مه وایئ چې
دوی د ځانونو د بچ کولو دپاره اوس ایمان راوړي،بلکې د دوی ظاهرې
ایمان راوړل قبول کړئ،جنګ بند کړئ،او صلحه وکړئ،دا چې:واقعاً د
هغوی په زړونو کې څه دي؟) فَإِنَّ ٱللَّهَ نو بېشکه چې الله تعالی بِمَا
په هغه څه باندې يَعۡمَلُونَ چې هغو يې کوي بَصِيرٞ ښه ليدونکئ
دی(یعني الله تعالی ته د هغوی په زړونو کې پټې ارادې، پټې خبرې او
هر څه چه کوي ښکارې،نو تاسو مه ویرېږئ) ﴿٣٩﴾ وَإِن او که چیرته
تَوَلَّوۡاْ بیرته وګرځې(یعني که بیر ته کفر ته وګرځې،او جنګ شروع
کړي) فَٱعۡلَمُوٓاْ نو پوه شئ تاسو أَنَّ ٱللَّهَ چې بېشکه الله تعالی مَوۡلَىٰكُمۡۚ
ستاسو ساتونکئ دی نِعۡمَ ٱلۡمَوۡلَىٰ ډېر ښه ساتونکئ وَنِعۡمَ ٱلنَّصِيرُ او
ډېر ښه مرسته کوونکئ دی. ﴿٤٠﴾